منبع الجهاد

علمي او جهادي مياشتنۍ خپرونه



الحاج مولانا جلال الدين حقاني ډله
دالنصيبی سره په مرکه کې

افغان مجاهد ولس د
نړۍوالو ملتونو په ګډون
هيڅ بيروني قوت ته د
هيواد په داخلي چارو کې
د لاسوهنې اجازه نشي
ورکولی .

Ahmad Shah Vardak

روس -امريکا
دواړه دجهاد
پرضد په توطئو
اوسا شونولګيادي
ځک چو افغانان
غوندو
ه هيڅ توقع اواميد نلري.

دخوست ښار د محاصرې کړۍ ورځ په ورځ تنګيږي

دعبدالله بن مبارک (رض)
دحربي پوهنتون له قوماندان
سره مرکه

بسم الله الرحمن الرحيم

الٰهی فرمان

ژباړه : ای مؤمنانو! خپل پلرونه اوورونه هم خپل دوستان مه نیسئ که هغوی په ایمان باندې کفرته ترجیح ورکړي . له تاسې نه چې څوک هغوی په دوستۍ ونیسي همغوی به ظالمان وي .

ای پیغمبره! ووایه چې که ستاسې پلرونه ، ستاسې زامن ، ستاسې ورونه ، ستاسې مېرمنې ، ستاسې خپل خپلوان ، ستاسې هغه مالونه چې تاسې ګټلي دي ، ستاسې هغه تجارت چې د هغه په وړانیدو اندېښمن کېږئ او ستاسې دخوښې کورونه تاسې ته له الله اود هغه د پیغمبر په لارکې له جهاد نه ګران وي ، نو انتظار وباسئ تردې پورې چې الله خپله فیصله ستاسې مخې ته راولي او الله فاسقانو ته لارښوونه نه کوي .

« التوبه ، ۲۳-۲٤ - آیتونه »

منبع الجهاد

علمي جهادي میاشتنی خپرونه

موسس : الحاج مولانا جلال الدین «حقانی»

دتاسیس کال: ۱۳۶۸ هـ، ش - ۱۴۰۹ هـ، ق

Ahmad Shah (Vahdat) ((وحدت))
A. K. P. O.

دوهم کال، پنځمه گڼه، د (۱۳۶۹) هـ، ش، عقرب - د (۱۴۱۱) هـ، ق، ربیع الثاني

مخ	عنوان	شمیر
۲	داتحاد په لوربریالی حرکت	۱-
٤	نجیب ولی دلویدیځ اوایران له ...	۲-
٦	وحدت په تفرق کی مه لتوئ	۳-
۸	آخرین مهلت به رژیم مزدورکابل	٤-
۱۰	دبابري جومات کشاله او...	۵-
۱۲	جهادی نوښتونودګوډاګي رژیم ...	٦-
۱۵	دخلیج روان بحران اودنړۍ داسلامي ...	۷-
۱۸	دګلاسنوست اوپروسترویکاترپردي...	۸-
۲۸	دمزدوررژیم په زندانونوکي ...	۹-
۳۰	نظامي ښوونه اوروزنه ...	۱۰-
۳۱	دخوست په مرکزکي ددښمن پر...	۱۱-
۳۵	الحاج مولانا جلال الدین حقاني له ...	۱۲-
٤۳	روس -امریکادواړه دجهاد...	۱۳-
٤۵	جهاددشعر اوادب په ...	۱٤-
٤۷	لنډه کیسه	۱۵-
٤۹	نیازولي په جهادکي ...	۱٦-
۵۳	دحربي پوهنتون له قوماندان سره مرکه	۱۷-
۵٦	سرطان سرخ	۱۸-
٦۱	راغلي لیکونه	۱۹-
٦٤	ابدی ژوندی	۲۰-

دهئیت تحریرترنظرلاندی

مسئوول مدیر: الحاج شهرت «ننګیال»

سرمشتیال: سیدمحی الدین «هاشمی»

دصفحوترتیب : محمدظاهر بابری

کمپوزر: احمدضیا «ذهین بابری»

مکاتباتي پته :

پوست بکس نمبر (۱۰۳۳)
یونیورسټی ټاون - پېښور

بسم الله الرحمن الرحیم

سر مقاله

داتحادیه لوربریالی حرکت

د مجاهدینو دټولو لوادو طبقو دوامداره او کلي اتحاد په رابطه چې دجهاد قوماندانانوکوم حرکت پیل کړی ژ هغه په وروستیو وختونو کی یو ډیر حساس او نوی پړاوته داخل شویدی .

په تیرودوولسو کلونو کی دجهاد قوماندانانو درو سی مجهزو یرغلگرو پوځونو په مقابل کې داسې یوه مؤثره جنگي ستراتیژي وچلوله چې دګوندونو له اختلافاتو سره سره الله تعالی داتو فیق ورپه برخه کړچی روسی یرغلگر پوځونه یې له شرمېدلی ماتی سره مخامخ کړل . که څه هم دګوندونو دتعدد او اختلافاتو له مخې په ټول هیواد کې کومه مشترکه او واحده جنگی ستراتیژی نه وه خو بیاهم دهیواد په هره برخه او هر سنگر کی له پوځی او نظامی اړخه دمجاهدینو برلاسی ددی څرگندوی کوی چې دقوماندانانو جنگی تاکتیکونه او حکمت عملی څومره بریالی وه.

پدغه اوږده موده کی قوماندانان له روسی یرغلگروسره دمخامخ ډغرو اووسله والی مقابلی په یوه سخته او حساسه مقابله بوخت ؤواو په خپل ټول توان او قوت سره یی دنظامی عملیاتو دپراختیا په لار کی فعالیت کاوه. که څه هم پدی جریان کی دګوندونو تعدداواختلافاتو ددوی جهادی قوت ته سختی ضربی ورکړی خو بیاهم دوی دخپل جنگی او سیاسی بصیرت له مخی دجنگ په ډگرکی خپله پیاوړتیا او فاتحانه موقف لوړ اوسوین وساته .

دروسی پوځونو له ماتې وروسته کله چې دقیادتونو داختلافاتو له مخې دنجیب مزدور رژیم له بشپړ سقوط څخه ځان گوښه کړ نو دملت له هرباشعوره فرد سره دا اندیښنه وه چې ددغه جنجالي کشالي دحل له پاره باید څومره ژر چې کیدی شي قدم پورته شي.

داد تشویشونو او اندیښنو یو داسې زموږ وتکي مهال ؤ چې دامیدونو درڼا څرک چاسم نشوای لیدلی او ښکاره خبره ده چې حالات په ډیره چټکۍ سره دجهاد دسپیڅلو اهدافو په دښمنۍ کې مخ په وړاندې روان ؤو.

په همدغسې حساسو او نازکو شرایطو کې دامید ستړگی هغه قوتونو ته اوښتې چې دوولس کاله یې دروس له وحشي پوځونو سره دخپل اسلامي بصیرت له مخې بریالی مقابله او مقاومت وکړ هغه بریالی مقاومت چې داهدافو او لاسته راوړنو او وروستی بری په مخ کې دقیادتونو اختلافات دیره ستر خنډ په توگه ولاړؤ.

دلته ؤچې دولس له منځه داتحاد له پاره دغه نیکمرغه حرکت پیل شو.او دقوماندانانو دشورا تر عنوان لاندې یې داسې ښه غوره کړه چې په ډیر لږ وخت کی یې یې ساری بریالیتو بونه په برخه شول .

داتحاد ونو په رابطه مخکنی حرکتونه کیدی شي دځینو خارجي فشارونو او غوښتنو له مخې ښه نیولي وي ځکه خو پرنتایجو هیڅوک هم قناعت نشي ښکاره کولی خو موجوده حرکت دهیواد له دننه دسنگرونو او مورچلونو څخه پیل شوی دهیواد له غرونو او سر درو څخه یې سر راپورته کړی او په بشپړه توگه په یوه اصیل ولسي قوت او ښه دسرمنزل په لورروان شویدی .

پدغه حرکت کی هیڅ بهرنی قوت هیڅ ډول رول نلری چې همداټکی ددغه حرکت دبریالیتوب زیری ورکوی ځکه خو سړی دیوه قوی اطمینان تر څنگ په ډیر ویاړ سره داویلی شي چې څنگه دجنگ په ډگرکی دقوماندانانو تونیتونه بریالی وختل او دوخت دیوه ډیر استعماری او وحشي قوت په شرمیدلی ماتی تمام شول همدغسې به دولس دیووالي او یوموټی کیدو په هلو ځلو کی هم دا حرکت دنو یو بریالیتو بو-نو سره غبرگ داسلامي حکومت دقیام سرمنزل ته ځان ورسوی.

سیاسی تبصره

نجیب ولی دلویدیځ اوایران له سیاستونو خوښ دی...؟!

هدایت الله «هجرت»

دعقرب په (۳۰) مابنام دبی بی سی راډیو فارسی سرویس دکابل دمزدوررژیم له جمهور رئیس ډاکټرنجیب سره مرکه درلوده په نوموړی مرکه کی نجیب ډیری خبری وکړی چی یوه پکی دافغانستان دحالاتو پ باب دلویدیځ اوایران له سیاستونوڅخه دخوښی اورضایت خبره وه ،موږغواړو پدې مقاله کې پر پورتنۍ موضوع لنډې خبرې وکړو.

دامریکااونورولویدیزوهیوادونو له اوسنی سیاسته نه خو دمزدورنجیب خوښی اورضایت په بشپړه توگه ددرك وړدی اوداوس دومره ښکاره اوواضح مسٔله ده چی زیات بحث اوڅیړل هم نه غواړی .ځکه په نړیواله سطحه دغرب په وړاندی دکمونیزم اوروسیی ترتسلیمی وروسته جریان داسی بڼه غوره کړی چی امریکا اونورغربی هیوادونه ددووکاملاً متباینو شیانو انتخاب په مخ کی لری یوی خواته دهغی روسی دگټو جهت چی اوس ورسره هیڅ اختلاف نلری اوبل لوری ته هغه مسلمانان چی له دوی سره دنظریی ، مشخصاتو ، سیاستونو اواهدافو څرگند ټکر اوتضادلری ، نوپداسی یوه حالت کی بیخی طبیعی اوحتمی ده چی غرب به ددوهم جهت په شدید مخالفت کی دریږی . غرب پوهیږی چی یوی خواته هغه بی هویته رژیم دی چی پس منظر یی له یوی ماتی خوړلی ایدیالوژۍ اوډړی وړی شوی امپراتورۍ سره تړلی اوپه بل لوری کی هغه سیاسی ځواك دی چی له یوی جاودانی اوبریالی ایدیالوژۍ ژوندااوزوراخلی،

داستقلال ، فتحی اوشرافت بیرغ یی په لاس کی وی افغانستان به په یوه انقلابی اسلامی وطن بدلوی ، نړیوالوغورځنگونو ته به دنوی تجربی اوښه ملاتړ ځوانه اډه جوړوی دسیمی ژئوپولتیکی نقشه به په بله اړوی ، په منطقه کی به داسلامی هیوادونو دیوه تړلی اومنسجم سیاسی نظامی بلاك دجوړیدو لپاره لاراواروی نو پدغه ډول یوه حالت کی به دغرب سیاست خودهم داسی وی چی دماتی خوړلی روسیی ماتی خوړلی بریښی نجیب به تری خوښ اوراضی وی . نوله همدی امله ده

چی موږشاید هیڅوک هم داسی نه وی چی دنجیب پردی خبره حیران شی چی وایی دامریکااونوروغربی هیوادونو په سیاست قانع دی .

مګردامسٔله چی وایی دایران داسلامی جمهوریت سیاست دده دملی مصالحی دسیاست په برخه کی مثبت دی په هیڅ توګه ددرک وړنه ده .

ایران دافغانستان دبحران اوقضیی په برخه کی یواځی له دی دووجهتونو څخه یوکولای شي انتخاب کړي یابه ، دمسلمانوانقلابیونو ددا‌عی اوملت دارادی دملاتړ لوری نیسی اویابه دکرغیړن اوبدنام نجیب دجنایتکارانه موقف اودټولو استعماری ځواکونودخوښی اوتمایل طرف .له دی دوواخوادبل هیڅ ډول دریم دریځ او موضع لپاره ځای نشته .

که داسلامی جمهوریت مسؤلین له خپلوی عارضی ،تنګو اولنډو سیاسی اوفرقه یی ګټولوړداسلام، مسلمان امت اوایرانی مسلمان دحقیقی مصلحتونو اومنافعو له مخی قضایا تحلیل کوی او پر همدی بنسټ یی په وړاندی موضعګیری وکړی نوداورته کاملاً طبیعی ده چی باید دافغان انقلابیونو اوافغان ولس داعیی اوارادی ته درناوی وکړی .ددی داعیی اوارادی دتحقق اوبری په صورت کی به ایران په خپل ګاونډکی یومسلمان انقلابی افغانستان لری، هغه چی ددوی دښمن به دځان اوداسلام دښمن ګڼی اوحقیقی دوست به یی دوست. هغه چی په حتمی ډول به دسیمی سیاسی اوپوځی تعادل اوموقعیت دیوه آزاد اسلامی بلاك په لوری لیږدوی اوداهغه مسٔله ده چی ترټولو زیات ورته ایران اړتیا لری.

زموږامید دادی چی دایران مسؤلین یوځل بیا پر خپل سیاست غوروکړی اوله خپل کړندودنه دیوه جنایتکاراوبدنام رژیم رضایت اوخوښی ځانته لوی پیغوراوله یوه مظلوم مسلمان قوم سره تاریخی جرم اوخیانت وبولی .

زموږامید دادی چی دایران مسؤلین یوځل بیا پر خپل سیاست غوروکړی اوله خپل کړندودنه دیوه جنایتکاراوبدنام رژیم رضایت اوخوښی ځانته لوی پیغوراوله یوه مظلوم مسلمان قوم سره تاریخی جرم اوخیانت وبولی .

وحدت په تفرق کی مه لټوی

لیکوال : مولوی محمد یونس «خالص»

دافغانستان دموجوده مشکل اساسي علت دافغانانو ترمنځ تفرق دي،بلکه که حقیقت ته وګورو دنړۍ پر مخ ټول مشکلات دتفرق څخه راپیدا شویدي که په یوه کورکي دوه ورونه سره په یوه نظر اویوه لاره ژوند ونه کړي هم ژوندئ دمشکلاتو سره مخامخ کیږي اوکه په یوه تنظیم کي تنظیمي ورونه سره په یوه لاره لاړ نه شي تنظیم يي دمشکل سره مخامخ کیږي،که (خدای مه کړه) دافغانستان خلکو ټولودروسانو غلامۍ ته سر ښکته کړی وای که څه هم دغلامۍ ژوند به يي کاوه خو خپلو منځو کي سره داسي مرګ ژوبله نه راتله لکه چي وشوه اولاروانه ده-دلته نواول باید دافکر وکړو چي تفرقه ولی راشي اوبیا دافکر وکړو چي دتفرقي با وجود دوحدت امکان شته اوکه نه ؟

دتفرقی اصلي عامل دادی چي ځیني خلك دانساني کرامت اوعزت النفس دساتني لاره غلطه کړي انسانیت په وحشت او لا انسانیت کي لټوي چي طبعاً ددي خلکو سره هغه ډله په لاره نشي تلاي کومه چي انساني کرامت په انساني ارزښتونو کي بولي.دانساني ارزښتونو په برخه کي هم دغه دواړه ډلي اختلاف لري مثلاً اوله ډله حریت دانساني کرامت لپاره شرط بولي خو آزادي دي ته وايي چي هرڅه يي زړه وغواړي هغه وکړي دوهمه ډله هم حریت دانساني کرامت لپاره شرط اویا عین انساني کرامت بولي خو هغوی حریت بیا دیته وايي چي انسان دانساني لاري اوانساني قوانینو دعملي کولو څخه څوك منع نکړاي شي،دلمړۍ ډلي خبره خو ځکه دمنلو وړنده چي یوه انساني ټولنه هم داسي نشته چي قوانین ونه لري اوهرسړی پخپل سرهر څه چي غواړي هغه کوي بلکه په حیواناتوکي هم دغه شاني آزادي نشي لیدلي نوانسان باید دقانون په چوکاټ کي ژوند وکړي خو دغه قانون که دمقتدرو له خوا جوړشوي وي او دمقتدرو په ګټه وي بیا نو یواځي مقتدرخلك ورڅخه استفاده کولاي شي اوبس .

ځکه نوګوروچي په مختلفو دولتونوکي مختلفی ډلی اومختلف احزاب رامنځته کیږي ترڅو قدرت ترلاسه کړي اوپخپله ګټه قانون جوړکړي.په وضعي قوانینو کي وخت په وخت بدلونونو دراتللو علت هم دادي چي مقتدر شخصیتونه چي جلاجلا منافع لري بدلیږي اوقانون کي هم ددوي په اصطلاح نوي اصلاحات راولي.یواځي الهي قانون دي چي دقدرتمنو انسانانو په لاس ندي جوړشوي اویواځي قدرتمن خلك ورڅخه ګټه نشي اخستلاي،کوم خلك چي قرآنکریم دخداي کلام نه بولي هم دا ادعا نشي کولاي چي ځیني با قدرته خلکو رامنځته کړي دي بلکه دټولو الهي ادیانو په برخه کي دغه تصورنشي پیدا کیداي اوهم دغه وجه ده چي دالهي قانون پر ضد دتل لپاره مقتدر و خلکو قیام کړیدي لوی خدای

فرمايي :

ترجمه :،،داچي مونږ په يوه قريه كي هم كوم پيغمبر ندي استولي مكرم داچي ددولت والا اوقدرت منو خلكوله خوايي مقابله شوي اووربانديكافر شوي دي،اوهمداوجه ده چي لوي خداي (ج) خپل پيغامبر ته داسي حكم وكړ:

ترجمه : يعني اهل كتابوته وواياست چي هغه دين ته غاړه كيږدي چي څمونږاوستاسو ترمنځ برابر حكم كوي يعني خاص زمونږ دگتې لپاره نه بلكه دعام انسانيت دلارښوونې لپاره راغلي اوټول پكي يوشاني مكلفيتونه لري اوهمدغه وجه ده چي اسلام كي دبدلون راوستلو حق چاته ندي وركړ شوي او داغتې قدرت من په اسلام كي داسلامي قوانينو په منلو همغه شاني مكلف دي لكه دوړو له وړو چي پكي مكلفيت لري .

اوله همدي امله حكم كولاي شو چي په اسلامي ټولنه كي داسلام په نوم داسى مختلفى ډلى اواحزاب جوړول هيڅكله هم جوازنه لري چي يودبل پر ضد مبارزه وكړي اودقدرت دگټلو لپاره په اصطلاح توره اوټوپك سره راواخلي اويا دووټونو اخستلو لپاره كوښښونه په كار واچوي.مسلمانان مكلف دي ان اكرمكم عندالله اتقاكم پر حكم دزمامداري مسووليت دهغه چا په غاړه واچوي چي په ديني امورودير پوه اوزيات متقي وي نودافغانستان په خاوره چي كله روسانوتيري وكړ او په

يوه زعيم باندي دراغونديدو امكان ورك شو دجهادي ډلو په عنوان ډلى ، ډلى جوړى شوى خواوس چي څني خلك په اسلامي طريقه ديوه زعامت له پاره تاند نه وهي اويا دخپل زعامت لپاره ناجايز مادي وسايل كاروي اويا دمسلمانانو مقابل كى توره رااخلي اويا خو ديوه اسلامي حكومت دراتلو سره هم خپله ډله اوتنظيم ساتي دمسلمانانو دوحدت دښمن دى اونه غواړي چي په افغانستان كي دافغانستان خلك ددښمن په مقابل كي سره يو موټي شي د داسي خلكو څخه دتوحيد اوَوحدة الصف هيله نامعقوله ده اوددوي څخه چي همداسي په تخريب كلك ولاړ وي ديوه اسلامي زعامت دراوستو هيله شليدلي ده .

واقعي مجاهدين كوم چي داسلام دپاره يي قرباني وركړى اووركوكي وظيفه لري چي سره يولاس شي اسلامي زعامت وتهاكي او دحزب اوحزبيت نظر په اسلام كي لغو اعلان كړي څرڅوو كولاي شو داحزابو په نوم دخارجي دښمنانو دلاس وهني څخه نجات پيداكړو كه دا ورونه واقعاً وحدت غواړي ټول دخپلو حزبونو الغأ اعلان كړي ديوه زعيم قيادت لاندي دي راغونډشي جي مونږ ورباندياعتماد وكړو نه دا چي ديوه اوبل په فشار يوه ورځ اويا په يوه كار كي سره متحد شو بله ورځ اوپه بله معامله كى سره خداى مه كا توره اوغوښه وگرڅوو.

آخرین مهلت به رژیم کابل

نویسنده : سمیع الله «تازه»

اگر به روند انقلاب اسلامی ملت مجاهد ومسلمان افغان وپروسه رشد جهاد مسلحانه علیه کفر والحاد کمونستی درکشور نظری بیاندازیم علاوه از پیروزیها دشواریهابن بست های مختلفی هم بچشم میخورد که روند جهاد رابا سکتگی موقت مواجه ساخته است که بالاثر درایت جرئت وکاردانی ویادرنتیجه اتحاد وتصمیم گیری افغانهای مجاهد این سکتگی وموانع ازسر راه جهاد مرفوع گردیده است .

دشواریهای عاید درروند جهاد طی سالهای بعد ازخروج عساکر شکست خورده روسی ازافغانستان از جمله سکستگی هایست که جهاد ملت مابان گاهگاه مواجه شده است . این بن بست که خلاف میل ملت ما در پروسه جهاد بمیان آمده بود با گردهمایی قوماندانان جهادی سنگرهای جهاد برحق مردم ما نه تنها شکستانده شد بلکه آغازگر تحرک وتکانه جدیددرجریان انقلاب اسلامی وجهاد مردم ماشد .

قوماندانان که درمنطقه توپخانه افغانستان ازشمال جنوب ، شرق وغرب کشوربخاطر بحث بروضع ناپسند فعلی گردهم امده بودند علاوه برگفتگو برسیر جهاد ، بخاطر ثمر بخشی بعد ی جهادتصامیم مختلف وسودمندرانیز اتخاذکردند.

قوماندانان مشهورجهادی درپایان دیدار شان یك اعلامیه مشترك شش ماده یی رانیز انتشار داده اند که دربرگیرنده مسایل مهم جهاد دراوضاع جاری کشورما میباشد.

درماده پنجم اعلامیه مشترك شورای قوماندانانهای جهاد افغانستان در خطاب به رژیم کابل امده است «به رژیم دست نشانده ومزدورروسها ابلاغ می نمائیم که بخاطرجلو گیری ازخونریزی وویرانی بیشتر دوازده ساله کشورقدرت سیاسی کشوررابه ملت مجاهد ومسلمان افغانستان واگذارد، درصورتیکه رژیم مزدوربه این ارمان سترگ ملت مسلمان ما گردن نه نهد جهاد مسلحانه ماتا هنگام سرنگونی رژیم دست نشانده وقوام یك حکومت اسلامی ادامه خواهد یافت

دراین ماده اعلامیه مشترك شورای قوماندانان جهادی افغانستان بصورت واضح نیات قوماندانها توضیح شده وبه رژیم دست نشانده مسکو درکابل فرصت داده شده است تابه فیصله ملت تسلیم شود .

جهاد یکه ازطرف مردم ما علیه رژیم ملحد کابل براه انداخته شده دارای هدف ومرام بوده وان تاسیس یك حکومت اسلامی درکشوراست.

این ارمانیست که ملت افغان بخاطر ان شهدای بیشمار داده ویرانی وتباهی هستی وزنده گی خویش راپذیرفته است . مردم ما امروز ارزش همه تلفات وویرانی رادرین می بینند که در فرجام جهاد یك حکومت اسلامی درکشوربرقرار گردد .

مردم مسلمان افغانستان درطول دوازده سال مشاهده کردند که کمونیست های ملحد بخاطر مسلمان بودن وبخاطر اسلام پرستی برمردم فقیروبیچاره ما چه ناروایی ها واظلام را رواناشتند اما مردم بادیانت افغان بهر اندازه ایکه برانها تعدی صورت گرفت به همان اندازه بردین خود وبرایمان خویش استوارترشدند وچون فولاد آبدیده گشتند .

امروز مردم ما ومجاهدین ما بیشترازگذشته قوی تر نیرومندتر ، استوارتر اند لیاقت وجرئت بیشتر در حل وفصل قضایاً خویشرا عملا نشان داده اند .

تدویر اخیر شورای قوماندانان یکباردیگر به رژیم کابل مهلت داد تا به عقل خویش رجوع نموده دربرابر تصمیم وفیصله ملت تسلیم گردد وموجب ان نگردد تادیگر مردم ما کشته شوند وتعداد دیگر آبادیهای وطن ما ویران گردد .

همچنان تشکیل شورای قوماندانان گام دیگر یست درجهت قوت بیشتر جهاد وتبارز صلاحیت وصلابت تصمیم گیری درمورد قضایای جهاد وافغانستان، قوماندانان درك می کنند که درقبال وضع کنونی جهاد مسوولیت بیشتر برانها تکیه کرده است بناً انها با درك این امر بمرحله جدید گام نهادند که ان شامل است برین ضرورت که باید جهاد خودرا با مسوولیت نه جبهه یی نه منطقوی بلکه به سطح گسترده ودر پیوند محکم با سایر جبهات وقوماندانان با هدف وسیعتر براه اندازند .

کمونیست ها نشان داده اند که هیچگاه حاضر نیستند قدرت سیاسی راکه بایك عمل خاینانه غصب نموده اند بمیل خود به ملت واگذارند انها بخاطر حفظ قدرت غدارانه شان روسها را به کشور عزیزما وارد کردند واکنون که روسها شکست خورده اند از روسها سلاح مخوف وخطر ناك رابدست اورده بیدریغانه برمردم مسلمان افغانستان استعمال می نمایند که از اثر ان هزاران هزار طفل معصوم زنان وپیرمردان وفرزندان شجاع ورشید وطن ما به خاك وخون می غلتند :

این همه جنایات راکمونیست های

بقیه درصفحه (۳۷)

همچنان تشکیل شوراي قوماندانان گام دیگریست درجهت قوت بیشتر جهادوتبارزصلاحیت وصلابت تصمیم گیري درمورد قضایاي جهاد وافغانستان . قوماندانان درك مي كنند كه درقبال وضع كنوني جهاد مسوولیت بیشتر برآنها تکیه كرده است بناًء آنها با درك این امر بمرحله جدید گام نهادند كه آن شامل است برین ضرورت كه،باید جهاد خودرا با مسوولیت نه جبهه يي نه منطقوي بلكه به سطح گسترده ودرپیوند محكم با سایر جبهات وقوماندانان با هدف وسیعتر براه اندازند .

دبابری جومات کشاله

اوداسلامی امتمسولیتونه

د «س ـ س» لیکنه

پدی ورځو کی دبابری جومات پرځای دهندوانو له خوا ددرمسال آبادول هغه غمجنه خونړی پیښه ده چی دهند دیو ، پی ایالت داجور یه ښارگوتی اوددغه هیواد دگنو نورو ایالتو دښاروا ویاندو مسلمانان یی په ناتاراوماتم گډ کړل .

هندی مسلمانانواو په تیره بیا دبابری جومات گاوندی مسلمانانوچی دخدای (ج) پردغه سپیڅلی کوراولمانځنځی دکوم غیرت څرگندونه وکړه ، هغه خو په دی مادیت ځپلی نړی کی دهندی مسلمانانو دایمانی غیرت اوهمت یوه دویاړ وړکارنامه ده . هغوی خو پرخپلو دینی نوامیسو دننگ په لړ کی په خپلو سرونو هم ډیل نشول ، او خپلی پاکی گرمی وینی یی داسی بی کرکی وبهولی ، ته به وایی چی هڅو ژوند ورته ژوند نه ښکاری .

خوله دی سره سره بل پلو ، دنوری نړی مسلمانانوچی په دی باب څه ډول ځان ناجانه اچولی اوپه غوبرونویی خپیری رااچولی ، هغه دهندی مسلمانانودغه تولی اتلی اوسر ښندنی په سیندوری اوبابیزه

کوی یې.

له بده شامته کله چې کوحه دبواشتراکیانو پرسپیڅلې بخارا چې داسلام اودین قوت به گڼل کیده ، یرغل راوړو، سره له دې چې بخارا یې مجاهدینو څه لس پنځلس کاله دسرووحشی پوځونو دنیزواوغشو په وړاندې خپل ټټرونه ډال هم کړل ؛ خو پردې چې دنړۍ مسلمانانو ورته دځه ډول مرستې لاس رااوږدنکړ ، اوځانونه یې پرې ناگاره کړل ، نوځکه خو بیا هغه څه پیښ شول چې دنامې مسلمان پرې کوز گورې شو .

همدغه شپې ورځې داسلام دښمنانو عثمانی خلافت له پښنو وغورځاوه ، خو بیا هم لکه چې وروه هغسې مسلمانان نه یواځې ددغه اسلامي خلافت په ننگه راونه پاڅیدل چې لازیاتې دډښمن دټبر لاستې شول .

اوهمدغه شپې ورځې دفلسطین سپیڅلې ځمکه اوقدس شریف د تنگه سریو اوډارنویهودانو ترناولیو قدمولاندې راغلل ؛ خوداځل هم یوغوړپربل خبر نشو . دمسلمانانو لومړنی قبلې (مسجداقصی) ته اورواچول شو ، اوهغه هم همدغسې متنازع لمانځنځې وگانه شو ، لکه نن سبا چې دبابری جومات کوم حال دی . مگر عجمو هغه دعربو اوعربو بیا دنیول شوی فلسطین داوسیدونکو مسلمانانو کورنی مساله وگڼله .

داپه داسې حال کې چې اسلام دگردې نړۍ مسلمانان سره وورنه اویو جسد گڼلي و ، چې دیوه غړي په درد اوتکلیف به هرو مرو ټول بدن ډرسره خوږېږي ، خولکه چې وموویل له بده بخته ننی مسلمان دغه دخوږواوپیرزوحس په ځان کې بېخي ورک کړیدی .

دښمن چې دمسلمانانودغه بې خوږۍ اوځانځانی گوری ؛ نودوه

زوره لگوی ، په هره توگه چې کېږي خوچې یورازمادی اویا معنوی امتیاز ورنه ترلاسه کړي ،لیکن ددیری خواشینی ورداخبره ده چې اخیر دهندوهم رانه حیا ونشوه اوبابري جومات ړنگولوته مو بې پیڅۍ رابډ وهلی .

هندوان چې ددې تاریخي جومات دړنگولو له پاره کوم دلیل راوړي ، چې گواکې داددوی دخدای (بگوان رام) دزوکړې ځای و، هغه یې دمیږې اولیوه کیسې ته ورته دی . سره له دې چې میږې به له لیوه نه کوزې اوبه څښلې ،خو بیا هم لیوه به پرې سترگې رااېستلې چې اوبه مه راخړوه

خرهندوچې گیدړهم نه دی ؛ مگر دمسلمانانوله ځانځانی اوکمزوری ناجایزه گټه پورته کوی اوخوشی دپکې دړکې پرې کوی . بنایی شاعری هم په دغسې یوه موقعه ویلی وی چې :

باقي په (۳۷) مخ کې

جهادي نوښتونو دګوډاګي رژیم ورځې شپې دشمار کړي

لیکونکی : ناکار

دشلمی پیړۍ داوروستی څوکلونه ریښتیا هم داسلامی احیا اوبیدارۍ شیبې وې ، ددې انقلابی بختور غورځنګ پیلامه دافغانستان دمیړنی هیوادله کلواوبانډو نه دوینو په خورازیاته نذرانه وشوه ، چې ورو،وروېې دهراړخیز توب لمن دنړۍ په ګردو مظلومانواو بیا په ځانګړې ډول پرمحکوم‌مسلمانانو وروغوړیدله ، اونن دادې ، دنړۍ ډیر ستر ځواك روس همدې ګوزارونو دومره وړوکی اوسپك کړ، چې دپناه اخیستلو لپاره یې دخپل سرته رسوی . دنړیوال کفری اتحاد په مخکې بل داسې دپام وړتکې نشته ، چې پر ی یې سترګې ونښلی ، بس داسلام مقدس دین دی ، چې دجهاد دجذبه یې دومره ځواکمنه ده ، چې دهرډول اختلاف اوجمودخوله ماتولی شي . خوهغه بل ټکی چې دښمنان تری بوګنیږی ، هغه داسلام اعجاز اوآسمانی قوت دی ، چې دنړۍ هری ایډیالوژۍ اوعلم ورته پدې ماشینی دورکی ډال وسپرکیښود ، اوړدي یې. په لویدیځ کې چې څومره ماشینی

> دنړیوالو کفري اتحاد په مخکې بل داسې دپامه وړتکی نشته چې یې پری سترګی ونښلي ، بس داسلام مقدس دین دی چې دجهادجذبه یې دومره ځواکمنه ده چې دهرډول اختلاف اوجمود خوله ماتولی شي.

سخت دښمن امریکا ښکیلا کی دروازه وټکوله ، اوپدې ډول هغه کفری یدوال چې یووخت یی تش شکلی توپیر لاره ، اوپه ماهیت کی سره یووو، نن سبا دانحلال اومحویت درجې ته ورسیدل ، اودادې اوس کمونیزم اوپانګواله په یوه لیکه کی ولاړ، اوداسلام په وړاند ی خپل شیطانی سرګرمی چاپیریال دروحی سکون مرۍ خپه کوی ، هماغومره دآسمانی ادیانو خواته تمایل زیاتیږ ی، او په آسمانی دینونو کی خودا څرګند خبره ده، چې دژوند دنظر یی په توګه داسلام سیالي هیڅ مذهب نشي کولی ، نوورو،وروخپلی وړانګی خوروی اوپرمادیت لاخه چې دتحریف شوی مسیحیت په

رگونو کی هم دفکری ویښتیا به اوروحی ډاډمنتیا ساه پوکی . نوپدی توګه دافغانانوقربانی له یوی خوا دنړیوالو له ذهن نه داخبره وویستله ، چی کمونیزم نه ماتیدونکی دی ، او له بل اړخه یی دګردی نړی مظلوما ن اومحکومان اوبیا په تیره دلویدیځ ماشین وهلی نهیلی انسان پدی ډاډمن کړ، چی دژوند ثابته نظریه اودتلپاتی سکون غیره اسلام دی اوبس .

دافغانی مجاهدینو دجهاد دله منځه وړلو لپاره دجهاد پدی اوږده وخت کی دشیطانی ځواکونوله خوا ډول ډول دسیسې اوچلوټې پکاروا‌چول شوې ، تردی چی دپاکستان نومیالی جنرال ضیأ الحق اودهغه ملګري دهمدغه جهادي غورځنګ پرسر شهیدان شول ، مهاجرینوته ستونزی پیداکول اودهجرت په چاپیریال کی یی تنګول دهمدغی لړی یوه کړی وه ، خو لله الحمد مجاهدینو دا اغز نه لار اوسخت کړلیچونه پخپل ایمانی ځواک په میړانه ووهل ، اونن دادی دکابل ګوډاګی حکومت په څومحدودو ښارونو کی کلا بند دی ، اودمجاهدینو غوڅ اوپریکنده ګوزار ونه یی ورځ په ورځ دژوندی کولو پړی راټینګوی . دروسانوله وتلو وروسته خودټولو خلکو داپوخ باوروه چی لاسپوڅی حکومت به ډیرژرړانسکوراومجاهدین به یی ځای ونیسی اودهمدی مرام لپاره دمجاهدینو لومړنی عبوری حکومت هم جوړ شو، خومتأسفانه چی ډیرژرله منځه لاړیه دویم قدم بل مؤقتی حکومت جوړ اودځینو اسلامی هیوادونو له خوا په رسمیت هم وپیژندل شو ، خوهغه هم دخپل څرنګوالی له اړخه ډیرو ته نامنظور اودقناعت وړونه ګرځید اوخبره یی دیته رسولی وه ،چی ذهر تنظیم له خوا وزارت دخپلی عملیی اوپرسونل له مخی دهماغه تنظیم معنا لرله ، اوهیڅ یوه مقام ته یی دمسؤلیت احساس نه کاوه همدی کارداحکومت هم له اعتماد ه وغورځاوه اوله هغه ړومبیو شیبو

> دافغانانو قرباني له يوې خوا دنړيوالو له ذهن نه داخبره وويستله چي کمونيزم نه ماتيدونکي دي اوله بله اړخه يي دټولي نړۍ محکوم ولسونه او په تيره بيا دلويديځ ماشين وهلي نهيلي انسان په دي ډاډمن کړ چي دژوند ثا بته نظر په اودتل پاتي سکون غيره اسلام دي اوبس.

نه راوروسته یی کوم دپاملرنی وړزیارونه سرته ونه رسول ، اونه یی دجهادی هلو ځلو نه ړانیولی ترسیاسی ساختمان پوری کوم دغرووړکاروکړ . له دغه جهادی جمودنه ښکیلاګګرو پوره ګټه واخیسته ، او دروغی جوړی په آوازوی نړیوال خبر ځایونه ګرم کړل . که څه هم دجهاد لپاره دعامه ذهنیت دسرښت مسئله دسیمی اوبیا په تیره دهجرت دسیمی دسیاست بدلون ګڼو ، خوله دی هم باید سترګی پټی نه کړو ، چی داپیښی دیو بهرني عامل په توګه دومره غوڅ رول نشی لوبولی ، لکه دجهادی مشرانو خپلمنځی روانی ګیلی مانی اوداتحاد نشتوالی .

خواوس دادی یوځل بیا دجهاد په ډګر کی یوډول نوښتونه رامنځ ته شوی ،اوهغه دمجاهدینو دواقعی

اتحاد اویووالی په لار کی
دقوماندانانودسرتاسری‌شورافعالیت
اوګډ عملیاتو پلان دی . دجهاد
نسبی سربنت اودګوډاګی حکومت
دعمراوږدیدل که هرڅومره یوی
اوبلی خواته منسوب کړو ، خو
واقعیت دادی ،چی داتوله پړه
دمجاهدینو داتحاد نشتوالی اویو
تربله نه همکاری وه . داتحاد
دجوړیدلوله پاره باید عبوری
مؤقت حکومت ترمیم اوڅه
زیاتونی اوکمیدنی پکی راشی ،
څکه دا حکومت دخپل اوسنی
جوړښت سره دمجاهدینو لپاره
دزغم وړنه دی . دحکومت دااوسنی
وضعیت باید بالکل له منځه یوړل
شي څکه دحکومت هروزارت باید
داړوند تنظیم دمامورینو لپاره تش
دمعاش اومصروفیت حیثیت ونه
لری ، عبوری حکومت چی دهمدی
وزارتونوله اجرایی څواک نه
تشکیل شوی ، دجهاد اوهجرت
دربرو اوهمدارنګه دخپل سیاسی
شتون له مخی درانه مسؤلیتونه په
غاړه لری . نوکه عبوری حکومت
ترمیم اودګردو خواو دداړ
وروګرځی ، نوبیا لیری نده ، چی
په نړیواله سطحه له لاسه وتلی
حیثیت بیرته وګټی ، اودګوډاګی
حکومت ځای به چی داتحاد په
صورت کی یی دمنځه تللو
امکانات بیخی رانژدی کیږ ی ،
ډیر زر عوض کړی بل سترګواښ
چی تالی خټ یی په تشویش کی
اچولی ، دمجاهدینو دګډو
اوسرتاسر ی عملیاتولپاره دواحدی
اومشترکی ستراتیژی رامنځ ته
کول دی .ربښتیا هم دایرغل
پریکنده مثبت نتایج لاس ته
راوړی شي او دایرغل دلاسپوڅو
هغه مقاومت چی په نورو ښارونو
کې یې کوي، له منځه یوسی بله
ګټه چی مجاهدین یې له دې یرغله
لاس ته راوړی شي ، هغه دتلفاتو،
کمښت دی . دګډ یرغل خبرونو
اوتیاری نجیب سخت وارخطا
کړیدی ، اودهغه دپوځ
اوحامیانومورال په څمکه
غورځیدلی . نجیب دهمدی پیښی
نه دځان دخلاصون لپاره په
اصطلاح دقبایلو جرګه رابللی ، او
له دې لارې غواړي ، په قبایلی
روایاتواوجرګو ځان اوملګري ددغه
عظیمې تاریخي محاکمی نه
وژغوري ، موږ داخبره چی قبایل
څومره ساده زړی اوهم دافغانستان
په جهاد کی دهغوي ددریځ
څرنګوالی نه څبرو ، خو ورته
دومره ویل غواړو ،چی افغان جهاد
دنړی په تاریخ کې نوې پاڼې
واړولې ، په نهیلو ولسو نوکی یی
دمقاومت ساه پوکړه داسلامي
ویښتیا په شپیلۍ یې په
اسرافیلی ساز وغږوله ، ددی
مقاومت په تنده دتوحید اوتکبیر
مهر لګیدلی ، دومره ستره ربړه په
رواج اوروایت حل کول هسی له
زانو نه کتوری غوښتل دي .

دخلیج روان بحران اودنړی داسلامی غورځنګونودریځ

ژباړن: «صدیقی»

ایران ، عراق ،اردن اوسعودی عربستان ته داسلامی غورځنګونود(۲۱)کسیز هئیت دسفر رپوټ

داکتوبر په میاشت کی دنړی داسلامی غورځنګونو مشر انو یوه (۲۱) کسیز وفد د خلیج مسلی په خاطر داردن ، عراق ، ایران او سعودی عربستان هیوادونو ته سفر وکړ ، په دی وفد کی قاضی حسین احمد ،پروفیسور خورشید احمد اومولانا خلیل احمد حامدی هم شامل و ، قاضی حسین احمد دوفد ددوری تر پای ته رسیدو وروسته په لاهور کی خبریالانو ته ددغه سفر دڅرنګوالی په باب معلومات ورکړل چی دنورو ورځپانو سر بیره دنړای وقت داکتوبر په (۱۹) د جمعی په رنګه مجله کی خپاره شول موږ دموضوع داهمیت اوارزښت په خاطر دا مطلب راژباړلی چی ستاسو مخی ته یږدو

(اداره)

قاضی حسین احمد دجماعت اسلامی امیر دخبرو په پیل کی وویل : دخلیج مسلی دنړی مسلمانان دیوه بل خطر ناك حالت سره مخامخ کړل ، ددی ستونزو څخه د بریالئ راوتو په خاطر دنړی داسلامی غورځنګونو مشرانودیوه بل سره اړیکی ټینګی کړی د تیلفون ، فاکس اوتیلګرام له لاری یی دیوه بل سره مشوری پیل کړی اوبالاخره فیصله وشوه چی پدی هکله سره کینو اوخبری وکړو. لومړی غونډه په « استانبول » کی وشوه ،په غونډه کی پردی فیصله وشوه چی باید داسلامی غورځنګونو دمشرانو یو وفد جوړشی ، زه دستمبر په (۱۰) «عمان » ته ورسیدم ترما دمخه دمصر ،تونس ،الجزایر ،سوریی ، فلسطین ، ترکیی اومالیزیا داسلامی غورځنګونو مشران هلته موجود و ، دوی په خپلو غونډو کی دوفد دمقاصدو اوکار نقشه جوړه کړی وه چی ټول پری متفق و ، موږ فیصله وکړه چی آزاد دریځ به غوره کړو ، او دکوم هیواد

ملاتړ به نه کوو ، دټولو خبری به اورواوهغو ته به خپل نظر وړاند ی کوو ، دهمدی فیصلی په خاطر موږ درابط العالم اسلامی په روانی غونډی کی ګډون هم ونکړ موږ وویل که درابط العالم اسلامی په غونډه کی ګډون وکړودوی که دعراق پر ضد څه فتوا صادره کړی نوزموږ ګډون به د هغی دتائید معنی ولری اوموږ به طرف کی واقع شو .

قاضی حسین احمد زیاته کړه :

اردن ته مهاجرشوي کويتيان

داسلامی غورځنګونومشرانو دخلیج مسلی په اړه پدی ټکو باندی فیصله وکړه :

۱- په سیمه کی به دجنګ مخنیوی کوو ، ځکه چی داجنګ به داسلامی نړی په ګټه نه وی ، په دی سیمه کی حرم شریف ، دتیلو چینی اوداسلامی نړی لویه پانګه ده ، امریکا غواړی چی جنګ پیښ شی ترڅو هغه په عراق ، کویت ،سعودی عربستان اواماراتو کی داسلام دا پانګه له مینځه یوسی او دهغوی دتیلو چینی ترخپلی قبضی لاندی راولی .

۲- دسعودی عربستان څخه دی دامریکا پوځونه ووځی داداسلامی نړی خپل منځی مسله دی چی خپله به یی حل کوی اود پردیو پوځونوموجودیت سیمی ته تاوان رسوی ځکه چی دهغوی ګټی اومقصدو نه داسلامی نړی له ګټو اومقصدونوسره توپیر لري.

۳ - عراق دی خپل پوځ له کویت څخه وباسی اودکویت خلکو ته دی خپل حق ورکړ شی اوپه دی ترځ کی چی عراق څخه مسایل بیانوی هغه دی عربی هیوادونه په خپل مینځ کی حل کړی .

٤- دفلسطین مسله باید دنظره ونه غورځول شی ځکه چی داستعماری قوتونو بدنیت له دی څخه سه معلومیږی چی هغوی د امنیت په شورا کی پرکویت باندی دعراق دحملی دغندلوپه ترځ کی پریکړه لیك صادروی خو داسرائیلو په باب چی د (١٩٦٧) کال څخه راپدی خوا داردن سیند پر غربی برخی قبضه کړی اوهلته یی دمسلمانانو عامه وژنی پیل کړی همدا امریکا ، فرانسه ،انګلستان اواروپا یی هیوادونه چوپ وو ، اواوس لګیا دی روسیی یهودانو ته ددی زمینه مساعدوی چی په همدی نیول شویو سیمو کی ځای پرځای کړی شی ، موږ ددی په خاطر دادریځ غوره کړ چی د

فلسطین مسله هم باید دټولو مسلمانانو ستونزه وبلل شی که ددی مسلی دحل لپاره گام پورته نشی باید ددی اوسنی ستونزو دحل تمه هم ونلرو پدی بنستیزو ټکو باندی دولاړ دریځ له مخی داسلامی غورځنگونو مشرانو ترټولو دمخه په «عمان» کی داردن دمشر «شاه حسین» سره ولیدل هغه دغورځنگونو مشران امریکا اوانگلستان ته دخپل سفر له مقاصدو څخه خبر کړل هغه زمونږ وفد ډیر مهم اوگټور وباله اوویی ویل : دحالاتو دغو بنتنی سره سم تاسو ښه کولی شی له دی لاری اسلامی نړی راویښه کړی په «عمان» کی موږ څلور ورځی تیری کړی دهغه ځای څخه دسعودی عربستان په خصوصی الوتکه کی «جدی» ته ولاړو ،دعمری دا ادا کولو وروسته مو دسعودی عربستان دکورنیو چارولە وزیرسره ولیدل ،په سعودی عربستان کی زموږ دوهمه لیدنه دهغه هیواد له مشر«فهد بن عبدالعزیز »سره وشوه موږ هغه داسلامی نړی له اندیښنی خبر کړ هغه هم خپل دریځ موږته ووایه چی سعودی عربستان دجنگ څخه کرکه لری په دی خاطر ددی مسلی سوله ائیز حل غواړی موږ دری ساعته دهغه سره خبری وکړی هغه له موږ څخه وغوښتل چی ددی مسلی دحل لپاره خپلی هلی ځلی جاری وساتو دسعودی عربستان څخه په ځانگړی الوتکه کی موږ بیرته «عمان» ته راغلو اودهغه ځایه بیا د «عراق» مرکز «بغداد» ته لاړو هلته موږ دری ورځی تیری کړی زمونږ ترټولو مهمه لیدنه له «صدام حسین» سره وشوه هغه دخپلو خبرونه ترڅ کی داروښانه کړه چی دعراق نه پخوا دا په زړه کی وه چی پرسعودی عربستان حمله وکړی اونه یی نن په زړه کی شته موږ په دی اړه هردول ضمانت ورکولو ته چمتو یو ، هغه وویل : د «بغداد» د معاهدی په اساس «کویت» دعراق یوه برخه ده اوپردی مسله د کویت مشران هم سلا شوی وه ، پر معاهدی دهغوی امضا شته دعراق هر حکومت خپله دا دعوا کړی خو کویت ددی څخه خیال نه دی ساتلی چی دکویت دی رویی بلاخره موږ دیته مجبور کړو چی حمله پری وکړو د «بغداد» څخه په خصوصی الوتکه کی «تهران» ته لاړو هلته مو دایت الله خامنه ایی ،جنتی ، رفسنجانی اوځینو نورومشرانو سره ولیدل موږ پر هغوی باندی ټینگار وکړ چی جنگ دمخنیوی لپازه نه ستړی کیدونکی کار وکړی ، د«تهران» څخه موږ بیرته «عمان» ته لاړو هلته موږ دیوی گډی اعلامیی دصادرولو ترڅنگ دټولو اسلامی غورځنگونوپوه گډه کمیته جوړه کړه ،داسلامی غورځنگونومشرانو په خپله غونډه کی فیصله وکړه چی باید ډیر زر داسلامی نړی دیووالی ورځ ولمانځل شی .

داسلامي غورځنګونومشرانو پخپله غونډه کي فیصله وکړه چي باید ډېر ژر داسلامي نړي دیووالي ورځ ونمانځل شي

دیوی پوښتنی په ځواب کی قاضی حسین احمد وویل : موږ دعراق ،اردن ، ایران اوسعودی عربستان پر مشرانوټینگار وکړ

پاتې په (٦٣) مخ

دګلاسنوست اوپروسترویکاترپر دی لاندی دکرملین دوا کمنواستعماری اهدامونه یوه کتنه

عبدالوکیل

په روسیه کی د ګلاسنوست (آزاده سیاسی فضا) او پیسترویکا (بیا جوړونه) سیاست د روسی کمونستی استعمار (کلونیالیزم) او سپنیز و منګلوته نوی بخملی پوښونه جوړوی او تر څو پوري چه د روسانو جنګي ماشین مات نشي او ددوی نظامی قدرت له پښو و نه غورځول شی تر هغو پوری به نړۍ دویری او خطر کره وي .

کله چه روسانو دپراختیاغوښتنی سیاست د عملی کولو امکانات پیداکړل تردی دمه پوري ئی ځان ته دول دول خیري غوره کړی خو دهغه په بنسټ او ماهیت کی د توجه وړکوم بدلون دنړیوالی سولی او امنیت په ګټه ندی رامنځ ته شوی .

په روسیه کی د ۱۹۱۷ م کال د اکتوبر فاجعی څخه پخوا کله چه روسی « تزار» یا پادشاه دقدرت واګی په لاس کی نیولی ؤ د خپل پراختیاغوښتنی او استعماری سیاست په عملی کولو سره ئی د خپلی امپراطورۍ لمنی د افغانستان شمالی پولوته راورسولی او د منځنی آسیا مسلمان او خپلواک هیوادونه ئی په روسی امپراطوري پوري وتړل نو د افغانستان د نیولو په فکر کی شول خودیوي خوا د افغانانو جګړه ایز ،اسلامی او وطن خوښوونکی روحیه او داچه افغانی خاوری ته د استعماری قوتونو ننوتل اسان اما ساتل او تابع کول ئی ورته ګران او ناممکن دی اود بلی خوا روسانو استعماری رقیب (انګلیس) چه د افغانستان په جنوب او جنوب شرق کی ئی ورته مور چل نیولی ؤ ، دافغانی پنجدی د نیولو څخه وروسته د جنوب په لوری د مؤقت وخت لپاره دپراختیاغوښتنی څخه دده کول په خپله ګټه وبلل.

په کال ۱۹۱۷ م کی « دلینن » تر رهبرۍ لاندی په روسیه کی نړۍ ته نوي خطر رامنځ ته شو ، خو« لینن» او دهغه اندیوالانو خپل استبدادی او استعماری سیاست د صلحی ، د موکراسۍ او سوسیالیزم په شعارونو کی راونغښت او د«تزار» په واسطه اشغال شوی منطقی او دمنځنی آسیا اسلامی او خپلواک هیوادونه چه په تزاری روسیه پوري تړل شوی ؤویو ځل بیا د پرولتاریا دیکتاتوری او انقلابی بدلون په نوم زیراوزبرکړل. بیا ئی په بخارا ورودانګل چه وروسته دهغې له اشغال څخه ئې په هغه کی هم اسلامي نظام له منځه یووړ او زیات شمیر بخارایی مسلمانان او مجاهدین افغانی خاورې ته په هجرت کولو مجبور شول.

بخارائي مجاهدینو د افغانی اسلامی ورونو په مرسته د روسانو

په کمونستي استعماري امپراطوري باندي مرگوني گوزارونه وکړل خو دافغانستان ځوان شاهزاده اميرامان الله خان دروسانو په يوه خبرداري سره نه يوازي بخارايي مجاهدينو ته کومه مرسته ورنکړه بلکه خپله پوله ئي د بخارايي او افغاني مجاهدينو په جزګنېل کيږي،خو لينن په ۱۹۲٤ م کال کي له دنيا ولاړ او پر ځاي ئي شين توره غونډي ليوه (ستالين) رامنځ ته شو.

ستالين په داخل کي په غير روسي ولس باندي کوم چـه د روس د کمونستي رژيم دديکتاتوري لاندي ئي ژوند کاوه په وژلو بندي کولو ،

په دوهمه نړيواله جګړه کې روسانو ته د ستالين په رهبري په زړه پوري چانس برابر شو هغه دا چه د امريکا متحده ايالاتو ، انګلستان او د المان ضد يو شميرنوروپه جګړه کې ښکيلو هيوادونو سره ئي د المان په ضد ګډه جبهه جوړه کړه چه په نتيجه

> په ۱۹۱۷ م کال کي دلنين تر رهبري لاندي په روسيه کي نړي ته نوي خطر رامينځ ته شو ، خو لنين او دهغه انډيوا لانو خپل استبدادي او استعماري سياست د سولې ، دموکراسي او سوسياليزم په شعارونو کي راو نغښت او د تزار په واسطه اشغال شوې سيمي او د منځني آسيا اسلامي خپلواکځ هيوادونه يي يو ځل بيا دديکتا توري او انقلابي بدلون په نوم زير او زبر کړل.

مخ وتړله چه په نتيجه کي په بخاراکې هم اسلامي عبادت ځايونه وتړل شول، ملي خپلواکي ئي ورشنډه کړه او يو غير اسلامي نظام ئي پکې رامنځ ته کړ . همدا دلېنن د قدرت او ژوند په وخت کي روسي فوځونه په مغلستان (منګوليا) باندي ورغرش شول . او هغه ئي هم اشغال کړه چه تردي دمه پورې هلته روسي عسکري قواوي موجودې دي. نو دهغي زماني څخه ترننه پوري په ظاهري ډول مستقل اما په عمل او ماهيت کي د روس کمونستي امپراطوري

تبعيدولو ، شکنجي ورکولو سره لانوره هم ددموکراسي لاره وتړله او يوه وحشتناکه او ويرونکي فضائي رامنځ ته کړه . د ستالين په امر روسې فوځونه په چين کې د « ماؤتسا دونګ» تر رهبري لاندي له کمونستي ټولګيو سره د چين له خاوري څخه د جاپاني استعمار ګرانو د شړلو په پلمه يو ځاي شول او وروسته د بي شميره چينيانو دوژلو او ونيوپه توپولو سره وکولي شول چه هلته هم ستاليني ټيپه کمونستي رژيم اوسيستم رامنځ ته کړي.

کي د شرقي اروپاهيوادونه (پولند چکوسلواکيا ، هنګري (مجارستان) ، رومانيا ، بلغاريا او د المان يوه برخه چه څه موده د مخه د شرقي المان په نوم يادېده د خپلي کمونستي امپراطوري په لمن کي راونغاړل او په هغوي کي ئي د خپلي خوښي کمونستي رژيمونه رامنځ ته کړل.ددي په څنګ کي روسي ته ځيرمه د بالتيك بحيري پر غاړه غير روسي او خپلواك هيوادونه (ليتوانيا، استونيا ، لتوايا) ، درومانيا يوه برخه (مالداويا) او جاپاني يو شمير

جزیری ئی په مستقیم ډول سره په خپله امپراطوری پوری وتړلې.

د ستالین څخه وروسته «خورسچوف» د نسبتاً کم وخت لپاره په قدرت پاتی شو او همدا په اصطلاح د کلاسنوست او پرسترویکا سیاست اوتگ لاره ئې اعلان کړه . خو زرنې خپله اصلی خیره را څرگنده کړه او د « کیوبا » څخه ئی د امریکائی خطر په پلمه خپلی جنگی بیړۍ راتاو کړی او د «فیدل کاسترو » بدلون ئی په روسی ټیپه کمونستی رژیم بدل کړ. داسی معلومیده چه خورشچوف په بعضو کارونو کې د (K.G.B.) یعنی دروسانو استخباراتی یاپټو پولیسو د ستگاه له مشوری څخه غیر عمل کاوه نوئې د هغه پر ځای «برژنیف » وتهاکه او خورشچوف ئی د گوندی او دولتی کارونو څخه وشاړه .

دبرژنیف د قدرت په وخت کی هم د کمونستی رژیم ستنونه لکه څنگه چه ؤ په خپل حال پاتی شول خو په ظاهره ئې ددمو کراسۍ چیغی د خورشچوف په شان زیاتې کړی چه په اصطلاح د برژنیف د کلاسنوست اوپرسترویکا سیاست پیل شو.

روسان د ستالین په اواخرو او د برژنیف په اوایلوکی په نظامی اقتصادي او فرهنگی لحاظ څه ناڅه په پښوودریدل او اساسی عامل ئی داؤ چه له یوې خوا روسانود ختیځی اروپا هیوادونو اقتصاد چور او لوټ کړ او دبلی خوا هغه عالمان او پوهان چی په دغو هیوادونو خصوصاً المان کی ؤخپلی روسی خاوری ته بوتلل . همدارنگه په دوهمه نړیواله جگړه کی په ملیونو نیول شوي جنگي بندیانو او ملکی وگړوئی دلسو کالو څخه زیات د یو ی ختیځی د مرولو په بدل کې نه بلکه د خالی زړه خوری په بدل کی پری مشکل او سخت درانده کارونه وکړل. خو بیاهم دانسانی فطرت ضد اقتصادی اجتماعی اوایدیالوژیکی کړن لاره یعنې د خصوصی مالکیت لغو کول او بشری ضد ټولنیز سیاست د وخت په تیریدو سره دروسي کمونستی امپراطوری د اقتصادی ټولنیز پرمختگ په مقابل کی خنډ شول چه د غربی یاسرمایه داری هیوادونو په پرتله په ټپه ودریدو.

د کمونست گوندغړو او دولتی ارگانونو خصوصاً د (کی -جی- -بی) د یکتاتوری او خپل سری او په شخصی او دولتی ژوند کې د هغوی مستقیمه مداخله او آزاد لاس ، په روسی کمونستی امپراطوری کې بنکیل خلك د ژوند څخه بیزاره کړل . په عمومی ډول د خلکو د ژوند په سطحه کی د توجه وړ مثبت بدلون رامنځ ته نه شو . په مختلفو ادیانو خصوصاً په مسلمانانو باندی د دینی مناسکو په اجرأ کولو کی سخت بندیزونه ولگول شول .

د کمونست گوند او (کی .جی. بی) غړی ئې ددینی عالمانو اوامامت لپاره تربیه او وگمارل. خو پر خلکو باندی د کمونستی

> **ستالین د خپلی واکمنۍ په وخت کې په روسیه کی په غیر روسی اولس چی د کمونستی رژیم تر دیکتا توری لاندې یی ژوند کاوه په وژلو ، بندی کولو تبعیدولو او ډول ډول شکنجو ورکولو سره نوره هم ددیموکراسی لاره وتړله او یوه ویرونکی فضا یی رامنځ ته کړه.**

ایدیالوژی قبلول ، پرتیګه باندی
د میخ وهلو سره شباهت پیدا کړ،
په ګوندی او دولتی فرمانو نو
اوقوانینـو باندی انتقاد او یا
دهغوی سره مخالفت د مرګ ،
بندی کیدو ، سایبریاته د شاقه
کارونو پخاطر تبعید ولو او شانتاژ
(تهدید) سبب کیدل ، د کمونست
ګونـد او دولـت هـر نـاوړه او
دانسانیت ضد کړووړو ته ښه او د
روس د کمونستی استعمار ضد
اشخاصو، سازمانو نو او دولتو نو
ته بد ویل د روس کمونستی
امپراطوری ښکیلو خلکو کی
معمولی تحمیلی پروسه وګرځیده د
غیر روسی ملیتونو مورنی ژبی
ئی غیر رسمی اعلان کړی او د
هغوی پرځای ئی روسی ژبه رسمی
، هم په روسی الفبا باندی تبدیل
کړی شول . په ټولو جمهوریتونو
کی ګوندی او دولتی مهمی او
حساسی کرسی د تزار څخه را
نیولی تر همدی دمه پوری په
روسی ملیت پوری وتړل شوی ...
په باندینی سیاست کی هم هغه
پخوانی زوړ اووچ د چل ول څخه
ډك استعماری سیاست په مخ بول
کیده . روسانو په شمالی ویتنام
کی د نظامی تاوده بازارپه جنګ
کی پـه اقتـصادی ، کـلتـوری
،سیاسی ایدیالو ژیکی او نظامی
نفوذ شروع وکړه چه په نتیجه کی
تردی نن پوری دویتنام کورنی
اوباندینی سیاسی، اقتصادی ،
نظامی او ټولنیزه تګ لاره د
کریملین څخه رهبری کیږی .
په واسطه «انګولا» تر خپل تسلط
او اقـتـدار لانـدی راولـی. پـه
وروسته پاتی ساتل شویو هیوادونو
کی ئی د نفوذ او استعمار نوی
تاکتیك شروع کړ هغه دا چه په نو-
موړو هیوادونو کی ئی نظامی
کودتـا ګانو تـه د سازمان پـه
ورکولو سره د هغوی سره نظامی
، اقتصادی، سیاسی او کلتوری
اړیکی تر هغو زیاتولی چه به ئی
تر خپل تسلط او کامل نفوذ او
اقتدار لاندی راوستل . ټولو هغو
هیوادونوته چه وسره ئي سیاسی
یا نظامی اقتصادی او کلتوري
اړیکی درلودی د (کی .جی .بی)
غړی سفیرانو او د سفارتو نو د
غړو ، مشاورینو
اوکارپوهانو په جامو کی لیږل

روسانو په شمالی ویتنام کی د نظامی تاوده بازار تر څنګ په اقتصادی ، کلتوری، سیاسی او ایدیالوژیکی نفوذ شروع وکړه چی دهغی په نتیجه کی تر نن ورځی پوری د ویتنام کورنی او بهرنی سیاسی، اقتصادی او ټولنیزه تګلاره له کریملن څخه رهبری کیږی.

وګرځوله آن تردی چه د غیر روسی
ملیتونو دژبو الفبا چه په غیر
رسمی ډول لاژوندی پاتی شوی ژ
روسانو د برژنیف تررهبری لاندی
وکولی شول چه د « ویتنام» په
واسطه «کمپوچیا» او د «کیوبا»
کیدل چی دټولو نوموړو مطالبو
بنسټ او ماهیت نه یوازی په
اوسنیو شرایطواو زمانه کی تغیر

نه دی خوړلی بلکه خیری او کړنلاري یی ډیري غولوونکی او خطرناکی شویدی.

روسانو ددوهمی نړیوالی جګړی څخه وروسته د افغانستان تر اشغالولو پوری خپل ځان د زاړه استعمارپه بڼه نه ؤ ازمویلی دوی یو داسی وطن ته رامخه کړه چه د سکندر مقدونی او چنګیزخان څخه نیولی تر انګلیسانو پوري نه یوازی د افغانستان دتابع کولو او تر تسلط لاندی راوستلو هڅې شنډی شوی بلکه کله چه ناکام خپلو خاورو او هیوادونو ته ستانه شوي امپراطوری یی هم له لاسه وتلی دي.

روسانو دامیر امان الله خان د باچاهی د وخت څخه را په د ی خوا کله چه ددوی اولین سیاسی نماینده ته په کابل کی ځای ورکړل شو ، دا فغانستان د اشغال اوددی لاری څخه ګرمو اوبو ته ځان ایستلو عملی کړه وړه ګړندی کړل د افغانستان د پخوانی پادشاه محمد ظاهر په وخت کی نظامی اړیکی د نورو اقتصادی ، سیاسی او کلتوری اړیکو په څنګ کی پیدا او ټینګی شوی چه دغه اړیکی د افغانستان د تباهی او بربادی خورا مهم او څرګند عامل وګرځیدلی.

افغانستان د محمد ظاهر د پخوانی تښتیدلی ټولواك په دوره کی د نورو خطرونو او نیم ګړتیاؤ په څنګ کی د دوو لویو او تباه کوونکو خطرونو سره مخامخ شو . یو دا چه د محمد ظاهر دټولواکی په دی څه کم نیمه پیړی کي دافغانی ټولني اقتصادي او ټولنیز پر مختګ ته کمه توجه هم ونه شوه نو ځکه خو افغانستان خارجی تأثیراتو او دهغوی د نفوذ لاندی راوستلو ته بڼه زمینه برابره شوه. بل دا چه دهمدی پاچا داقتدار په زمانه کی روسانو ته دا موقع په لاس ورکړل شوه چه د افغانستان اقتصادی ، نظامي ، سیاسي ،کلتوری او ایدیالوژیکی اړخونه په غیر مستقیم ډول د خپل کنترول او نفوذ لاندي راولی .

د محمد ظاهر د ټولواکی په دوره کی هم د روسانو سره د محمد ظاهر دوستی وازمویل شوه هغه دا چه په ۱۳۵۰ هـ ش کال په افغانستان کی د قحطی څپی خوری شوی خو دافغانستان په جنوب او جنوب شرقی او غربی منطقو او ولایتونو کی د هغی احساس خورا کم ؤ لاکن د شمالی نادوست اوربشتنی دښمن ګونډی ته څیرمه ولایتونو کی د قحطی د اور لمبی اوچتی شوی . او خلکو د وبنو په خوړلو ، لوږو او زامنو په خرڅولو سره هم چاره ونه شوه او د افغانستان نورو منطقو ته په هجرت مجبور شول ، په همدی له درد څخه ډکه مرحله کی روسانو زموږ د ټولواك په څیر دی حالت ته ړوړو کتل او د هیڅ ډول مرستی او همدردی لاس یی ورنکړ. په دی وخت کی په ریښتیا چه د افغانستان شمالی ولایتونه د ډیرلوی مصیبت سره لاس په ګریوان ؤ، اما د

> د روس «کی .جی .بی »د خپلی امپراتورۍ د بقاء لپاره تر ټولو دا بڼه وګڼله چی پخوا له دې چی د روسی کمونستی امپراتورۍ دیګ د خپل فشار په وسیله وچوي پخپله یی ترې سر پوښ پورته کړ.

همدی شمالی ولایتونو څخه یعنی د شبرغان ،(جوزجان ولایت مرکز څخه) روسانو ته د طبیعی گاز په صدور کی هیڅ ډول قحطی او کم والی احساس نه شو . د افغانستان د پخوانی جمهور رئیس محمد داود په دوره کی نوموړی اړیکی نوری هم پراخی او پیاوړی شوی . دروسی اجنټانو او طرفدارانو د زیاتیدو په څنگ کی د افغانستان د خلق دموکراتیک گوند په نوم خپل مزدور گوند ته په پټه سازمان ورکړل شو . او دا د (کی .جی .بی) د مخصوصی څانگی یوه مهمه پروژه وه نوموړی سازمان په ۱۳۴۳ هـ ش کال په علنی ډول فعالیت شروع کړ. او مزدوران لا نور تقویه کړی .

د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور خونړی کودتا څخه وروسته نوموړی گوند ته ټول سیاسی قدرت نقل شو خود څو میاشتو څخه وروسته روسانو ته ثابته شوه چه نور نو ددوی مزدور گوند او دولت له منځه ځی نو یی خپل پوځونه زموږ د پاکی اسلامی او ملی غرور څخه ډکی خاور ی ته رامرش کړل په دی مرحله کی د یوه طرفه روسان د خپلو کورنیو اقتصادی، سیاسی ، ایډلوژیکی او کلتوری پرابلمونو سره لاس په گریوان ؤ اود بله طرفه‌یه چټکی سره په افغانستان کی سخته اقتصادی ضربه ولیده او په نړیواله سطحه چی افغانستان یوه سړه او بی اغزو گوله نده چه تیره او هضم شی نو د افغانستان څخه د خپلو عسکرو دوتلو په فکر کی شول .

بالاخره د برژنیف د ژوند په اواخرو کی د روس کمونستي امپراطوری په داخلی او بین المللی سختو شرایطو کی راگیره شوه.

(کی، جی ،بی) د خپلی امپراطوری د بقا لپاره تر ټولو دا بنه وگنله چه پخوا له دی چه دروسی کمونستی امپراطوری دیگ د خپل فشار پواسطه وچوی ، پخپله تری سرپوښ پورته کړي .

(کی ،جی ،بی) غوښتل چه دغه پلان (د کلا سنوست او

د افغانستان د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه په وخت کی له روسانو سره د افغانستان اقتصادی ، سیاسی او کلتوری اړیکی ټینگی شوی چی همدغه اړیکی د افغانستان د بربادی او د اوسنی زړه دردونکي حالت د رامینځ ته کیدو سبب شوی.

د ۱۳۵۲ هـ ش کال د سرطان کودتا څخه وروسته نوموړی گوند ته په دولت کی د توجه وړ ونډه ورکړل شوه . روسانو وکولی شول چه محمد داود په وجود کی خپل مخالفین وځپي او لاس په نامه کی هم بشری ضد او استعماری سیاست د پخوا څخه لانورهم څرگند او افشا شو .

کله چه روسانو د افغانی مجاهدینو بی دریغه مقاومت او سربښندنه ولیده او په دی پوه شول پریسترویکا په نوم پروگرام) د « اندروپوف » په وجود کی چه د (کی .جی .بی) په لاس کي قرار درلود عملی کړي . خود اندروپوف سره د هغه پستورگووفا ونکړه او ژوند یی ورختم کړ. «چرنینکو»

چه يو معيوب او بودا انسان ؤ د
ژوند کمپله هم زر توله شوه.
(کي ،جي ،بی) ددی پلان د تر
سره کولو لپاره « گورباچف »
مناسب ترين شخص وباله او هغه
يی د کمونيست گوند او دولت په
راس کی وټاکه.

د گرباچف دوه مخی سياست :

په اوسنيو شرايطو کی روسان او
ددوی مشر گورباچف د روسی
کمونستی امپراطوري د سر
نوشت په درشل کی قرار لری .
ديوی خوا دی امپراطوري په څه
دپاسه اويا کالونو کی داسی
اقتصادی ،سياسی ، ايدیالوژيکی
، کلتوری او ټولنيز جوړښت غوره
کړ لکه د يوه بارکښ ماتی شوي
پښتی چه بی ځايه او غير نورمالی
پيوند شوی وی او په دی غير نور
مالو پښو سره د اوسنی نړيوالی
ټولنی د پرمختيا او تکامل د بهير
سره سم گړندی تگ نه شی کولی
نو که چيری دا معيوب بارکښ
همداسی په خپل حال پريږدی نو
بيا خود نوموړی بهير څخه وروسته
پاتی کيږی او وروسته پاتی کيدل
يی د مرگ معنی لری او که چيری
د نوموړی بارکښ پيوندونه
ماتوی او پکی داسی د اپريشن
عمل سرته رسوی تر څو چه د
نورمالو او طبيعی پښوپشان
نوموړی پيوندونه جوش وخوری ،
د دوو لويو خطرونو سره مخامخ
کيږی .

اول داچه نوموړی جراح په دی
باره کی کومه تجربه نلری چه شايد
مريض د عملياتو په جريان کی له
منځه ولاړشی (دابی تجربه
جراح د گورباچف دده د کی جی
بی نژدی انډيوالانو څخه عبارت
دی)

د وهم داچه که فرضاً د اپريشن
پروسه په بريالی توگه سر ته
ورسيږی نو بيا نوموړی زاړه او
کمزوری بارکښ د پيوندونو بيا
جوړول چه « پريستروييکا » ورته
وائی ، امکان ډير کم دی .

دروسانواو ددوي د مستعمرو
اقتصادی ،سياسی ، کلتوري ،
ايډلوژيکی او ټولنيز و جوړښتونو
غير طبيعی لاره وهلي ده چه اوس
نو نوره هم د کنډواو کپرو سره
مخامخ شوی دی او که چيري
نوموړی اقتصادي ، سياسی ،
کلتوري ، ايډيالوژيکی او ټولنيز
جوړښتونه يوی تقريبی طبيعي
لاری (آزاد بازار ، دموکراسی
اودنيم بند خصوصی مالکيت
برقراری ....) ته را گرځوي بياهم
بي شميره پر ابلمونو سره مخامخ
کيږي نو ځکه ئی دبرياليتوب
امکان خورا کم دي .

ياپه بله ژبه گرباچف او دروس
اوسني رهبري غواړي چه دروسانو
استعماري هدفونه په بله شيوه او
تاکتيك سره عملي کړي .

کله چه گرباچف قدرت ته ورسيد
ورسره سم ئی دکلاسنوست
اوپريسترو يکا پروگرامونه اعلان
او دعملي کولو لپاره ئی په يو
سلسله اقدامونو لاس پوري کړ .
په گوندي او دولتي سازمانونو، او
ارگانو نو کي ئی دانتقاد او بيا
جوړ وني فضاء په رامنځ ته کولو
پيل وکړا وداسي ئی ښودله چه
گني دموکراسي او آزاده سياسي
فضاء رامنځ ته شوه . خو په
واقعيت کی د ۱۹۱۷هـ ش کال
فاجعی څخه راپدی خواتر گرباچف
پوری په هغو مره گړندی او لويه
پيمانه چه د گرباچف مخالفينو
برطرف کيدل او د هغوی پرځای
ده او دده سياست ته د وفادارو
افرادو نصب کول لکه چی د

گرباچف د رهبری په وخت کي عملی شول ، بل وخت ئی نمونه نشته.

خلک آزادی او دموکراسی تسخیروی، خو گرباچف یی له پاسه ورته بخشش کوی . د گرباچف او (کی ، جی،بی) په دستور دشوروی په یوه شمیر جمهوریتونو کي د روسی ژبی تر څنگ د هغوی د مورنۍ ژبی د رسمی کولو او دهغوی په جمهوریتونو کی په داخلی چارو کی د استقلالیت د زیاتوالی په ملاتړ مظاهرو او مارشونو ته سازمان ورکړل شو تر څو د شوروی او نړۍ خلکوته وښیی چه په اصل کی خو سوسیالیزم د خپلواکۍاو تکامل ضد سیستم ندی بلکه یو شمیر محدود اشخاص ؤ چه سوسیالیزم ئسی بدنام کړ. اما کله چه د شوروی آذربایجان مرکز د باکو په

ښارکی د خپلواکی او دموکراسی د مصنوعي ناروسوروپه شاکی واقعی اسلامی او ملی آزادی غوښتونکی جنبش راڅرگندشو او د اذربایجان جمهوریت واقعی او کامله خپلواکی او استقلال ئی اعلان کړ. نو گرباچف او دهغه پتو انډیوالانو ډیر زر خپله پخوانی اصلی او بدمرغه څیره راڅرگنده کړه اوداذربایجان نر او ښځی ، زاړه او واړه ئی د روسی ټانکونو لاندی او په وینو کی لت پت کړل د گرباچف د قدرت په وخت کی د افغانستان څخه شوروی نظامی لښکری تیښتی ته مجبوری شوی او وایستل شوي . نو آیا دا په دی معنی ؤ چه نورنو د گرباچف سیاست د کلونیالیزم ضد سیاست دی او که لانور هم خطرناک شویدی .

په افغانستان کي روسی اشغالگرو نظامی قوتونو ستر او شدید عملیات د لمړی ځل لپاره د گرباچف د قدرت په وخت کي تر سره کړل . هغه د خوست لویی ولسوالی ته په ځدرانو باندی د څو ورځو لپار ه ځمکنی لاری د خلاصولو په منظورؤ . په همدی ترتیب د سکاد او اوراگان خطر ناك توغندی او نوی مهرن ټانکونه اوالوتکی د همدی ددموکراسي څخه ډکي څیری (گورباچف) د رهبری په وخت کي په کابل کی خپل مزدور او لاس کینولی ډلی تیلی ته ورکړل شول او دروسانو په مستقیمه لارښونه او دحالت په ډیرو ورو او غیر نظامی اهدافو باندي هم استعمال کړي شول .

همدارنگه تر هغو پوری چه روسی عسکر په افغانستان کی ؤ د روسی مزدورانو په څنگ کی روسی عسکر هم له منځه تلل . اما اوس د یوی خوا د روسانو عسکری قواوی په امن او دتلفاتو څخه خلاص شوی او دبله طرفه یی خپله اغائی او مستقیم قوماندانیت پر خپلو گوډاگیانو جاری ساتلی دی .

د روسی کمونستی استعمار لاندی د هغی ډلی څخه د شرقی اروپاپه تولو هیوادونو کی یی رهبري او حکومتونو ته د خپل خوښی سره سم شکلي تغیر ورکړ. خو په حقیقت او عمل کي همدا اوس د نومورو ټولو هیوادونو نظامي ، اقتصادی ، سیاسی او نورو ټولیزو ډگرونو کی د قدرت شریانو نه د روسی مزدورانو په لاس کی دی.

ختیځ المان ته خو خپلواکی

پاتی په (٥٤) مخ کی

ورکوی چه د لویدیځ المان سره یوځای شی . اما څلور کاله به روسی عسکری قوتونه پکی پاته کیږي او وروسته له څلوروکالونو به بیا تصمیم نیسی چه نور د څو کالو لپاره د هغوی پاته کیدلوته ضرورت شته.

د روسانو لپاره په اروپا کی د غیر منسلکو هیوادونو مینځ ته راتلل خورا ګټور دی او که چیری اروپا د اتومی او ستراتیژیکو پرغلیزو سلاګانو څخه پاکه شی نو دا به د امریکا متحده ایالاتو امنیت ته نه بلکه د روسی کمونستی امپراتوری امنیت ته ګټه ورسوی

په دی وروستیو وختونکی داسی انګازی خپریږی چه شاید لویدیځ المان د ناټو په پکت کی پاتی شی او ختیځ المان هم په هغه باندی ورګډشی. نو داد شترنج لوبه ځکه د خنداوړ ده چه روسان غرب ته خپل کور ورجاروی خو د بام څخه پورته په ختیځ المان کی به روسی فوځونه میشته وی خو ددی آزادی به هم ولری چه بی طرفه او یا دناټو غړی شي . دا په رښتیا نوی تیپ چل ول دی . یا دا چه لویدیځ او ختیځ المان به یووی خو بیا هم لویدیځ المان به په ناټو کی وی او ختیځ المان غیر منسلك . یو بام او دوه هوا. یا داچه که ختیځ او لویدیځ جرمنی دواړه دیو قوت او یوه هیواد په بڼه په ناټوکی غړیتوب ولری او په ختیځ جرمنی کی میشته روسی فوځونه باقی پاتی شی او لکه څنګه چي پاتی کیږی هم . نو عجیبه ننداره چه ټول وجود یی دزاړه اشنا په غیږ کی خود زلفو سرونه د نوی اشنا سره شریك بولی.

ددی ټولو په څنګ کی یو بل مطلب هم د توجه وړدی هغه دا چه د روسانو لپاره په غرب کی استخباراتی نفوذ څه ناڅه مشکل شویدی . د غرب له نظامي او غیر نظامی تخنیك څخه په لازم ډول خبرتیانشی تر لاسه کولی. نو په ختیځ المان کي د تربیه شویو مخفی سازمانو نو او ارګانو نو په اروندکیدای شی چه روسان هغه څه تر لاسه کړی کوم چه په بل ډول ناممکن ؤ. په هر صورت که روسان په رښتیا خپلو مستعمرو لکه د ختیځی اروپا ، مغلستان ، ویتنام ، لاؤس او یو شمیر وروسته پاته ساتل شوؤ هیوادونو ته خپلواکي ورکړل نو روس پوری تړلو مسلمانو او غیرمسلمانو جمهوریتونو ته دی خپلواکی او استقلال ورکړی خو رښتیا دا ده چه خپلواکی به زورا خستل کیږی نه په رضا.

ګرباچف او دده د کلاسنوست او پریسترویکا سیاست د غربی هیوادونو د رهبرانو له خوا تشویق او تائیدیږی. خو دلته به سوال داسی مطرح کړو چه فرضاً ګرباچف په هغه اقتصادی او ټولنیز پلان کی چه په نظر کی ئی لری او غربیان ورڅخه ملاتړ کوی بریالی شی او روسان د یوه لوړ او پرمختللی تخنیك او اقتصاد څښتنان شی نو آیا ددوی استعماری او حیوانی سیاست به تغیر ؤمومی ؟ او آیا د غرب او ټولی نړی لپاره به یونوی خطر ایجاد نکړی؟ بلی په هغه صورت کی به همداسی وشی یعنی ټولی نړی ته به یونوی او جدی خطر رامنځ ته کړی .

ډیره بده یی لاداچه غربی هیوادونو

پاتی په (۳۳) مخ کی

آخرین مهلت ...

کابل بخاطر حفظ قدرت سیاسی می کنند اما شورای قوماندانان جهادی افغانستان بطورمنصفانه ازکمونیست ها تقاضا نمود تاسبب مرگ وویرانی بیشتر هموطنان ما ووطن ما نگردند اواین هوشدار واخطار مطابق است با دساتیر مقدس دینی ما .

لذا کمونیست های حاکم درکابل باید ازین اخرین مهلت وچانس که برایشان داده میشود استفاده نموده در برابر عزم ملت وتصمیم برحق جهاد وانقلاب اسلامی تسلیم گردند درغیر ان جهاد ادامه داشته سرنوشت شان همان خواهد بود که اردوی به اصطلاح سرخ روسی درافغانستان بان مواجه شد .

بابري جومات ...

اوس دهغوخولو کری خبری اورم چی خبره ورته نکره سمه ما

دلته داخبره سپینول غواړو چی دهند گورگانی واکمن داسی خوك نه وو چی داسلام اوعقیدی مینه اوغم دی ورسره وی ؛ مونږ خو ددغو حضراتوپه ایمان اواسلام کی شك گنو اودوی ورته مریدان نیسی که له دی یی تیرشو چی په خپله مغولی واکمن بابر ویلی دی چی :

بابر به عیش کوش که عالم دوباره نیست. دشخړی مرکزی موضوع خو په هند کی دپښتون قیادت پرځای دمغولی واکمنی رامنځته کیدل و، او مغولو به دخپل گرانښت دزیاتون له پاره زیاتره دهندوانو لمن نیوه اوان چی اکبرخو ورته په اسلام کی هم دیر ادلون بدلون راوست ، داسی چی تراسلام به زیات هندومت و .

نواوس به کوم عقل اومنطق داومنلای شی چی دغسی اقتدار خوښی واکمن دی ، چی ترپښتون یی هندوسکه گانه ، داسی یو کاروکری چی دهندوانوعزیزانویی خوش نه ایسی .

هو ! لکه ځینولیکوالو چی ورته نغوته کری ، داربره اصلاً پیرنگیانودخپلو شومو استعماری مقاصدودترلاسه کولو له پاره راپیدا کریده . هغوی دمسلمانانواوهندوانو په خپلوکی دجنگونوله پاره دامساله راپورته کړه اوددی کارله پاره یی ځینی هندوحضرات (!) هم له ځان سره یوه خوله کړل.

دبابری جومات مساله پرون هم یوه سیاسی مساله وه اونن هم سیاسی مساله ده، خورنگ مذهبی ورکول کیږی نوله اسلامی امت نه زمونږ غوښتنه داده چی دناجانی پومبه به نور له غوږ وویاسی ،چی زیاتی دنړیوال کفر دخنداکیږو .

دمزدور رژیم په زندانونوکي

دبندیانو لیدلی اوریدلی حالات

سید محی الدین هاشمی

په تیرپسی: «۹»

یوعرب مجاهدچی ایمانی جذبی اوله جهاد سره زیاتی مینی دافغانستان جهادی سنگرونو ته بیولی او بیا دملحدینو پر ضدوسله وال جهاد په جریان کی دروسانو دمزدور رژیم دافرادو له خوا نیول شوی اوڅو کاله یی په بیلابیلو محبسونوکی تیر کړی خپل لیدلی کتلی حالات داسی بیانوی:

«زه په پغمان کی له مجاهدوافغانانو سره یو ځای دملحدینو پر ضد په جهاد بوخت وم ، یوه ورځ چی له خپلو ملگرو څخه گوښه شوی وم دنابلد تیا له مخی ددښمن په افرادو ورپیښ شوم ، او هغو ی ونیولم.کله چی هغوی زه تلاشی کړم او زما په جیب له موجوده اسنادوڅخه ورته دا پته ولگیده چی زه یوعرب یم نوسمدستی یی ماته په سپکو سپورو ویلو پیل وکړ او په لغتو اوسوکانو یی زیات ووهلم څه وخت وروسته یی زه کابل ته واستولم او په یوه داسی تنگه اوتیاره خونه کی واچولم چی خپلی پښی می هم پکی سمی نشوی غځولای.

زما په لاسونو اوپښو کی یی زولنی واچولی . دتحقیق په وخت کی به یی سرښکته ځوړندولم ما دغلته پنځه میاشتی تیری کړ ي. په دغه موده کی دوی په ما دتعذیب اوشکنجی هره طریقه عملی کړه . کله به دوی په ما جبراً ډیری اوبه وڅښلی دومره اوبه چی زماپه خیټه کی به نور ځای پاتی نه شو اوبیا به یی زما په وهلو پیل وکړ کله به یی زما دپښو گوتو ته برق راکړ . ځنی وخت به یی دتحقیق په دوران کی یو تن زما په خیټه او بل پر تټر ودراوه ، په دی توگه به زه ډیر په تکلیف کیدلم اوترهغه به می چیغی وهلی چی بی هوش به شوم اوچی په هوش به راغلم نوبیا به یی هماغه عمل تکراراوه . کله به یی زما دبدن حساسو اونازکو اعضاوته برق ورکاوه اودرانه وزنونه به یی ترډیره وخته ورپوری ځوړند پر یښودل) چی داحالت زما لپاره دزغم وړنه ؤ . کله-کله به یی زما خوله په کوم ټوکر وتړله او په لغتو اوڅپیړو به یی زما وهل پیل کړل . دقضای حاجت په وخت کی یی هم داسی ډول ډول تکلیفونه راکول چی زه یی اوس نشم بیانولای .

نوربندیان په ځانگړی توگه مجاهدافغانان یی ترما هم زیات ځورول . مثلاً دهغوی، مور ،خور، میرمن اویا نورنژدی اقارب یی راوستل اوله هغوی سره به یی ډیره بده وضع کوله ترڅوهغوی ددوی دخوښی سره سم اعتراف کولو ته اړشی . قیدی مجاهدمجبور ؤ چی ددوی له

خوښې سره سم اعتراف وکړي . چې په نتیجه کې به یې هغه په شهادت ورسول شو اویا به عمر قید شو .

یوه ورځ یې زه دتحقیق لپاره یوې خونې ته بوتلم ، هلته یوروسي مشاور زما دقسمت دفیصلې لپاره ناست ؤ هغه لومړي له ماسره ډیره بده وضعه وکړه اوبیا یې ماته زما ددوسیې له مخې د(۱۷۵)مادې مطابق دلسو کالو بند سزاواوروله .

دفیصلې له اورولو څخه وروسته یې لومړي زه داذیت تعذیب رسولومرکزته بوتلم او بیا یې له هغه ځایه د«پلچرخي »په نوم زندان ته وروستلم . دغه جیل اته بلاکونه لري اوهریوبلاک یې څلورپوړیزدي اودا بلاکونه دیوې دایرې په څیر سره یوځای واقع دي . ددې بلاکونوڅارنه د«کې ، جي ،بي »وسله والو ساتونکو کوله په دغه زندان کې دخلق دبانډ غړي هم بندیان وو. یوځل یې زه په یوه خونه کې له خلقیانو سره واچولم . دوی دا کار قصداً ددې لپاره کاوه چې خلقیان اومجاهدین خوهسې هم غوښنه اوچاره دي په دغه ترتیب یې موږ ته روحي فشار راکول غوښتل.

څه موده وروسته یې بیا موږپه دې نامه چې بهرنۍ اتباع یو په محبس کې د«زون »په نامه یوځای ته بوتللو په زندان کې بهدپوښتنې ځواب په وهلو ټکولو سره ورکول کیده یوځل زه یوپوځي پخپلو بوټونو دومره ووهلم چې دپښې هډوکي مې مات شول ، بیا مې چا علاج هم ونکړ.

یوه ورځ ما دیوه تن عسکر په بده وضع احتجاج وکړ ، په نتیجه کې یې زه له کوټې څخه وویستلم اودومره یې ووهلم چې دپښې هډوکي مات شو .

په محبس کې بندیان په بیلابیلو ناروغیو اخته وو، ځنې په سرطان اوځنې په نرۍ رنځ،خو هیڅا دهغوی علاج نه کاوه . ډیر زندانیان له همدغو ناروغیو له امله په حق ورسیدل .

یوه ورځ یو زنداني دیو روسي له خوا دومره ووهل شو چې دوهلو په جریان کې په شهادت ورسید اوبیا یې دنوروزندانیانو دتیر ایستنې لپاره اعلان وکړ چې دسرطان ناروغۍله امله مړشو .

دپلچرخي په زندان کې وهل ټکول یوورځنی معمول ؤ بندیان یې یو ځای کیناستلو اویو له بله خبرو کولو ته نه پریښودل .

موږ چې په کوم بلاک کې وو ، هلته تلویزیون هم موجودؤ خودپروګرام زیاته برخه یې دمجاهدینو پر ضد پراخو تبلیغاتو ته وقف شوې وه .

کله به یې پکې دهغو اعتراف کوونکو مرکې هم ایښودلې چې ددوی له خوښې سره سم به یې پرې جبراً اعتراف کړې ؤ . اوهمدارنګه دغه پروګرامونه داسې عیار شوي ووچې افغانستان ته دروسانو راتګ پکې یولوی رحمت اونیك اقدام ښودل کیده .

یوځل ما اویوبل زنداني له محبس څخه دتیښتې پروګرام جوړکړ خو په دې کاربریالي نشو .

اوبالاخره ترڅو کاله بند څخه وروسته زه له څوتنو نورومجاهدینو سره یوځای له هغو روسي اسیرانوسره دتبادلې په صورت کې چې مجاهدینو نیولې وو له قیدڅخه خوشې شوم . ✱ (۱)

(۱) د بصیرت مجلې (۶-۷)ګڼې دیوخپور شوي مضمون لنډیز

محمد عمر «اخګر»

نظامي ښوونه اوروزنه

په ژمي کې دمدافعې اوتعرض خصوصیات

دژمی ساړه دواوری او باران موجودیت پخپله دمحاربوی فعالیتو نو په اجرا باندی زیات تاثیرلری نو دجزوتامونو قوماندانان دژمي دتعرض داحضارولو په صورت کی مکلف دی چی :

- په دقیقه او بلاانقطاع توګه د اسلحی ،مخابروی وسایط ، دتحفظ وسایط احضارول .
- پخپل وخت او زمان سره دژمنی البسی اکمال او دپرسونل مکمله ستر واخفا .
- لازمه تدابیراتخاذول دپرسونل دساړه وهنی څخه او هم پخپل وخت او زمان سره دجزوتامونو اکمال په ګرمو غذایی موادولکه (چای، دوډی) .
- کنترول دکلك والی دسکی وسایطو دحرکت دواوری په مخ .
- بیش بینی او معاونت دتوپچی رفاقت څخه دوراندی تګ په وخت کی .
-قوماندان مکلف دی چی دمحاربی په جریان کی دزخمیانو دجمع کولو په مقصد ټول تدابیر ونیسی او د ساړه وهنی څخه دزخمیانو حفاظت وکړی.
- دمستقیم تماس په موجودیت کی معمولاًبدون له سکی څخه هجوم اجراکیږی که چیری دواوری ضخیمه طبقه موجوده وی هجوم دسکی دپاسه اجراکیږی .
- دسریع تعرض داجرا په مقصد جزوتامونه په وسیع پیمانه دسکی دپاسه فعالیت کوی سریع زړور فعالیت ددشمن په جناح او شاته حتی واړه جزوتامونه اجراکولای شی .
- که چیری تعرض دخرابو لاروڅخه اجراکیږی پرسونل ته باید اضافه غذایی مواد ورکړشی .

دمدافعی خصوصیات په ژمی کی:

دساړه او واوری موجودیت خپله دمدافعی محاربوی فعالیت په اجراباندی تاثیر واردولی شی.دخندقونو ،چقوریګانو او نوره انشاتو دواوری په نازکه طبقه کی حفراوایستل کیږی .

او دواوری پواسطه سترو اخفاکیږی .دکلکی واوری پواسطه تقویه

کیږی . دداوری دلویو توپیو څخه دضد تانك موانع لپاره استفاده کیږی او هم ددشمن دترصد نه دخوندی کیدو په مقصد جوړیدی شی .

دجزوتامونو قوماندانان باید زیاته توجه لاندی موادو ته راوګرځوی .

- دایمی احضارول داسلحی او انفرادی تحفظی کیمیاوی وسایط .

- دایمی احضارات محافظه دمدافعی تاسیساتو او موانع پاکول دخندقونو اورلرونکو وسایطو ځایونه او هم دترصد کرکینچی او تیرکشونه دداوری اوریدلو په وخت کی .

- تدابیر داوبو دمجرا لپاره اوهم دخندقونو دیوالونو تحکیمول دداوری

-پرسونل ته په وخت اوزمان سره دګرمی البسی ، ګرمی دوډی اوچای تهیه کول .

دتدابیرواتخاذول ، دپرسونل دانجماد په صورت کی دزخمیانوجمع اوری یی.

- دګرمو محلاتو تاسیس دګرمولواو ترتیباتو موجودیت اوهم تدابیر اتخاذول داورلګیدو څخه .

-ژرژرتبدیلول دمترصدینو اوهم نوکریوال ماشیندارجدی کنترول دخدماتو په ګرموموضع کی بالخاصه دشپی اوطوفان په وخت کی .

قوماندان مکلف دی چی چارپیره ترصد تاسیس کړی اوخاصه توجه جناحینواودمدافعی محل ته وګرځوی اوهم هغه برخوداراضی ته چی استقامت دسکی وی ترڅو دشمن دسکی په اجراسره عبورونکړی . دزیات ساړه ، اوربښت ، طوفان اودشپی لخوا مترصدین زیات اودپلټنی افرادموظف شی .

ژمنی ستراواخفا زیات اهمیت لری تدابیر دستراواخفا عبارت دی دژمنی البسی څخه استفاده دداوری اچول په هغه پارچه داراضی باندی چی دتوپکو اوماشیندارو دانداخت په اثر توره شوی وی هغه لاری چی تګ راتګ په صورت کی توره شوی وی اوهم مخنیوی دبخاری لوګی څخه دورځی لخوا.

په هغو شرایطو کی چی ختی اوخړی وی لاندی مواد مدنظر نیول کیږی:

-داوبو دجمع کولو چـوړ ناسیس ، داوبو خارجیدلو مجراګانی دموضع ګانو دخندقونو اودارتباط خندقونه ددیوالونوتحکیمول اودهغو له چپه کیدو څخه مخنیوی .

- دعلاوه ګی ذخایرو لرل لکه جبهه خانه ، اعاشه مواد ممداوساختمانی مواد .

-دمستورومحلاتو احداث دالبسی تجهیزاتو دوچولو اوهم دپرسونل دګرمو لو په مقصد.

- اوهم دتدابیرو نیول اسلحی اومحاربوی تخنیك ته چه په خړو ختو ونه لړل شی .

دخوست په مرکزکی ددښمن پر پوستو دمجاهدینو دعملیاتو لړی روانه ده

ددښمن دوه باروړونکی الوتکی راغورځول شوی دی

پردښمن دمحاصري کړی ورځ په ورځ تنګیږي

میرانشاه،دمنبع الجهاد خبریال : دجهاد سنګرونوڅخه په رارسیدلو خبرونو کی ویل شوی دی چی دعقرب دمیاشتی په دریمه نیته دالحاج مولانا جلال الدین حقانی ترقیادت لاندې دسلمان فارسی (رض) دغنډ مجاهدینو دراکټ اندازپر پوستو بریالی عملیات وکړل چی دهغو په نتیجه کی دښمن ته دسر اومال درانه تلفات اوښتی اواووه‌تنه عسکر له پنځو. کلاشینکوفونو ،یومیل ګرینوف اویومیل وسط راکټ سره دمجاهدینو دګروپ قوماندان جګړن فهیم ته تسلیم شوی دي .

خبرزیاتوی چی دنوموړی غنډ میړنیو مجاهدینو دعقرب دمیاشتی په لومړی نیته دلری ویشتونکی توپ په وسیله دخوست په هوایی ډګر کی یوه باروړونکی الوتکه ویجاړه کړه .

دیوبل خبر له مخی دعقرب دمیاشتی په (۱۷)نیته دمزدوررژیم دګلم جم قوا (۱۱) تنه پوځیان دسلمان فارسی (رض)غنډ مجاهدینو ته تسلیم شوی دي .

خبرزیاتوی چی دغو عسکرو له ځان سره دوه راکټ لانچرونه ، دوه



پی کا ماشینگنی
او(٨)کلاشینکوفونه راوړی دی .
دیوبل خبرله مخی دعقرب په
اوولسمه نیټه د«درملکه»په سیمه
کی دگلم جم نور(١٢) تنه
مجاهدینو ته تسلیم شوی دي .
دیوبل خبرله مخی قهرمانو

مجاهدینو دعقرب په (٢٣)نیټه
په خوست کی ددښمن یوه انتونوف
الوتکه ویجاړه کړه .

خبرزیاتوی : دغه الوتکه چی په
مهماتو باروه اوغوښتل یی په
خوست کی دمزدوررژیم کلابندو
پوځونو ته مهمات ورسوی

،دمجاهدینو دجگ خولو توپونو
په وسیله ولگیده اوورغورځیده.

خبرزیاتوی چی دخوست په مرکز
د ښارشاوخوا پوستو اوهوایی
ډگرباندی دمجاهدینو دعملیاتو
لړی روانه ده ، پر دښمن دمحاصری
کړی ورځ په ورځ
تـــنـــگـــیـــږی ـــ
اومحصورپوځونچی زیاتره یی په
زوراوجبرسره دعسکری خدمت ته
سوق شوی اوپه پوځی قطعو کی
دبندیانوپه شکل ترخارنی اونظارت
لاندی دی ، دتیښتی دلاروچارو
په لټه کی دي دموقع په ترلاسه
کولوسره مجاهدینو ته تسلمیږی .

د منبع الجهاد البم

الحاج مولوي جلال الدين حقاني له (النصيحه) سره په مرکه کي:

څنګه چي ملګري ملتونه دکفري طاقتونو تر تاثير لاندی دي ګدون هيڅ بيروني قوت ته دهيواد په داخلي چاروکی

له پرتم او وقارڅخه ډکه نوراني څيره، غوړيدلي او پراخ وچولي، توره، ګڼه ښايسته ږيره، لوړه ښکلي او مناسبه پيپه، پر سر کله هيبتناکه او رنګه بنګه پګړي او کله ګردي خولي، له الهي کبريا پرته د نوروټولو دنياوي قوتونو په وړاندي دمقاومت او ټينګار الګو - مجاهد لباس په تن کي، چي خبري کوي نو له هري جملي يي د سپيڅلتيا او صدق وړانګي ځليږي، د جهاد جذبه او د مبارزي احساس يي د خبرولو ټکي ټکي څخه ښکاريږي، د ريښتني او درونډ شخصيت خاوند د پخي ارادي او پولادي عزم مالك، دا شخصيت او دا اتل مجاهد د افغانستان د مجاهدينو ګران او مدبر لارښود د افغانستان د جهاد روح روان داسلام يو ستر جنرال اوفاتح استاد مولوي جلال الدين حقاني دي چي د (١٩٨٩)کال دډسمبر په دريمه نيټه ما (غلام محمد صادق)او د چارسدي د اسلاميه دارالعلوم مهتمم اوشيخ الحديث الحاج مولانا ګوهر شاه صاحب د خوست په دنګو او اسمانڅکو غرونو او وياړمنو سنګرونوکي له هغه سره د ليد ني کتني وياړ تر لاسه کړ او هلته مو له مولانا حقاني سره د النصيحة مجلي له پاره يوه مفصله مرکه ثبت کړه خودځينو مصروفيتونوله امله دهغه په خپراوي کي ځنډ راغي ترڅڅي چي جناب عمر سعيدي صاحب دغه کارته مخي راونغښتي او مرکه يې له کست څخه پياده کړه چي دادي النصيحه درنولوستونکو ته يي وړاندي کوو:

پوښتنه: د خپرو شويو خبرونو له مخي ډاکتر نجيب دا پيشنهاد کړي چي د ملګري ملتو نو ترادارې او څارني لاندي په افغانستان کي انتخابات تر سره شي خو د مجاهدينو له خوا دا وړانديز ردشوي دي، تاسي پدي رابطه څه نظر لرئ؟

ځواب: بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصلي علي رسوله الکريم

د نجيب دا وړانديز چي دملګرو ملتونو تر څارني لاندي دي په افغانستان کي انتخابات وشي او په هغو کي دي له مجاهدينو سره کمونستان هم برخه واخلي دا جريان د افغانستان د جهاد او اسلامي شريعت مخالف کاردي ځکه خو مجاهدين هيڅکله هم دانشي منلي.

له بلي خوا که د ملګرو ملتونو تر څارني لاندي انتخابات وشي نودا دول بهرني لاسوهنه هم ګڼل کيداي شي واقعيت دادي چي دملګرو ملتونو سازمان دکفري طاقتونو تر تأثير لاندي دی او مجاهدين د هر ډول بهرني مداخلت او لاسوهني مخالف دي.

همدارنګه نجيب څنګه چي پر افغانستان دروسي پر غلګرو

ځکه خو افغان مجاهد ولس د دغه سازمان په دلاسوهنې اجازه نشي ورکولی

پوځونو د تیري په فاجعه کې لوی لاس لري او د افغان ولس پر خلاف دروسانو په تولوجنایاتو کې شریك دي،ځکه خو نجیب او دده ملحد او مزدور گوند په هیڅ ډول حقوقي او قانوني توګـــــــه د خپلو بې شمیره جنایاتو له مخې نشي کولی د افغان مجاهد ولس د سر نوشت په رابطه څه ووایي .

له بلې خوا لکه مخکې موچې وویل افغان مجاهد ولس د ملګرو ملتونو په ګډون هیڅ بیروني قوت ته د هیواد په داخلي چارو کې د لاسوهنې اجازه نشي ورکولی .

پوښتنه : په بین المللي سطحه د مجاهدینو عبوري حکومت د څلورو اسلامي هیوادونو له خوا په رسمیت وپیژندل شو خو نورو اسلامي هیوادونو لا تراوسه پدې رابطه کوم قدم ندي پورته کړي،ستاسي په نظر داکوم خنډ ونه دي چې هغوي د مجاهدینو حکومت لا په رسمیت ندي پیژندلي ؟

ځواب : اسلامي هیوادونو له یوه اړخه د مجاهدینو عبوري حکومت په رسمیت پیژندلي دي ځکه د زیاترو اسلامي هیوادونو له خوا د مجاهدینو د عبوري حکومت د کورنیو چارو له وزیر څخه رسمي دعوتونه کړي او له بلې خوا په سعودي عربستان کې د اسلامي خارجه وزیرانو په کنفرانس کې دافغانستان چوکۍ چې دا یوولس کاله دتعلیق په حال کې وه،دمجاهدینو عبوري حکومت ته رسماً وسپارل شوه.

پدې رابطه له (٤٥)اسلامي هیوادونو څخه (٤٠) په اتفاق سره مجاهدینو ته ددغه چوکۍ سپارلو په پلوی رایه ورکړه پدې کې لیبیا او عراق په اصطلاح مستنکفه رایه ورکړه ـ یواځې سوریې ، فلسطین او یمن یې مخالفت وکړ خو په پای کې په بشپړ اتفاق چوکۍ مجاهدینو ته وسپارل شوه .پدې توګه دا اقدام د مجاهدینو پر حکومت څرګند اعتراف ؤ خو دا هم ښایي وواېو چې د اسلامي حکومتونو له خواد مجاهدینو دحکومت دپه رسمیت نه پیژندل له یوې مخې له اسلامي امت او جهاد سره ښکاره زیاتي او بې انصافي ده .

د حیرانۍ خبره داده چې دغو هیواد ونو به همیش مجاهدینو ته ویل چې کله روسي پوځونه ماته وخوري او د مجاهدینو فتو حات او پر مختګونه زیات شي نو دا دوخت غوښتنه او ضرورت دی چې مجاهدین یو اسلامي حکومت جوړ کړي او دا بیا د اسلامي هیوادونو مکلفیت دي چې دا حکومت په رسمیت وپیژني او هر اړخیز ، مرسته ورسره وکړي .

خو کله چې مجاهدینو حکومت جوړ کړ او حکومت یې هم

دیوې شورا له خوا چي په هغې کي دهیواد دبیلا بیلو طبقو نمایندګان مخوراو قوماندانان شامل‌وي‌مجبور کړ‌خو اسلامي هیوادونو خپلي وعدې او مسؤولیتونه هیر کړل له غفلت او بي وفایي څخه یي کارواخیست چي د اسلامي هیوادونوله خوا د افغانستان له جهاد سره یوه‌ډیره لویه جفااو بي انصافي ګڼلي شي .

پوښتنه :دعبوري حکومت دجوړیدو پر وخت دا فیصله شوي وه چي حکومت به داخل ته انتقالیږي ، خوتر اوسه حکومت لا داخل ته نه دي لیږدول شوي ددي علت څه دي ؟

ځواب : دا رښتیا خبره ده چي د حکومت د جوړید وپر وخت دا پریکړه شوي وه چي حکومت به د هیواد په دننه کي خپل فعالیت ته دوام ورکوي زما په عقیده کله چي حکومت داخل ته انتقال نشو نو همداخبره د حکومت دکمزورتیا سبب وګرځیده او دغو تبلیغاتو ته یي لاره اواره کړه چي عبوري حکومت نشي کولي په داخل کي دملت د ټولو طبقو همکاري اوملو ي راجلب او تا ئید تر لاسه کړي او له همد ي لاري دمجاهدینو د حکومت پر خلاف پروپاګند پیل شو له همدي ځایه ده چي دیوه سیکولر حکومت په لارکي د کفري طاقتونو له خواهلي ځلي نوري هم پراخه شوي او د مجاهدینو دحکومت له دغه وړ کمزوریو او نیمګړتیاو څخه یي پوره استفا ده وکړه .

زموږ هیله ده چي عبوري حکومت پر خپلو تعهداتو وفا وکړي او خپل فعالیتونه د هیواد په داخل کي تر سره کړي .

پوښتنه : دعبوري حکومت له جوړیدو وروسته ددي پر ځاي چي د مجاهدینو، تر منځ اختلاف پاي ته ورسیږي داسي ښکاري چي دااختلافات نور هم زیات شویدي په تیره دحزب او جمعیت تر منځ خوـ نړي جنګونه رامنځ ته شوي دي پدي رابطه تاسي څه نظر لرئ ؟

ځواب : زما په خیال کله چي په افغانستان کي ددووقبیلویا اړخونو تر منځ په کوم‌ځ کړکیچ او مخالفت منځ ته راځي جهادي تنظیمونو ته ښایي هغه خپلو ځانونو ته منسوب نه کړي او پدغه اختلاف کي جهادي تنظیمونه ځانونه ککړ نه کړي .ډیر ځله داسي پیښه شوي چي ددووقبیلو ترمنځ جګړه پیښه شي یا د کومو اړخونو تر منځ پخوانۍ دښمني او شخصي مخالفت موجود وي او یو طرف به یوه تنظیم کي وي بل طرف په بل تنظیم کي دلته پکار داده چي تنظیمونه لدغو مخالفتونو څخه ځان وژغوري ـ کله نا کله په تصادفي او اتفاقي توګه داوړجنجالونه هم را منځ ته کیږي چي دهغې په رابطه بیا خود-

غرضه ،او لا ديني قوتونه ناروا تبليغات کوي او د پروپاګندپه توګه ترې استفاده کوي .

لکه چې مخکې مووويل دعبوري حکومت لويه کمزوري داده چې وېي نشواي کولئ داخل ته منتقل شي اوديوه حکومت له پاره چې د باور کوم مواصفات ضروردي هغه ترلاسه کړي که چيرې داسې شوي واي نو ښکاره خبره ده چې د خپل منځي کشمکشونو مخه به هم نيول شوې وه .له بلې خوا به قوماندانانو هم له حکومت څخه پلوي کړې وه او ټول جهادي قوتونه به په يوه مرکزيت او محور راغونډ شوي وو بيانوطبعي خبره ده چې داختلافاتو مخه پخپله نيول کيدله .

پوښتنه :دروسي پوځونو له وتلو وروسته دا تبليغات روان دي چې اوس په افغانستان کې مسلمانان پخپلو منځوکې جنګيږي تاسې ددغو تبليغاتو په ځواب کې څه وايې؟

ځواب : ديو نيم مليون مسلمانانو قاتل کمونستان او داسلام دښمنان چې دوولس کاله يې د مسلمانانووينې توې کړې او داسلام په وړاندې يې له دښمنۍ ډک دريځ نيولى دي دغو کسانو ته په هيڅ توګه مسلمان نشي ويل کيدي دا زنديقان دي .

که داسلام تاريخ ته يو نظر واچوونو د حضرت ابوبکرصديق (رض) د خلافت په زمانه کې چې ځيني کسانو يواځې داسلام د يو رکن (زکات)له اداءکولو څخه سر غړونه وکړه نو د اسلام خليفه له هغوي سره داسې جهاد وکړ لکه څنګه چې له يهودو ،نصاراوواو بت پرستو سره يې کاوه،پداسې حال کې چې نجيب او ډلګۍ يې د اسلام له احکامو څخه په ښکاره سر غړونه کړې،کمونستان دي -د مسلمانانو قاتلان دي دالله تعالي له وجود څخه منکر دي - قرآنکريم او جوماتو نه يې سوځولي نو دې ته څنګه څوک مسلمان ويلې شي، الله تعالي فرمايي : له ملحد و او کفارو سره تر هغې جهاد کوئ تر څو چې فتنه په بشپړ ه توګه له منځه نه وې تللې.

داسلام دښمنان او دغرب د ډله ايز ارتباط وسايل دا تبليغات کوي چې اوس خو روسي پوځونه له افغانستان څخه وتلي اوس هلته په جنګ کې ديو ورورله لاسه بل ورور وژل کيږي خو په اسلام کې د ورور تعريف داسې ندي لکه چې غربيان يې کوي.

داسلام پيغمبر (ص) تر ټولودمخه له خپلو خپلوانو او قوم

سره جهاد شروع کړ اوس څوک دانشي ويلې چې العياذبالله پيغمبر (ص) ورور وژنه کوله،پوره لس کاله دغه ملحدين له روسي يرغلګرو پوځونو سره دافغانانو په قتل عام کې دهغوي د لاس د ښوې آلې په توګه استعماليدل،روسي پوځونه مجبور شول چې له افغانستان څخه ووځي که نه نودغو ګوډاګيانو خو نه غوښتل چې روسان دې له افغانستان څخه ووځي اوس هم دنجيب مزدور رژيم او کمونستان ددې پر ځاي چې پخپلو تيرو جناياتو تو به وباسي او ځانونه ملت ته تسليم کړي له لجاجت څخه کاراخلي او دروسي الوتکو بمونو او وسلو په زور افغانان وژني او کورونه يې ورانوي .

پدغه عناصرو کې يو ټ نه داسې ده چې هغه کافران دي او ديوي حربې په توګه داپروپاګند کوي بله ډله غربي مشر به خلك دې دهغوي په وړاند ې دکفر او اسلام مسله مطرح نده او ديوه سيکولر حکومت دقيام له پاره دا ډول تبليغات کوي او بله ډله هغه ده چې دموضوع په عمق نه پوهيږي له سادګۍ څخه دا خبرې کوي او دکفري او کمونستي قوتونو له مکارۍ او توطئوڅخه بې خبره دي.

نو دمجاهدينو دا پوخ عزم دې چې داسلام ددښمنانو، ټولې حربې او مانورې به له ،خاوروسره خاورې کوي اوپه هيواد کې به داسلامي حکومت تر قيام پورې جهاد جاري ساتي .

پوښتنه : په ایران کې میشته مهاجرین له عبوري حکومت سره په زیاترو مواردوکې اختلاف لري که ددغه اختلافاتو په پس منظر لږه رڼا واچوئ ډیره مهرباني به مووي .

ځواب : په ایران کې میشته مهاجرین ۲/۳ برخه سنیان دي چې هغوي په پاکستان کې له جهادي تنظیمونو سره هیڅ اختلاف نلري . ښایي ووایو چې په ایران کې شیعه مذهبي مهاجرین هم شته چې هلته یې ورې ورې ډلګۍ جوړې کړې دي.

دایران عراق جګړې له بندیدو وروسته ایراني واکمنو په پراخه پیمانه په ایران کې د مجاهدینو او مهاجرینو په چارو کې لاسوهنه پیل کړه هلته یې د (۸) ګوندو نو په نوم ځانګړې تشکیلات را منځ کړل او یو ځل خو داسې خبرونه هم خپاره شول چې دایراني حکومت په وساطت د نجیب رژیم غرب پلووعناصرو او په ایران کې دشیعه ډلګیو تر منځ ائتلافي حکومت جوړیدونکي دي ، داسې خبرونه هم خپاره شوي چې ایراني واکمن هلته میشته افغان مهاجر دې ته مجبورول چې د عراق خلاف په جنګ کې برخه واخلي له همدې امله یې په زرګونو مهاجرله سرحدڅخه په زوراړولي او دنجیب رژیم ته یې تسلیم کړیدي رښتیا خبره داده چې په مذهبي لحاظ پدي معنا چې شیعه بیل تنظیمونه ولري اوسني بیل دا دافغانستان له جهاد سره ډیر ستره جفا ده،اصلاً دافغانستان جهاد په ژبني ،قومي ،مذهبي او سمتي حلقو کې محصورول دجهاد په زیان تمامیږي او همدا خبره دهیواد ملي وحدت ته‌زیان کوي .

پوښتنه : دمرحوم جنرال محمد ضیاءالحق دحکومت په وخت کې دمجاهدینو هر اړخیزه مرسته کیده،له هغې وروسته د بې نظیر بوتهو د حکومت په راتلوسره د مجاهدینو په مرسته او پلوۍ څه بدلون راغلي که څنګه ؟

ځواب :څنګه چې زه په پاکستان کې ډیر نه اوسیږم څکه خوله حکومتو نوسره نه مخکې زما اړیکې وې او نه اوس شته څکه خو پدې اړه څه نشم ویلې خو د ښو ښبانو له مخې داسې ښکاري چې دمرحوم ضیاالحق له شهادت وروسته دمجاهدینو په رابطه څه نا څه مشکلات راپیدا شویدي .

پوښتنه :ځینې حلقې وایي چې کله مجاهدین په جنګ کې پوځیان او نور حکومتي افسران ونیسي نوهغه بیا وژني پداسې حال کې چې که کافر هم توبه وباسي نومرگ یې روانديٍ،پدې رابطه تاسې څه وایئ؟

ځواب : مجاهدین چې کوم حکومتي افراد ونیسي دا په دریو ډلو کې ویشلې شي:یوه هغه ډله چې په زورسره له کمونست حکومت سره یو ځای شویدي او جبري عسکری ته نیول شوي دا ډله چې کله هم ونیول شي نو هغوي سربیره پردې چې په عزت سره خوشې کیږي بلکې دلارې کرایه ،خرڅ او لباس هم ورکول کیږي .

دوهمه ډله هغه دي چې عقیدتاً کمونست ندي خو د معاش اوپیسو په مقابل کې دکمونستانو په پوځ یا ملیشا کې شامل شویدي او له مجاهدینو سره جنګیږي دادله چې کله ونیول شي نو تریوه وخت یې مجاهدین پخپلو مرکزونو کې ساتي او څارنه یې کوي ،اسلامي احکام او ارشادات ورته بیانوي او دا درس ورکوي چې ددنیوي ګټې له پاره له کفاراو ملحدینو سره مله نشي او دپیسو په مقابل کې ددین او وطن ددښمنانو په صف کې ونه دریږي کله چې دوي دا تعهد وکړي چې نور به دکمونستانو خدمت نه کوي نو بیاخوشې کیږي،البته که دادواړه دلې له مجاهدینو سره کارکول وغواړي هغوي ته کاراو وظیفه هم ورکول کیږي او لازمه مرسته هم ورسره

کیږي.

دریمه ډله هغه دي چې عقیدتاً ملحد او کمونست دي له اسلام او خدای (ج) څخه منکردي دا ډله کسانو ته په اسلامي شریعت کي زندیق ویل کیږي دشریعت له مخې ددغه ډلي په رابطه داحکم دي چي که یې له جګړي مخکې توبه ویستله او مسلمانانو ته تسلیم شول نو ددوي هر څه په امن دي خو ددغه خبري تحقیق به ضرورکیږي چي ددوي توبه او تسلیمدل خو به کومه تو طئه نه وي تر څو دهغوي دتخریبکارۍ او جاسوسۍ مخه ونیول شي .

هغه څوك چې مجاهدینو ته تسلیم شي او توبه وباسي هیڅکله هم هغه ندي وژل شوي دا هم دجهاد او مجاهدینوپرضد د روانو تبلیغاتو د سلسلي یوه کړۍ ده .

پوښتنه : که دخپل ژوند او مبارزي په اړه څه رڼا واچوئ ډیره مهرباني به مووي ؟

ځواب : ما په ډیر وړکو الي کي قرآنکریم زده کړ ، د (١٦)کلونو به وم چي زموږ کورني له خپلي علاقي څخه ولیږدیدله او دیوه دیني عالم په څنګ کي موواړول او هلته مي ددیني علومو په زده کړه پیل وکړ.وروسته مي له نوروديني طالبانو سره یو ځاي دعلم په تحصیل پسي دسفر لاره ونیوله - لس کاله مو دافغانستان په بیلا بیلو سیمو کي په مختلفو مدرسو کي تحصیل وکړ،بیا پاکستان ته راغلم یو کال مي دکوهاټ ضلعي دټل په جزیه مدرسه کي تیر کړ ، بیا داکوړه خټک په حقانیه مدرسه کي شامل شوم پنځه کاله مي هلته تحصیل وکړ له فراغت وروسته مي دیو کال لپاره هلته د تدریس چارې سرته ورسولې .په حقانیه مدرسه کي له یو کلن تدریس وروسته مي دحج دفریضي داداکولوقصد وکړ دغه وخت په هیواد کي دظاهرشاه واکمني وه دکمونستانو فعالیتونه خورا زورکي روان وو- له خلکو سره دا اندیښنه موجوده وه چي افغانستان دکمونیزم دښامار کومي ته نژدي کیدونکي او دبخاراتاجعه بیا تکراریدونکي ده زما هم دحج له سفر څخه یو هدف داؤچي پدي دوران کي دکمونستانو دناولوعزایمواو فعالیتونو په رابطه دتبلیغ اویولړتماسونولـه لاري دخلکواذهان تنویر او پدي اړه دخلکوتوجه راوګرځوم.دحج له اداکولو وروسته زمونږدهیواد علماوولـه ما څخه غوښتنه وکړه چي داسلامي دعوت او تبلیغ لـه پاره دهیواد په داخل کي په مبارزه او فعالیت پیل وکړم . داوخت کمونستانو په ډیره بي شرمۍ دوخت دحکومت دملاتړ لـه اړخه دمظاهرو ،میتنګونو ،مارشونو او نشراتو له لاري دکمونیزم دترویج لـه پاره دجذب او جلب بـه لارکې ، ګرندی فعالیتونه کول .

دظاهرشاه حکومت کمونستانو ته پوره آزادي ورکړې وه،هر چا به چي دکمونستانو مخالفت کاوه هغه یې تهدیدول او زندانونوته یې اچول ځکه چي دحقانیه دارالعلوم له

داسلام لومړني خلیفه حضرت ابوبکر صدیق (رض) دخلافت په زمانه کی ځیني کسانو یواځی داسلام د یوه رکن (زکات) له اداکولو څخه سر غړونه وکړه خو داسلام خلیفه له هغوي سره داسی جهاد وکړ لکه څنګه چی له کفاروا او مشرکینو سره یې جهاد کاوه پداسي حال کې چی نجیب او ډلګی یې له اسلام څخه منکر ، ملحد ، کمونستان او دمسلمانانو قاتلان دي او الله تعالی (ج) فرمایي : له ملحدینو او کفارو سره تر هغې جهاد وکړئ تر څو فتنه په بشپړه توګه له منځه نه وي تللي .

طالبانو څخه چي شمير يي (۸۰۰) تنو ته رسيده نيمايي د افغانستان اوسيدونكي وونو ما غوښتل چي دحج له اداءكولو وروسته بيرته په حقانيه مدرسي كي تدريس ته دوام وركړم څو له دغوافغاني طالبانو څخه ددعوت او مبارزي په لار كي يو منظم قوت جوړ كړاي شم او دا به بيا په هيواد كي داسلامي انقلاب له پاره بنيادي نقش تر سره كړي او له همدغي لاري به دټول افغانستان د علماووتر مينځ دارتباط كړى ټينګه شي،څكه خو ما غوښتل چي لږ تر لږه څلور پنځه كاله په حقانيه مدرسه كي تدريس جاري وساتم او له هغي وروسته كله چي له دغو طالبانو او علماووڅخه يو منظم تشكل او قوت جوړ شي نو په هيواد كي به دمبارزي حركت په لار واچووخو دځينو دوستانو دډيراصرارله مخي زه افغانستان ته ولاړم اودتدريس سلسله مو شروع كړه،هلته مو ديو لوي جومات او مدرسي بنسټ كيښود او دعلماووسره مو د ارتباط سلسله ټينګه كړه او داسلامي دعوت خپراوي ته مو متمي راونغښتي دكمونستانو په خلاف مو حركت او مبارزه پيل كړه دسيمي علماء مويه يومبارزاتي محور راغونډ كړل،نژدي دوه كاله مو ددعوت كار پر مخ بوت پدي وخت كي داوُد خان كودتاوكړه او دحكومت واګي دكمونستانو لاسونو ته ولويدي،دداوُد خان په كابينه كي كمونستووزيران ګډون درلود دحكومت نوري چاري هم دكمونستانو لاسونو ته ولويدي څكه خو مونږ دداوُد دحكومت خلاف خپل تبليغي فعاليتونه نور هم ګړندي كړه.حكومت هم زمونږ پر خلاف ډيرسخت اقدامات وكړل،څو ځله يي زندان ته واچولم خو د ولس د فشار او مخالفت له مخي به يي بيرته پريښودم تر څو چه مونږ د ګرديز ، خوست ،كابل ، غزني ،كندهار او جلال آباد له علماووا و خلكو سره رابطه ټينګه كړه دقبايلو له لاري مو څه نا څه اسلحه تر لاسه كړه او دداوُد خان دحكومت پر خلاف مو وسله وال جهادشروع كړ داوخت حكومت زمونږ كور محاصره كړ زه پدي وخت كي په كور كي وم نژدي دري ساعته زمونږكور محاصره ؤ پدغه وخت كي زه پدي وتوانيدم چي له كور څخه ووځم وروسته مي كورنۍهم غرونو ته راوستله اونژدي دري مياشتي مو په غرونو كي تيري كړي. يو ځل حكومت پر مونږ حمله وكړه څلور ورځي زمونږاو د حكومت تر منځ جنګ روان ؤ څو حكومت په شا تګ ته مجبور شو خو زمونږ محاصره يي جاري وساتله په مونږ د خوراك ټولي لاري وتړلي شوي ترڅو چي مونږ دغرونو له لاري دپاكستان قبايلي سيمو ته هجرت وكړ، پدي وخت كي دهيواد دځينو نورو برخو څخه هم مسلمانانو او علماووهجرت

پاتې په (۵۲) مخ كې

الحاج مولانا نظام الدین «حقانی» د«منبع الجهاد»سره په مرکه کي :

روس-امریکا دواړه دجهاد پرضد په توطئو اوسازشونو لګیا دي ځکه خوافغانان ددوی غونډواوخبرو ته هیڅ توقع اوامید نلري

پوښتنه : څرنګه چي عبوري حکومت تقریباًدسقوط سره مخامخ دي ستاسو په فکر باید کوم ډول پروګرام اوطرحه رامنځ ته شي ؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم نحمده ونصلي علي رسوله الکریم اما بعد! دعبوري حکومت طرحه لکه څنګه چي په مدینة الحجاجکي د۱٤ کسبر هیئت له خوا جوړه شوي وه ټیک وه خو دا چي وروسته پري عمل ونشو اواوس هم ګدوډي په کي موجود ده بیله خبره ده که اوس هم په هماغه طرحه عمل وشي او په اتفاق او اتحاد سره عبوري حکومت داخل ته انتقال کړی شي دادمجاهدینو دپاره دکامیابۍ خبره ده .

پوښتنه : څرنګه چي په تیرو ورځو کي دملحد رژیم خارجه وزیر هندوستان ته تللي ؤ اونجیب هم هند ته سفر کړي داسی ښکاري چي دافغانستان دکمونست حکومت اړیکي به دهند دحکومت سره نوري هم ټینګي شي ایا داکار به په جهادمنفي اغیزه ونه کړي ؟

ځواب : دکابل دکمونست حکومت دخارجه وزیر اویا پخپله دنجیب تګ هندوستان ته دا په مجاهدینو کوم تاثیر نلري ځکه دلومړي وخت څخه هند دروسانو سره یو ځاي دمجاهدینو پرضد د خپل ټول توان څخه کار اخیستي اواوس چي روسانو ماتی خوړلي نوهند هم څه نه شي کولي داداسي مثال لري لکه پښتانه چي وایي:خاوري راغلي په ایرو پوري واړول ، باد راغي ایري خاورې ټولي سره یوړي .

دیادولو وړده چي دهند په مقابل کي دکشمیرمسلمانان راپاڅیدلي اوجهاد یي پیل کړي دي اوانشاالله چي دلجهاد به بري ته رسیږي .

پوښتنه : ویل کیدل چي دبش او ګورباچوف داوسنۍ غونډ ې په خبروکي دافغانستان ربړه هم شامله وه خو دخپرو شویو خبرونو له مخي داسي ښکاري چيدوي دواړه کومي نتیجي ته نه دي رسیدلي پدي رابطه تاسي څه نظر لري . ؟

ځواب : دبش ګورباچوف غونډي ددي دپاره نه دي چي دنړۍ دخلکو اوخصوصاً د مسلمانانو دپاره دي خیروغواړي بلکي ددي دپاره دي چي دواړه په څه ډول دنړۍ هیوادونه دخپلو

ځانونو غلامان وګرځوي اودافغانستان
په مسئله کي هم دتوطئو،سازشونو
منافقت څخه کار اخلي روس همدا
اوس دکابل له رژیم سره له پخوا
زیاتي پوځي مرستي کوي خودا مجاهدینو
په مرستو کي ډیر کموالي راغلي دی
ځکه خوویلي شو چي دادواړه کفري
طاقتونه دمسلمانانو پرضد په
سازشونو اوتوطئو لګیا دي،له همدي
امله افغانان ددوي خبروته هیڅ امید
نلري .

پوښتنه : فرانسي اونورو اروپایي
هیوادونو دروسانو دوتلو څخه
وروسته خپل سفارتونه دکابل څخه
وویستل اواوس فرانسي بیرته خپل
سفارت په کابل کي پرانستلي دي په
دي هکله که خپل نظر څرګند کړي
مهرباني به مووي. ځواب : دفرانسي
حکومت سوسیالستي ډوله حکومت
دی.کله چي روسان وتښتیدل نوله
دوي سره هم ویره پیدا شوه اودخپل
سفارت کار کوونکي ئې دکابل څخه
وایستل مګر په کابل کي دروس
دګوډاګي حکومت په دوام سره
دفرانسي حکومت ته دافکر پیدا کیدل چي
مجاهدین به ونشي کړاي کابل ونیسي
بي ځایه ده ځکه خو اوس دهغوي
دسفارت کارکوونکو هم په دي
اعتراف کړي اووایي چي دحکومت
دااقدام بي ځایه ؤ ځکه چي اوس
پرکابل دپخوا په نسبت جنګ شدت
اوپراختیا پیداکړیده .

پوښتنه : سره صلیب په کابل کي
خپلي طبي مرستي زیاتي کړي دي
دوي وایي چي په کابل کي
دمجاهدینو په راکټونو باندي ښځي
اوماشومان لګیږي اودسره صلیب په
شفاخانو کي دماشومانو تعداد ترپخوا
زیات شوي دي دبلي خوا دعبوري
حکومت صدر صبغت الله مجددي په
یوه مرکه کي ویلي دي چي مونږ به
خپل جهاد ته ادامه ورکوو خو په
کابل باندي دراکټونو ویشتلو چي په
هغې باندي ښاریان دمنځه ځي
مخالفت کوو ستاسي نظر په دي هکله
څه دي ؟

ځواب : په جګړه کي مرګ ژوبله
ضرورکیږي خودا ښکاره خبره ده چي
دجنګ ددوام مسوولیت دنجیب
دمزدور رژیم اوروسانو په غاړه دي
مجاهدین مجبور دي خپل جهاد جاري
وساتي اخر مجاهدین به ترکومه پدي
نامه چي په جګړه کي دښارونو تباهي
راځي خپلي حملي ځنډوي .

مونږ یوځل بیا وایو چي په
افغانستان کي دمرګ ژوبلي ټول
مسوولیت اودجګړي ددوام وخیم
عواقب دروس اودنجیب رژیم په غاړه
دي مجددي صاحب چي کومه خبره
کړي دا به ده دکومي شخصي
ملاحظي اوپالیسي له مخي کړي وي
خو دقران حکم پدي هکله څرګند دي .

جهاددشعراوادب په پلوشوکی

سور دیو ته!

سعید رحیم

تکهٔ سره دېوهٔ زهٔ منم چې تابهٔ
تل پهٔ سرو انسانانو ویروول
پهٔ هیبتناکهٔ حرکتونو بهٔ دې
بلا قامونهٔ دجهان ویروول
پهٔ پنجورو سرو لاسونو بهٔ دې
دا انسانانو وجودونهٔ زبېښل
پهٔ فولادي تېرو نوکونو بهٔ دې
د مظلومانو اندامونهٔ زبېښل
د سرهٔ ټوپ پهٔ پاکهٔ ځمکهٔ بهٔ دې
د استبداد مظاهرې کولې
د پردو خپلو پهٔ کورونو بهٔ دې
دچاچې یادشي نو حملې کولې
دخولو زارو وینې توې بهٔ دې
مدام بې خوفهٔ بې خطرهٔ شکلې
دغریبانو سپینې اوښکې بهٔ دې
د هر انجام نه ناخبرهٔ شکلې
د هېوادونو پهٔ حقونو به دې
د هوس لوبې کرولې مدام
داولسونو په قتلونو بهٔ دې
خونړۍ سترګې سرولې مدام
د تمدن سپینې رڼا تهٔ بهٔ دې
پهٔ تور باطن زړه کښې تېرې ساتلې
پهٔ مینه خوښ انسانیت تهٔ بهٔ دې
دوبې پهٔ وینو کښې چړې ساتلې
نهٔ دې ملګرې نهٔ دې خپل پېژندل
بس خو چې هر څوک وو دا لوبهٔ دې
څوک بهٔ دې هم چې چرتهٔ بناد ولیدل
دا دې عادت وو چې خوړلو بهٔ دې
دوېرې نوم دې او رېدلی نهٔ وو
دچا پهٔ سرا یسار بېدلې کلهٔ
انسانیت دې وینښ لیدلی نهٔ وو
تهٔ له ظلمونو او رېدلې کلهٔ
خو چې زما د قام پهٔ لوری راغلې
نوم دې پهٔ غوږ چې دکابل واورېدو
نو دوارهٔ لاسهٔ دې توبې تهٔ جوړ کړل
دوېرې نوم دې هم اول واورېدو
ایلهٔ دخپل ظلم پهٔ خوند پوهه شوې
ایلهٔ دې خپلهٔ بربادي ولیدهٔ
دخپل ظالم زړهٔ دعادت نهٔ خلاف
تا د مظلوم جهان بنادي ولیدهٔ
اوس دې وسهٔ انسانانو دنیا
ستا پهٔ تیبت شوی سرولرونهٔ کوي
ستا پهٔ ستم فخر کوونکی خلق
اوس ستا پهٔ مات تندی ویرونهٔ کوي
لوګی لوګی له افغانانو لوګی
چې مظلومان یې زړور کړو دلته
دبې وسۍ دخوب جوهوکښې اودهٔ
شنهٔ زمریان یې راببر کړو دلتهٔ

* * *

بویهٔ چې ټول انسانیت دنړۍ — دافغانانو دغیرت نهٔ زار شي
دخوابزهٔ ژوند دخوبولتونو پهٔ نوم — چې د اسلام د صداقت نهٔ زار شي
چې ترابدهٔ جاودان پاتې شي
چې دواړو کونو کښې شادان پاتې شي

دجهاد خاطره :

دخاورې ارزانې

ثریالی غاشي

دخونکارو سرو لبنکرو په دوران کې
دوطن دښتې درې په وینو سرې وې
ټول هېواد دیرغلګرو له ستمه
سره تبې ؤ، په زړو سوې پرګنې وې

* * *

چاوی کدې له وطن ځنې بارکړې
دخونکارو سرو لبنکرو له ستمه
څوك وتلي وو له کور تاوده موړچلوته
دوطن د آزادۍ په بنکلی تمه

* * *

میږ خپل ځای خوښي کړی ؤ کینې ته
له کسانه ایشېدل دخلکو زړونه
دهرچا زړه به دغچ نشترتوړن لـو
چې بهکله اخلو موږ خپل بدلونه

* * *

په دې ترخ کې یوه ورځ دکابل بنارکې
یو افسر چې یې خپل ځان ګاڼه ښاغلی
په دېرکبر د ټینک مخې ته ودرېد
له پلورونکی یې تپوس وکړ لوغلی

* * *

دا مېوه ولې قیمته پلورې څوا سند؟
یې تراوسه لاغافل له انقلا به»!«
هغه سور شو له غوسې نه ژړې وویل:
ماته غوږ شه چې دې یوه کړمه ای جنابه!»

دا مېوه ده په سختۍ لاس ته را غلـې
خاورې نه ده چې یې وپلورم ارزانه
شرمنده شو ځنې ستون ځان یې پناکړ
په پوښتنې افسر دېر ؤ پښېما نـه

* * *

دوطن دفاع وه فرض په افسر باندې
شو یې دینه وطن ولاړ ترې پرېشانه
د پلورونکی لوړ همت کې چې ایمان ؤ
ورته څـو وه دوطن معامله ګرانه

* * *

چې په خدای[١] دچا ایمان وي همت لوړ وي
رسالې یې واړه لاندې ترقدم شي
«دغیرت ناوې ته سم کتلی نشي
هغه سر چې بې له خدایه چاته خم شي»

(١): داوروستي بیت دطاهر کلاچوي دی
چي دلنه تضمین شوي دي .

ــــــــ فولکلور ــــــــ

پلار زوي ته وویل زه له تا څخه یوه پوښتنه کوم که ځواب ذراکړ یوبایسکل درته اخلم پوښتنه داده چي :

هغه کوم جمله دي چي زده کوونکي تل دښوونکي دپوښتني په ځواب کي وایی؟

زوي سروخوراوه ، زه نه پوهیږم .

پلار په خندا شو سمه ده بایسکل دوګاته .

برزخي شپې

پوهاند اسدالله حنیفي

مه ګوی،
جوړې چې هوګه دنیا ورانه نشي
لړزلې شي انساني مینه محکومه شي
وسو ځې لمبه شي د بشر د عاطفې نړۍ
سره د اور نتیجه شي د نمرود په لمبو ځکه بیا
پورته شي لوخړې د آسمان پلو ته لوړې شي
هیلې لولپه شي آرزوګانې پکې وسوځي
بیلګمي له سره دریابونه لیوځنخي
هلته به سېراب شي د انسان وینو ته تږی لره
هلته به آرام شي چې بشر له ځپلمې خم شي
زړه به یې د مه شي چې مظلومې وینې وڅښي
مه ګوی؟ چې زړونه د برین شي لا
پیل شي برزخي شپې
هرڅه را د بره شي
نسترې شي ستومانه شي
دغه انساني نهد
مه ګوی؟ چې را شي الهي نظام
هرڅه خپل ځښتن ته ورترغاړه شي
هرچا ته د خپلو کړو هنداره ورته وسپاري
هلته به د حق او د باطل وزن ته وګوري
بیا به، حنیفي، نه د طاغوت پلو سرښکته کړي
★ ★ ★ دغه انساني نهد

هغه خو شالي سرې نشي
خوشالولی چې د درد او خوږ په
تیمت نه وي اخستل شوي .

لنډه کیسه

چرپه نغمه

زبیر «شفیقی»

هغي به تل په لري افق کی سترګی خښی کړی وی تابه ویل چی زمونږ دملت عظمتونه ګوری چی له اسمان سره یی سر لګیدلی که نه ؟ ، یا دا چی غواړی دملایکو کوم ټولګی وګوری چی چیرته دکوم شهید اروااستقبالوی اویا غواړی دفرښتو هغه لښکر وګوری چی دایمان معرکی دغازیانو مرستی ته رااستول شوی.سری سترګی به یی نوری هم سری شوی داسی سری لکهدوینو پیالی اوپه پراخ اوغوښن مخ کی به یی چی یوی اوبلی خواته اړولی نودویری ترسرحده یی په سری اغیز پریوت .

پژمان دلوړی ونی اوقوی متو خاوند وو خدای (ج) ښه قوی اوپه غوښو ښه اندامونه ورکړی ووړنګی ږیری یی دعمر دخاموالی غمازی کوله په هغه ددومره کم عمر هم نه ؤ د(٢٥) کلونو په شاوخواکی مست ژنی ؤ دخولی دایمی تبسم یی بیا دسرو سترګو له مړو مړو کتو سره سر نه خوړیه سترګو کی یی یو ډول هیبت ؤ اوپه سروسرو لیکو کی یی له ورایه دخطر علامی ښکاریدی خو پر شونډو به یی دایمی موسکا غوړیدلی وه چی کله کله به یوه ترخه خندا شوه زوراوره خند ا اودخندا په منځ کی به دهغه له سرو سترګو نه داوښکو چینی راخوټیدی پژمان به چی په خنداشو ددی پرځای چی څوك ورسره وخاندی دهغه نامعلومه خوشحالی ورسره بدرګه کړی په شاوخوا مجلس کی به یوسکوت خورشو اودسترګو اشارو به دخولو پرځای خبری پیل کړی ښه شیبه وروسته به دخندا په څپو کی دهغه له رعبه ډك آوازپورته شو ! هاهاها.....ولی غزاته نه ځی؟ ولی ویریږی دګیدړیچیانو ! ډارنوبی غیرتو !! هاهاها ....

ګوره ورته وایی مجاهدین یو ، دجهاد دعوه کوی لاندی ګوره په سرك ټانکونه ګرځی ، خلقیان اوروسان ښکته پورته ګرځی اودجهاد دعوه داران په غرونواوغارونوکی اوسی ! عجیبه ده والله عجیبه ده ....هاها ها

پژمان به له دی وروسته نورپه ځان نه پوهیده چی څه وایی اودنوررومکلفیت به هم داؤ چی هغه دا ایسارکړی لاس اوپښی یی کلك وتړی خوله یی له بدن نه په زورلیری وساتی چی خپلی غوښی ونه شکوی هغه سره له دی چی دقوی متو اوښه اندامونو خاوندؤ خوبیا داڅووم کا ل ؤ چی کله کله

به دلیونتوب لیونی څپه ورباندې راغله اوله ده سره به یې یودردونکې ماضي اویوه دسختې مایوسۍ اوسترې انتظاردوره دتولو سترګو ته ودروله ... دهجرت په فضا کې دا دریمه میاشت وه.

چې دغه اوازه ګرمه وه هره ورځ به دپردیسو مهاجرو ترمنځ همدغه خبره ویوسترې انتظارژاوزیات ستومانونکي اوځوروونکي ، هرچا همدغه هیله اوارزو په زړه کې پالله اوساتله چې یوورځ به یې دجهادبیرغ په اوږه وي اوداسلام اووطن په مورچلوکې به دتکبیر ناري بدرګه کوي تول دهمدغسې زیرې په تمه وو خو پژمان بیابل ډول بې تابي ښوده ځومره چې دانتظارورځې اوږدیدې هومره ورسره دپژمان ځیره مړاوې کیده مورته پرهغه دبوج اوفشارځه پته وه اوموږبیا هغه وخت وپوهیدو چې پژمان په زړه کې ځومره ستره جذبه راقابوکړې وه چې یوه ورځ دهغه دصبر بندونه ونړیدل اودایماني جذبې ناکارې څپې یې داعصابو په تنابونو ورسپرې شوې

هغه سهاردمعمول سره سم تریخ چای له ځه سپوري دوډۍ سره ترستونیو تیرشو خودپژمان په خوله لابیګانې مرموزه اومعناداره موسکا خوره وه هسې موسکا چې زهریې شیندل اوچانه شوای لیدلې، چې ناځاپه دهغه له خولې د«الله اکبر» ناره جګه شوه ، پژمان پورته شو په خوله یې سپین ځګ ودریدپه قوي اوغوښنورو اندامونویې زورورې جټکه راغله سترګې یې سرې سرې بقې بقې راووتې اوبیایې په سهم جن غږدتکبیر چیغې تکرارکړې الله اکبر ، الله اکبر...

پرمې یږدې غزاته ځم ،پردین غزاده ای نامردو ، هره ورځ دغزاچیغې وهي هره ورځ دروغې اوازې اچوي ... الله اکبر، الله اکبر

اوبیا هغه په مدیر نسیم بیچاره ورتوپ کړل ،مونږ دپژمان له قوي پنجونه نسیم مدیر ډیر په زوراوخواریو خلاص کړ ، پژمان ویل دانسیم مدیر دی چې موږله جهاد نه منع کوي ، هغه نه خدای (ج) خبردې چې ولې داپه زړه کې وررلویدل خوپژمان نوردلیونوپه کوځه ورګډ شوی ؤ ، پر هغې ډیرې دواوې ، برقونه جټکې او.... وازمویل شوې خو دپژمان درنځ نسخه یوازې دا وه چې دهیواد په مورچلونوکې دتکبیر چیغې وکړي دبې دینو پر سنګرو دجهادګولۍ واوروي اودکمونستانو سروګولو ته تتر سپر کړي اوس دهغه داارمانونه تول ترسره شوي اوځوځوواره یې داغیارو په لښکرو دزړه تناکې چاودولې وي داځووم کال وه چې دغزا توپك یې په اوږه وه خوهغه لیونی څپه نوردپژمان دژوند دایمي انډیواله شوي وه اووخت په وخت به یې دغزااوجهادساره جذبات ورباندې ګرمول دپژمان موراوپلار وروردکلاشینکوف په یوه ضربه په ابدي خوب ویده شول اودبل مجاهد وروروښنې لاغبرګې ماتې شوې چې دغې پیښې پژمان لاله لیونو حادثو سره مخ کړ چې کله به له هغه نه دبې خودۍ پیریان جګ شول عقل به یې سرته راغې دخپلې موروروراوکلیوال تنې به یې ترسترګو شوې چې ترسترګو لاندې یې تریکې وهي بیا به دهغه له سترګو داوښکو دارې پرمخ لارې لارې رواني وې اوشیبه پس به دهغه دپښیمانۍ دژړا کریږې په کرسنده خندا بدلې وې په ویروونکې اوسهمجنه خندا داسې چې دزړونو خراندې یې پرې کولې

پاتې په (۵۲) مخ

ولسي ادبيات

عوض الدين «صديقي»

نيازولي

په جهادګي روزل شوى ولسي شاعر

نيازولي دپکتيا په ولسي شاعرانوکي پيژندل شوى څيره ده هغه له دي لاري خپل جوهر ښودلي او دخپل ضمير آواز يي دخلکو غوږ ته رسولي ، هغه تل دخپل شعر له لاري ولس سره غږيږي دهغه شعر يودرددي، تعهد دي اودجهاد اومجاهدينو دكارنامو اواتلوليوژوندي تاريخ، هغه تل دخپلو وګړو سره ځان په ښادي اوغم كي شريك ګڼلي كه چيرته كوم مجاهد ترزياتو اتلو ليووروسته شهيد شوي اوياروسانو او دهغوى ګوډاګيانو زمونږ پركليو ګولي اورولي زمونږ پر خلكو يي ظلمونه كړي، هغوى يي شهيدان كړي، دهيواد لويشت ، لويشت يي په وينو سره كړي اوخلكو كوكي كړي فريادونه يي كړي اواوښكي څڅولي، ده هم په كوكو،كوكو ځان داوښكو پردي سمندر ورګډ كړى اودهغوى سره يي دشعر په ژبه ژړلي اوكه بيا چيرته خلكو اومجاهدينو خوښي كړي اواتلولي لاس ته راوړي ده هم دابنادي اواتلولي داتلانوپه ستايلو سره دوه چنده كړي دهغوى كارنامي يي ستايلي ، دهغوى تګ لاري ته يي خلك رابللي اوپل، په پل يي دهغوى سوبي اوقهرماني دشعر په ژبه ژوندي ساتلي . دنيازولي شعر ديوه سپيڅلي ، خلوصه ډك ، اودمينه نا ك ضمير آواز دي ،دهغه شعر ديوى مظلومي ، محكومي اوغم ځپلي ټولني آواز دي هغه په يوه خاص اوسپيڅلي احساس سره شعر ويلي هغه په خپله وايي «ما به كله چي ديوه مجاهداتلولي وليده ، اويا به دروسانو اودهغوى دګوډاګيانو له ظلم خخه خبر شوم دهغه څخه به سخت متاثر شوم په زړه كي به مي داورلمبه پورته شوه اراده به مي وكړه چي دخپل زړه خبره دشعر په ژبه بيان كړم خووس مي نه درلود افسوس به مي وكړ كاش ددي وس مي درلودى چي داخپل ضمير آواز مي خلكو ته دشعر په ژبه رسولي وى » هغه بيا وروسته خپله دهغه وسوسه اوهيله څومره ښه بيانوى :

كه زه شاعر شم په هر څه به مسلـمان خبركړم
په خـائنانو ظـالـمـانو به جهـان خبـر كړم
كه زه شاعر شم دخلكو غوږته به كيسي واچوم
ورتــه بــه مخـكي دويشـتلي زړه ګيلي واچوم
يابـه دغـــدارظالـم مرى په خـنجر پرى واچوم
يابــه داخپـلو پسـنو لاسـوته زولنــي واچوم

یابه جیلو کی دغدارو خلخانی واچوم
چی دخائن ژوندبربادوی هغه کسان خبرکړم
که زه شاعرشم په هرڅه به مسلمان خبرکړم
په خائنانوظالمانویه جهان خبرکړم

نیازولی دغمونو،ویرونو اولمبو په منځ کی لوی شوی اوروزل شوی هغه په (۱۳۳۵)کال کی دځاځیوولسوالی دحسن خیلو په شهید پالونکی سیمی کی دعبدالولی په کورکی زیږېدلی هلته یی خاپوړی کړی اورالوی شویدی هغه زمونږدټولنی دنورووګړو په شان دژوند په بهیر کی زیات تکلیفونه ګاللی اودوخت دفاسدوحکمرانانودبی تفاوتی له امله له تحصیل نخخه محروم پاتی شوی هغه دژوند دبقااویوی ګولی مړی دترلاسه کولو لپاره هرډول تکلیف ته مټه ورکړی اودستونزو اوکړکیچو نوپه روان بهیر کی یی وده. کړی اواوس دیوه پیژندل شوی ولسی شاعر په توګه مطرح دی .

هغه دخپلی شاعری دابتدااوپیل کیدو په باب وایی؛ :ماپه (۱۳۵۷) کال کی ترهغی وروسته چی کله می د«حسن خیلو» او«احمدخیلو » ترمنځ د«وچی لګړی » په سیمه کی دخلقیانو په یوه غونډه کی دولسی شاعرانو شعرونه واوریدل شعر ویل پیل کړل په هغی غونډی کی زه دولسی شاعرانو دشعرونوپه اوریدلوسره په وجد راغلم په زړه کی می جذبه راژوندی شوه اوغوښتل می دهغوی په څواب کی څه ووایم خوجرئت می ونکړ اوځوورځی وروسته می بیا خپل لومړی شعر کله چی د«حسن خیلو » دادی په سیمه کی د«ازبین زیارت » جنډه جګیده دخلکو دپرله پسی غوښتنو په اساس ووایه :

واړه ،زاره ټول ستا په انتظاردی
په ناز رپیږه داسلام بیرغه

دنیازولی شعر ډیر روان ساده او دجذبو ډك دی دهغه شعر اوریدونکی په جذبی راولی که هغه چیرته په کوم مجلس کی دخپل شعر له لاری دمجاهد اتلولی ستایلی نوهلته یی بیا خلك داسی جذ باتی کړی دی چی دزیاتو ډزوله امله دپوچکو امبارونه جوړشوی اوکه بیا یی په کوم مجلس کی دشعر له لاری پر کوم شهید یا دټولنی پر ناخوالو ژړلی هلته یی بیا دخلکو پرمخ داوښکو رودونه راروان کړی :

په وطن باندی می بلی سری لمبی دی الله
ونی ،غنی دشهید په وینو سری دی الله
دسرو وینو سیلابونه دی بهیږی کنه
ښکلی وړکی شهادت باندی رسیږی کنه
یتیمان مویل وطن کی پاتی کیږی کنه
ماشومان راته په سرو سترګو ژړیږی کنه
دبابا نعری وهی پلار یی یادیږی کنه
خپل بابا ته کوی غږ سوری نعری دی الله
ونی غنی دشهید په وینو سری دی الله

دنیازولی شعرښایی ځنی نیمګړتیاوی ولری دشعرونو سیلابونه یی په ځینوځایوکی زیات اوکم وی اولکه ځنګه چی ښایی دیوه معیاریی شعراوصاف پوره نکړی خودوير ونو، دردونو ، اتلولیو ، او ظلمونو دانځور ګری اړخ یی بیادومره قوی او دپیښنو شو وپیښنو په شان کټ مټ وی چی دشعرنواقص اونیمګړتیاوی بیخی دپامه غورځوی اوپله یی پری درنیږی نیازولی تل ولس سره په ویاړونوکی ویاړلی او په غمونوکی ژړلی هغه دیوه شهید مقام څومره ښه ستایی :

رحیم شاه وختی پتنګ غوندی مورچوکی
درب حضورته لاړی په سرو جاموکی
رحیم شاه دچا به نه شی ویره
روسیان دتانه وه چاپیره

تابه دچا نه نکړه ویره
ویردکړه غیر ودنیول په گریوانوکی
درب حضور ته لاړی په سروجامو کی
رحیم شاه لاړی له دنیا نه
درپسی پاتی شوه میرانه
دیرصفتونه کیږی ستانه
زه نیازولی درته دعاکوم نفلوکی
درب حضور ته لاړی په سروجاموکی

نیازولی په خپله سواد نلری او خپل شعرونه دحافظی له مخی له یاده وایی هغه وایی « زه خپل اشعار دمخه دځان سره نه جوړوم له ماڅخه چی کله چی څوك په کوم مجلس کی دشهید یا پیښی په باب دشعر ویلوغوښتنه وکړی په لنډه توگه دشهید یا پیښی څرنگوالی راته بیان کړی اوزه یی سمدستی دشعر په ژبه ورته اوروم زه کله چی دیوه شهید په باب شعروایم په زړه کی می احساسات راوپاریږی اوشعرمی جاری شی » نیازولی تراوسه له (۲۵۰) څخه زیات دشعرونومتنونه ډك کړی چی پکی یی زمونږ پردردونو، غمونو اوناخوالیو ژړلی اوپروپاړنوویاولی هغه اکثره په ودونو کی دخپل فن مظاهره کوی اوودونه داتلانو په ستایلو سره گرموی هغه داتل شهید قوماندان محمد اسماعیل مقام په ښکلی انداز کی ستایی :

شهید شو اسماعیل غازیانونه شو بیل
دپاك الله حضور ته سروجامو کی شو روان
بللی ۋسبحان
مبارك دشهادت شه په تاریخ دصد رحمت شه
په برخه دجنت شه دموریه شودودآفرین
قربان شولی په دین
په دین دورکړو سرړی څومرمبختور

دپاك الله په نوم باندی دتویه کړله وینه
په خدای دی وکړه مینه
مقام لری اوچت اویاکسوشفاعت کوی به یی په قیامت
خپل ځان دقربان کړ په نامه دخدای قران

بللی وسبحان
په غم داسماعیل دی په زړوغلبیل ،غلبیل دی

سنگر یاران یی ژاړی چی زمونږ دینی ورور
روان شوپه کوم لور
سنگروکی ماتم دی محمداسماعیل غم دی
ژړیږی په سرومترگو دده سنگریاران

بللی ۋ سبحان
آزاد افغانستان وی ژوندی هغه ځوانان وی
په گران افغانستان کی مجاهدو حکومت وی
اسلام بیرغ اوچت وی
دکفر گوند ویجاروی اسلام بیرغ ولاروی
چی کلای دمسکو پرلوریاردپرچم ،خلقی وی

ترهغی پوری ژوندی وی
ژوندی خوپه رښتیا دی خو مونږ نه اوس پناه دی
قران داسی ویلی چی مړه نه دی شهیدان
بللی ۋ سبحان

ځنګه چې ملګري ملتونه . . .

ګړي و چې پدې کې مولوي محمد يونس (خالص) انجنير ګلبدين (حکمتيار) استاد برهان الدين (رباني) قاضي محمدامين (وقاد) مولوي نصرالله (منصور) او نور علماء اومشران شامل وومونږ دلته دجهاد دتنظيم له پاره يو قوي چوکاټ جوړ کړ او ديو تنظيم په چوکاټ کې را غونډ شو. په لومړي سر کې مو دکتابونو او رسالو توزيع پيل کړه پدغو خپرونو کې دکمونيزم د استعماري ايديالوژۍ په رابطه مستند مطالب خپريدل او خلکو ته مودکمونستي استعمار په انساني ضد ناولو اهدافو په رابطه نشراتي مواد برابرول ددې په څنګ کې مو دوسلي تقسيم ته هم پاملرنه وکړه، نژدې څلور کاله فعاليت روان ؤ په دې دوران کې په ځينو برخو کې

مسلحانه مبارزه هم وشوه خو کله چې کمونستانو د داؤدحکومت نسکور کړ زه له خپلو ملګرو سره بيرته افغانستان ته ولاړم او په پکتيا کې مو جهاد پيل کړ. (١٥) ورځې مو سخت جنګ وکړ، خلکو هم زمونږ مرسته وکړه دحکومت ډيري څوکۍ او تانې مو فتحه کړې خو څنګه چې دهيواد په نورو برخو کې لا جنګ نه وپيل شوي، ځکه خو مونږ په جنګي فعاليتو نوکې ډير پرمختګ و نشواي کولاي. مونږ يو ځل بيا مجبور شو چې په غرونو کې خپلې مورچې ټينګې کړو. دلته له مونږ سره (١٧) تنه ملګري وو په غرونو کې مو شپږ اووه مياشتې په لوږه او سختو مشکلاتو کې تيرې کړې، زياتره وخت به مو ګياوې خوړلې. نه لباس ؤنه

درمل اونه هم خواړه. مونږ له دغه نايه په نورروسيمو کې په پوځي تأسيساتو پټې او چريکي حملې کولې په نژدې سيمه کې مو ځکه بريد نشواي کولاي چې خلك له مونږ سره پدي هکله مخالف وو ځکه خو مونږ مجبور ووچې په نسبتاً ليري واټن کې په دښمن بريد وکړو. ورو ورو زمونږ دفعاليت ساحه پراخيدله او قوت مو زياتيده دخلکو همکاري هم ورځ تر ورځې زياتيده له ترڅو چې منظم جهادي قوتونه مو جوړ کړل او دښمن مو په هر محاذ کې له شرميدلې ماتې سره مخامخ کړ .

چوپه نغمه . . .

نن يې بيا په افق سترګې خښې کړې وي ، هغه نوررښتيا هم پژمان شوي ؤغوړيدلې تندي اوغوښوره اندامونه يې مړاوي ښکاريدل له دووسرو سترګونه پاس تندي يې داندېښنو تيارتصويرؤ دژورواوځورونکو انديښنو ، لکه چې دمورله اروا سره يې مخاطب وي او لکه چې موريې تسلې ورکوي چې زويه خير دې ، خدای ته خانه وسپاره او يا لکه پژمان چې هود کړی وي چې له خپلې موراوورور سره

يوځای شي بخښنه تري وغواړي په ښنو کې يې ورولويږي ، په چيغوچيغو ورته وژاړي چې مورې ! ما وبښنه دوه بوڅی ، نه يکلی زما ژوند اودژوند ټولې خوښې اونيکمرغی وژلې ، ددوه د کلاشينکوف ګولۍ زما په ــــ خوښی ـــ هستی او ــــ ارمانونولګيدلی پژمان له کوره ووت له کلی نه بهرشو دګوربت غره په لمن کی لاندې پرته ډبرته يې په مخکی ونيوه ځوځوګله يې شاته کلي ته ، دګوربت خرو ګړنګونو

اولوړوځوکو ته وکتل لکه چی خدای پاماڵی تری اخلی اوبيا دسپيرې ډبرتی په چوپه غيږه کی ورك شو ، پژمان خوورځی کورته رانه غی اوبيا يوه ورځ پژمان په يوه خواره اودرانه خوب ويده کلی ته راغی ، هغه په وينو لمبيدلی وپه خوله يی هماغسی مرموزه موسکاوه خودتکبير چيغی يی په ستونی کی بند ی پاتی وی په تندی کی يی لاارمانونه ځليدل دپژمان ملکوتی تکبيرونه چانه اوريدل اوپه کلی اوکوردويراوماتم يوه چوپه نغمه غږيده چی په زړونوکی يی دغمونوويدی قافلی راويښولی

دعبدالله بن مبارك (رض) دحربی پوهنتون قوماندان دمنبع الجهاد سره په مرکه کی :

د عبد اللّه بن مبارك (رض) په حربی پوهنتون کی محصلینو لپاره د زده کړی ټول سهولتونه موجود دي

پوښتنه- محترم قوماندان صاحب که له هر څه د مخه لومړی خپل ځان د منبع الجهاد مجلی لوستونکو ته په لنډه توګه ورو پیژنی ډیره به ښه وي.

جواب- زما نوم عبدالخالق د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی د سهاکو اوسیدونکی یم ، زما پخوانی رتبه جګړن وه او اوس د عبدالله بن مبارک (رض) د حربی پوهنتون د قوماندان په توګه وظیفه اجراء کوم.

پوښتنه - د عبد الله بن مبارک (رض) پوهنتون مؤسس څوک ، په کوم کال تأسیس او د تأسیس هدف یی څه ؤ ؟

ځواب - د دی پوهنتون مؤسس الحاج مولوی جلال الدین حقانی او په (۱۳٦۸) هـ ش کال تأسیس شوی دی هره مؤسسه چی نوی جوړیږی باید د هغي مادي او معنوی امکانات په نظر کی ونیول شی کله چی مولوي صاحب جلال الدین حقانی د پوهنتون د تشکیل په فکر کی شو نو ټول مربوط جهادي قوماندانان یی راوغوښتل شورا یی وکړه او د شورا په نتیجه کی قوندانانو دا فیصله وکړه چی اوسنی جهاد نظم دسپلین او لوړ عالی عسکری تعلیم تربیی ته ډیر ضرورت لري نو په دي اساس د حربی پوهنتون تشکیل ته ضرورت لیدل کیږی نو د قومندانانو په خوښه مولوي صاحب جلال الدن حقانی موږ ته هدایت راکړ تر څو د پوهنتون د تشکیل په لارو چارو غور وکړو چی دادي د خداي په فضل په موفقیت سره مو دا تر سره کړه.

پوښتنه : د پوهنتون په تشکیل کی څو پوهنځی شامل، او اوس په کومو پوهنځیو کی محصلین په زده کړه بوخت دی ؟

ځواب: د حضرت عبد الله بن مبارک

(رض) پوهنتون فعلاً څلور پوهنځی لری چی هغه له: پیاده،استحکام پوهنځی،توپچی پوهنځی او د مخابري پوهنځی څخه عبارت دي.

ښایی ووایم چی د ټانک پوهنځی تشکیل هم په نظر کی لرو خو فعلاً محصلین په همدغو پوهنځیو کی په زده کړه بوخت دي دا باید هم هیره نه کړو چی زموږ د حربی پوهنتون ټوله دوره ۱۸ میاشتی ده چی تر اوسه پوري ۱۴ میاشتی تیری شوی

محصلين (۱۲) میاشتی په عمومی زده کړه بوخت وُ او د عمومي دوري تعلیمی نصاب لاپاي ته نه دی رسیدلی، کله چی پای ته ورسیږی نو بیا به محصلین به خپلو مسلکی تحصیلاتو ته دوام ورکړی.

پوښتنه: په دغه پوهنتون کی څومره زده کوونکی په زده کړه بوخت او د څو تنو استادانو له خوا ورته تدریس کیږی ؟

ځواب - د عبدالله بن مبارک (رض) په پوهنتون کی فعلاً (۳۱۲) محصلین په پوځی زده کړه بوخت دي اود ۳۱ تنو استادانو له خوا ورته تدریس کیږی.

پوښتنه: د عبد الله بن مبارک(رض) په پوهنتون کی کوم مضامین تدریس کیږی او د افغانستان د پخوانی تعلیمی نصاب سره څومره ورته والی او توپیر لری؟

جواب: د عبدالله بن مبارک (رض) په پوهنتون کی ۲۱ مضامین تدریس کیږی چی عبارت دي له :
تفسیر شریف،عقاید شریف، فقه شریف، سیرت النبی، تجوید چی دا البته دینی مضامین دي او نور مسلکی مضامین لکه تکتیك پیاده، انداخت پیاده، انداخت توپچی، تخنیك توپچی ، توپچی گیری، تکتیك توپچی ، مخابری تخنیك ،الکترو تخنیك، تکتیك مخابره، استحکام آب رسانی، مین، تخنیك خدمات داخله، لوژستیك راه سازی صحیه، جمع نظام، تاریخ حرب او قوماندانیت تدریس کیږی چی مجموعاً ۲۱ مضامین کیږی . دا ټولی دنیا ته معلومه ده چی د هر پوهنتون او یا هری تعلیمی مؤسسي تشکیل یو مرام لری د افغانستان پخوانی حکومت مونږ او تاسو ټولو ته معلومه ده چی د روس له خوا اداره کیده نو د ټولو تعلیمی مؤسسو تعلیمی نصاب په روسانو پوری تړلی ؤ او اوس تعلیمی مؤسسی او خصوصاً د عبدالله بن مبارک (رض) حربی پوهنتون چی جهاد فی سبیل الله او اعلاً کلمة الله یی مرام دی د دغه جهاد او قیام په نتیجه کی په افغانستان کی د خدای پاك په فضل سره او د مجاهدینو په میړانه یو اسلامی حکومت منځ ته راشی. اوسنی نصاب ټول د جهادی غوښتنو په نظر کی نیولو له مخی ترتیب شوي دی.

پوښتنه: د نورو جهادی تنظیمونو د حربی پوهنتونونو سره ددی پوهنتون تعلیمی نصاب څومره ورته والی لري ؟

جواب: دا خو تاسی ته بهتره معلومه ده چی د اوو تنظیمونو له جملی څخه لومړی د جمعیت اسلامی له خوا، دوهم د حزب اسلامی له خوا، دریم ځل د اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان له خوا حربی پوهنتونونه جوړ او ډیر فارغان یی ټولنی ته تقدیم کړی دی، ددی پوهنتون تعلیمی نصاب د نورو تنظیمونو د تعلیمی نصاب او حتی د ټولو اسلامی پوهنتونونو سره ورته والی لری او دا ټول د جهاد د پاره او په جهاد کی د نظم او دسپلین راوړلو لپاره دی.

پوښتنه: په دغه پوهنتون کی محصلین خپلی زده کړی په څومره موده کی بشپړ وي ؟

جواب: د هر مسلمان او په تیره بیا د مسلمان عسکر او صاحب منصب مرام

> د عبد اللّٰه بن مبارک رحمه الله په حربی پوهنتون کی د زده کړی ټوله دوره اتلس میاشتی ده. چی محصلین دولس میاشتی عمومي او شپږ میاشتی مسلکی زده کړه کوی.

او مقصد دادی چی غازی او یا شهید شی، تر هغه ځایه چی ماته معلومه ده هغه مسلمان صاحب منصبان چی تر اوسه د مختلفو تنظیمونونه د حربی پوهنتونونو له خوا اجتماع ته تقدیم شوی دی تقریباً ۳۰۰۰ تنو ته رسیږی خو تر اوسه پوری له دوی څخه هغه شان استفاده چی لازمه وه نه وه اخیستل شوی خو بیا هم دی زلمیانو ددي د پاره چی اسلام په دوی حق درلود او په دوی باندی د کونډو یتیمانو او شهیدانو د وینو مصرفونه

پیښور کی جوړ کړی خو ددی لپاره چی هم افغانستان ته نژدی وي او هغه وسله او وسایل چی مجاهدین ورڅخه په جهاد کی کار اخلی په افغانستان کی دی نو په دی اساس افغانستان ته ډیره نژدی سیمه میرانشاه یی ددی له پاره انتخاب کړه چی تقریباً د افغانستان د سرحد سره لس کیلومتره فاصله لری. خو په امنیتی لحاظ که چیری دا ټول پوهنتونونه مونږ د افغانستان داخل ته انتقال کړو نو

یوه محصل د پاره د جیب خرڅ ورکول کیږی.

پوښتنه : ستاسی په نظر مجاهدین باید د کوم تاکتیک څخه کار واخلی ترڅو پردښمن باندی زرتر زره بریالی شی ؟

جواب: کله چي په افغانستان کي علماؤ د جهاد اعلان وکړ نو د افغانستان مسلمان ملت د جهاد د پاره تیار شو او عملی جهاد یی شروع کړ، ټولی دنیا ته معلومه ده چی په دغه جهاد کی افغانانو له دوو ملیونو

یو شی چه د مجاهدینو بریالیتوب او جنګی قوت ته سخت تاوان رسولی دی هغه نفاق دی زه خو وایم چی اتحاد زمونږ تر ټولو غوره او مؤثر تکتیک دی.

شوی دی د جهاد په ډګر کی تقریباً ۲۲۰۰ تنو په شا وخوا کی شهیدان لری.

پوښتنه: د جهادی تنظیمونو حربی پوهنتونونه باید په پاکستان کی نه بلکی دننهٔ افغانستان په آزادو سیمو کی جوړ شوي وای په دی باره کی تاسی څه نظر لری؟

ځواب: دا خو یو ښه نظرد ی البته زما په فکر کله چی د عبد الله بن مبارک (رض) پوهنتون تأسیس کیده د نورو تنظیمونو د حربی پوهنتونو په شان مولوی صاحب جلال الدین حقانی کولی شول چی دا پوهنتون په

ددښمن د هوائی بمباریو څخه - ساتل یی ګران دی او دا کار ډیر مصرف غواړی او که چیری داکار وشی بیا خو یی داخل ته انتقال ډیر ښه کار دی.

پوښتنه: د عبدالله بن مبارک په حربی پوهنتون کي د محصلینو دپاره څومره اسانتیا وی موجود دی؟

جواب: د عبد الله بن مبارک (رض) په حربی پوهنتون کي د محصلینو د پاره د خوراک لباس، لیلیی او زده کړي ټول امکانات د دوی په واک کی دی او هم ۲۰۰ کلداري د میاشتی د

څخه زیات شهیدان ورکړل اود دوو ملیونو په حدودو کی معیوبین لری، د تاکتیك په برخه کی خو مجاهدینو تر اوسه پوری د ښه تکتیك څخه استفاده کړی خو یو شی چی د مجاهدینو بریالیتوب او جنګی قوت ته یی سخت تاوان رسولی دی هغه نفاق دی زه خودا وایم چی اتحاد زمونږ تر ټولو غوره او مؤثر تاکتیك دي که چیری مونږ متحد شو او یو رښتینی اتحاد را مینځته کړو نو د هیواد آزادی او د اسلامی حکومت قیام حتمی خبره ده.

سرطان سرخ

نویسنده :شهید دوکتورعبدالله «عزام » مترجم :ف «فاضل»

۲- بزدلانی که ، بزدلی شان

۳- انانیکه دارای وجدانهای ناپاک اند . در چکوسلواکیا همه پرسی ای بخاطر الغی انحصار حزب کمونست صورت گرفت که نه برده (۹/۱۰) مردم به الغای آن رای دادند .

۳-تولید

تولید سال به سال رو به کاستی می رودحتي اینکه روسیه مجبورشد تایک مقدار پشتوانه طلایی خودرابخاطر خریدن گندم ازگشورهاي سرمایه داري به فروش برساند.

نرخ مارك دربرلین غربی ، برابر با چها ر چند مارك در برلین شرقی است .

کارگر درنظامهای کمونیستی به خوشبختی ورفاهیتی که مارکس ولینن ارزوی انرا داشتند ، نرسیده است ، حتی کارگر درروسیه وبه اصطلاح درداخل دولت کارگران ، زندگی بسیار مستمندانه وغمگینانه ای دارد که حتی زندگی برخی چهارپایان براوشرف دارد .

تولید کارگران در دولت های کمونست بسیار کاهش یافته است ، (منشی دبیر) حزب کمونست رومانی در ۱۹۶۶/۱۲/۲۳ م اعلام داشته است که تولید کارگران رومانی برابر با یك بر سه ویك بردو ( ) تولید کارگر ایتالیایی ،فرانسوی وآلمانی است .

تولید از نقطه نظرکمیت ونوعیت درکشور های کمونیستی تنزل کرده است .

کارگران درنظامهای کمونیستی به شراب روآورده اند تا بدبختی شان را فراموش کنند .

روز نامه تایمز (۳۲)به نقل از روز نامه حزب کمونیست می نویسد که : حد اوسط صرف شراب یك نفر درمسکو روزانه (۱۳لیتر ودکا + ۰/۵ ۱لیترالکل ساخت منزل است)

آرزوهای اندره ژید با دیدار ازداخل روسیه وروپا رویی با وضعیت تلخ مردم به سنگ نومیدی خرد شد . اندره ژید میگوید : یك خوراك

طعام که به او داده می شد از (۲۰۰) إ لی (۳۰۰) روبل می رسید ، در حالیکه مزدیك کارگر روزانه از(۵) روبل تجاوز نمی کند

اندره ژید میگوید : من به روسیه رفتم تا در آن جا فقر إرا نبینم ولی من مردانی رایافتم که درکلبه های بیسار محقری زندگی می کردند که مساخت هر اتاق آن ٦ یا ۳۰ سانتی متر رسیدکه به چار نفر تخصیص یافته بود .

حالا آن دوران برای کارگران خارج ازروسیه فرانرسیده است تا بدانند که انها ازطرف احزاب کمونسیت فریفته شدند ،طوریکه کارگران روسیه قبلاً فریفته شده بودند .

حالا کدام کارگری درروسیه توان آن دارد که تنها شنیدن کلمه سوسیالیزم برایش خوشایند باشد وکدام کارگر در پولیند میتواند تنها نام روسیه رابشنود ؟!

کارگران کشورهای خود راترك گفتند ،مفکران واندیشمندان به کشور های دیگر رفتند ومردم همه نومید شدند ،حتی کار مورد علاقه برخی کارگران ودانش آموزان درکشورهای کمونیستی ، جمع کردن قطی های سگریت ساخت امریکا درخانه هایشان وتلاش جها پیداکردن بیرق های امریکا است . تاآنر ا دریخن خود نصب کنند .

وعلاقه به صنعت های ساخت غرب درمیان ساکنان کشورهای کمونیستی روبه فزونی است ،وتومی توانی به سبیل یك هدیه گرانبها ، یك قلم خود کارساخت غرب یا مانند آنرا به ساکن یك کشور کمونیستی پیشکش کنی .

امروز کارگردرکشور های سوسیالیستی ، درکار هایش به یکنواختی ودر زندگی اش متکی بغیر وبدون انگیزه بوده و بدون هدف حرکت میکند . نومیدی برنفس هرکسیکه درزیر سایه های کمونیزم زندگی می کند ، خیمه زده است واضطراب جزء جدایی ناپذیر اوشده است .

طوریکه مارکس پیش بینی کرده بود که کارگران درجهان غرب به بدبختی وفقر سردچار می شوند ، چنان نشد ،بلکه برخلاف توقعات او، سویه کارگران بلند رفته ازبیمه های اجتماعی وصحی وحمایت ازفقر واحتیاج در اثنای کار برخوردار گردید . ونادانی روز بروز از کارگران دور شده وبه یك کارگر روشنفکر واداری فنی تغییر پذیرفت ودر حالیکه بینوایی روز بروز در زندگی افراد در اردوگاه سوسیالیزم رخنه کرده وبابدبختی دست، وگربیان است .

> **امروز کارگردرکشورهاي سوسياليستي درکارهايش به يکنواختي ودرزندگي اش متکي بغير وبدون انگيزه بوده وبدون هدف حرکت مي کند.نوميدي برنفس هرکسيکله درزير سايه هاي کمونيزم زندگي مي کند ، خيمه زده است واضطراب جزجدايي ناپذير اوشده است .**

٤- از ناحیه انسانی ، شعوری ،فکری وهنری :

مارکسیزم باانسان مانند وسیله از وسایل یا حیوانی که شعور ندارد وبدون اندیشه زندگی می کند ، برخورد دارد .

فویر باخ نظر داشت که مردان بزرگ تاریخ رامی سازند وتمدن ها رابرپا میدارند وزندگی بهتر

اقتصادی رااساس می نهند .
ولی مارکس نظر دارد که اقتصاد مردان بزرگ رامی سازد . مارکس گمان دارد که جامعه های بشری عبارت از اغیل های اند که کمیت خوردنی ونوشیدنی وامیزش های جنسی آنراازیك مرحله به مرحله دیگر انتقال میدهد .
بعد از پیروزی انقلاب بلشویکی ، ادب ،هنر ، احساس و ارمان همه چون چرخ ابزار معامله می شد . وسخن ها تظاهر ونفاق شد ، زیرا هر حرفی که خارج از حط حزب باشد ، همراه با گوینده اش یا زیر خاك می شود ویا زیر تازینه های عذاب .
« ریمون أرون » استاد علوم اجتماعی درتمدن معاصر در کلژدوفرانس میگوید : خرافات ، انقلابی که مارکسیست ها گمان دارند ، آن طوق نجات انسانیت ازدردهایش است ، در خقیقت نیرنگ بزرگی است که هدفش شعله ورساختن فتیله برای درهم کوبی بنیاد های تمدن جامعه ها وریختن خون بی گناهان است تابه دنبال آن نظام دکتاتوری بیمناکی بیاید که سلطه اش رابوسیله آهن واتش بالای مردم تحمیل کند همچو نظامی ،مقید ساختن آزادی ها ، سانسور افکار، خاموش ساختن استعداد های شگوفان ومشروع راسوی یك زندگی بهتر واینده خوبتر به دنبال دارد .
اندره ژید میگوید : هرفرهنگ وهنری که باارای حزب هماهنگ نباشد ، غیر علمی خوانده شده ، نابود می گردد ومورد تمسخر قرار می گیرد وتوان ظهور درصحنه راندارد.
امروز اتهام غیر علمی بودن درروسیه همان کلنگی است که همه استعدادها ، دانسته ها ، توان ها ، واندیشه های مخالف آرای رهبری حزب کمونیست بوسیله آن دفن میشود .
بناء دربرابر مفکر وادیب مخالف درکشورهای سوسیالیستی جز سه راه دیگر راهی وجودندارد :
فراربه کشورهای غربی که این پدیده در همه کشورهای سوسیالیستی به مشاهده رسیده است ، ومغز های فکور آن به هجرت مجبورشده اند .
شخص بوسیله خود کشی ویا انحرافات روانی وتمرد زندگی خو: رابربادِ دهد .
یا حود را در میان آن عده کسانی قرار دهد که بنام حزب کف می زنند واز آرای آن پشتیبانی نموده وهمه افکار خود را زیر خاك می سازد و زندگی وارزشها برایش مساوی بایك لقمه نان ویا یك دست لباس می گردد .
٥- ازناحیه وحدت آرزو، هدف، وفکر :
سوسیالیزم اینك ازهمپاشیدگی خطر ناکی در اقطار واقعیت زندگی اش رنج می برد . وکنفرانسهای بین المللی حزب کمونیست هم به ترک کردن اندیشه

اينك سوسياليزم ازهمپاشيدگي خطرناكي دراقطارو واقعيت زندگي اش رنج مي برد . وكنفرانس هاي بين المللي حزب كمونست هم به ترك كردن انديشه هاي ماركس ولينن كه منجربه ركود كشورهاي سوسياليستي شده است شعارميدهد.

های مارکس و لینن که منجر به رکود کشورهای سوسیالیستی شده است شعار میدهد .

پس ازینکه خروسچف درسال ۱۹۵٦ م در بیانیه ای که رسوایی ها وجرایم ستالین رابرملاکرد . عکس العمل شدیدی از طرف کمونیستهای جهان صورت گرفت خروسچف راجع به ستالین گفته بود که او وحشی ، جنایتکار وناپاک بود .

خروسچف به این هم بسنده نکرده ، حتی استحوان های ستالین راازقبرستان ویژه بزرگان روسی برون کردوبه قبرستان عمومی نقل داد .

وازنمونه های تحول درارددوگاه کمونیزم بعد ازسال ۱۹۵٦ م رجاء گارودي است که در فرانسه به نوشتن آغاز کرد وصراحتاً لزوم تطوردر افکار کهن رااعلام داشت

ورج ،پینو کتابی راجع به کمونیزم نوشت که عنوان ان « مارکس مرد» بود . چین کمونیست برضدروسیه سوسیالیست درپهلوی امریکای امپریالیست وکپیتالیست قرارگرفت ، وآن هاله بزرگی ازتقدس که مبتکر انقلاب فرهنگی در چین ، مائوتسه تونگ برخودرسم کرده بود . در حالیکه دو سال از مرگش هم سپری نشده بود فروافتاد .

روزنامه های چینی راجع به اموزگار کبیر خود مائوگفتند :

«اودکتاتوربود وازنگاه ایدئولوژی فاشیست »

همچنان روزنامه ها محاکمه انقلاب ٔفرهنگی واعاده حیثیت به قربانیان ان واعدام رهبران پیش نیروهای سرخ رانیز خواستار شدند ، وبرخی خواهان اعدام « بیوه مائواند »

« ریمون ارون » میگوید : حرکت های نادان چپی ازآغاز لجام گسیخته وپیچیده بودند که مانند همه رویداد های زننده ترس وبیم رابه میان اورده اند وحدت نیروهای چپ جز یك وحدت خرافی ، چیز دیگری نیست ، از همینرو این نیرو ها هیچگاه باهم وحدت نداشته اند ، بلکه همیشه متغیر ، درهم وبرهم بوده اند »

فلسفه مارکس و لینین ، فلسفه ایست که نتوانسته است خلای زندگی راپرسازد ، وبسا از کمونیست ها به کلیسا رفت و آمد داشته وحرفهای مارکس ولنین راکه می گفتند : خدایی وجود ندارد وزندگی مادی است » زیرپا کرده اند .

تجربه سوسیالیزم وکمونیزم که تاکنون بعد از (۷۰) سال در گهواره اصلی اش نمبر است ، بحاطری نیست که زمینه تطبیق یافته است بلکه بخاطر یست که



دولت در تطبیق مخالف تئوری کمونیزم گام برداشته است ، زیرا این تئوری امکان تطبیق درزندگی راندارد .

کمونیرم ومارکسیزم درنابودی طبقات ازجامعه ناکام شده اند ، حتی جامعه سوسیالیستی به دوطبقه تقسیم شده است : طبقه حزب وکادرهای آن که همه دردریای نعمت هاشناورند وسایر مردم که چون رمه هائی اند که ثمره عرق جبین وخون انهامکیده می شود وبالاخره یا روانه جوخه اعدام می گردند ویا تبعید گاه .

امروز حزب کمونیست جانشین طبقه سرمایه دار شده است که چون زالو خون ملت هارا می مکد .

حزب کمونیست چون افیونی شده است که جاهلان رامی فریبد وشمشیری شده است که برگردن عاقلان فرومی آید ویاانهارا تبعید می کند .

کمونیست هامدتی سرود دموکراسی ومساوات سردادند تامظلومینی راکه انقلاب رابردوش خود حمل کردند ، گرد آورند ، سپس منزلت آن مظلومین بعد ازپیروزی انقلاب ازرمه های حیوانات هم درزندگی مادی ، احساسات و ارزوهای شان ،پائین ترشد .

فطرت انسانی دربرابر قرانین بشری شکست نمی خورد ، زیرا ان قوانین از انسان بیگانه بوده باکارهای اوپیوندی ندارد ، ودیگر اینکه ان قوانین بشری نمی تواند انسان را سیر سازد ویا تشنگی اش رافرونشاند . به جهت اینکه نفس انسانی راتنها قانون آفرید گارش می تواند سیراب سازد .

جهان غرب باهردو شاخه خود دراینکه سعادتی رابرای انسان به ارمغان آورد ، زیرا اوانسان رانشناخته است .

غرب توانسته است درانچه درلابراتوارهایش انرا می بیند ، نواوری هاو ابتکاراتی کند . ازهمینرو درجهان ماده و تخنیك انچه راتولید کرده است که ان با خیال شبیه تر است اما غرب نتوانسته است برای انسان چیزی رامن حیث انسان پیشکش کند ، ونتوانسته است اورا خوشبخت سازد .

غرب ازینکه بدبختی راازانسان دورکند ناتوان شده است .

وآن هم ازجهت یك سبب ،زیرا «اروپا روح رانشناخته است » زیرا روح بامتر اندازه گیری نمی شود ونه با تن پیمانه می گرددونه باولت متر (ولت سنج) حساب می شود ونه فشار ان با «بارومتر »(هواسنج) سیمایی سنجیده می شود .

نسحه هایی راکه انها جهت خوشبخت گردانیدن انسان تجویز می کنند ، همه نسخه های کسانی اند که به حقیقت انسان تاوان اند انانیکه می خواهند روح راخوشبخت سازند روح رانمی شناسند ، روح را به زبانی مخاطب قرارمی دهند که ان نمیداند ، ویاواژه هایی بااونجوا می کنند که انرا درك نمی کند .

انها ثروت ،جنس ،زندگی وجاه را برای رهایی روح ازعذابش پیشکش می کنند ، که تشنگی روح رابیشتر می کند ، زیرا همچو چیزها غذای ان نیست . مثل کسیکه به معده گرسنه انبال پول ویکسلسله شعار ومدال پیشکش کند این همه به اندازه یك قطعه کوچك نان برابری کرده نمی تواند ، زیرا تنها نان خوردن نظام خدایی برای تغذیه معده است.

همچنان غذای روح عبادت

بقیه درصفحه(٦٣)

راغلي ليکونه

دمجلی داداری په نوم

دپېښور له اکوړه خټك څخه انصارشاعر اولیکوال ښاغلی عرفان خټك یو لیك رالیږلی چی متن یی دلته خپروو:

دمنبع الجهادمجلی اداری ته !

سلامونه !

ستاسو داداری له خوا میاشتنی خپرونه منبع الجهاد راورسیده ډیره مننه حقیقت دی چی افغان قلمکارورونه په غریب الوطنی کی د خپل قام اوددی جهادی تحریك چی دروسی رژیم دناپاکو بلوسو ناوله نتیجه ده دخپلو قلمونو په څوکو ډیره گټه وره اودشاباش اوآفرین قابل خدمات ترسره کوی اوپه قام او ولسونو کی دجهاد جذبی راپاروی دمسلمانانو سره وینه تودوی او داسلام دښمنانو ته ماتی ورکوی الله دی وکړی چی زرترزره افغان په خپل مرام کی بریالی شی زه خو دافغان انقلاب دپیل کیدوسره په دغه سر لیك خپل لیکونه کسم اووخت په وخت پاکستانی اخبارونو اوجهادی خپرونو کی خپریږی ما دخپلو جهادی لیکونو یوکتاب «بارودواایمان»هم خپورکړی دی اوتاسو ته هم داتسلی درکوم چی ترخپله وسه به دستاسو مجلی «منبع الجهاد »ته په مناسب وخت خپل لیك درلیږم په الله می سپارلی

ستاسو ورورعرفان خټك اکوړه خټك

همدارنگه په دی وروستیو وختونوکی دمنبع الجهاد مجلی اداری ته دامریکا دگرینا دا له ایالت څخه دکابل پوهنتون دادبیاتو دپوهنځی پخوانی استاد ښاغلی سیدخلیل الله هاشمیان یولیك رالیږلی چی مونږ یی دلته کټ مټ خپروو

بسم الله الرحمن الرحیم

برادران مجاهداسلام علیکم ، ما بشما افتخار داریم ملت افغانستان بشما افتخار میکنند .

جناب مولانا جلال الدین حقانی زعیم بزرگ وقوماندان سربلند جهاد اسلامی افغانستان که محض لله جهاد میکند نه بخاطر چوکی ومقام افتخار افغانستان وافتخار جهان اسلام است .

افغانهای مهاجر اروپا -امریکا

ازشنیدن کارنامه های جهادی وتدبیر وزعامت حقانی واسلامی این رادمردبزرگ بخود می بالندوبرای موفقیت جهاد وصحتمندی وسلامتی مولاناجلال الدین حقانی بدربار پروردگارعزوجل دعا وسجده میکنند.

شهادت برادرمجاهد ماشهید راه حق مرحوم مغفورمحمد اسمعیل ذبیح الله همه افغانهای مهاجررامتالم ساخته است . شهید محمد اسمعیل ذبیح الله تنها برادر جناب قوماندان جلال الدین حقانی نبود برادر همه ما بود وفقدان وماتم اوازهمهٔ ماست . شهید محمداسمعیل برای حق ، درراه حق وبمنظوراحقاق حق مردم مسلمان افغانستان خون پاك خود راریختاند ودرصف هزاران برادرشهید خود قرارگرفت که حیات خود رابرای ناموس وطن قربان کرده آرزو داشتند کفر ، الحاد ولشکر روس وکاسه لیسان روس را ازخاك پاك افغانستان اسلامی پاك سازند اگر چه آنها فتح وظفر نهائی راظاهراً درآغوش نه کشیدند ولی قطرات خون پاك آنها درهوا وفضای افغانستان چنان آمیخته که هرفرد افغان این رسالت رادنبال خواهد کرد تاناموس آزادی وطن راتحصیل نماید .

درودبروان پاك شهدای راه آزادی افغانستان اسلامی

انا لله وانا الیه راجعون

برادران ، شمارهٔ دوم مجله خواندنی منبع الجهاد امروز رسید ازیادآوری شما نهایت منت گزاریم ازین مجله استفاده واقتباس خواهم کرد ودوام این مراوده رامتمنی میباشیم.آدرس شما یك غنیمت است وباب مراوده ومفاهمه بین افغانهای امریکا وجبهات جهاد رامی گشاید بعدازین شماره های آئینه افغانستان رامسلسل خدمت تان ارسال خواهم کرد احترامات وتمنیات وتعظیمات مارابپذیرید .

با عرض حرمت

بندهٔ خدا سید خلیل الله هاشمیان

اوهمدارنگه دضلع اټك تحصیل پنډی څخه انصاروروربناغلی حسن دین دکرمی ایجنسی دتالو کنج له کیمپ څخه دشهید مولوی شامحمود خان دمدرسی ښوونکی ښاغلی الحاج برهان الدین «خوستی »دکوهاټ ضلعی ، هنگو تحصیل څخه زمونږ مهاجر وروربناغلی معلم شاه دپیښوردچارسدی دارالعلوم احناف څخه طالب العلم غزنوی دمجلی داداری په نوم لیکونه رالیږلی .

نوموړو دځپلو لیکونو په ترځ کی دمجلی کارکوونکو ته دسلام څخه وروسته دمجلی دعلمی محتوی اوصحافتی بڼی ستاینه کړی او پخپل وخت دمجلی ترلاسه کولو لپاره یی خپل-خپل آدرسونه هم ذکر کړي دي .

دمنبع الجهاد مجلی اداره اوکارکوونکی متقابلاً ددوی سلامونوته و علیکم السلام وایی ، ددوی احساس ته دقدر په سترگه گوری اوداد ورکوی چی انشأالله تردی وروسته به دوی ته په ذکر کړو آدرسونو مجله ور سیږی .

والسلام .

دخلیج روان ...

چی دفلسطین مسلی دحل لپاره خاصه پاملرنه وکړی ځکه چی دفلسطین مسله دحل کولو لپاره هلی ځلی دهر مسلمان فریضه ده

دجماعت اسلامی مشر وویل : موږ «صدام حسین »ته هم روښانه کړه چی که واقعاً د«اسرائیلو»سره جنګیدل غواړی نوټولو اسلامی نړی دی ترڅنګ ده خو اوس پر «اسرائیلو»دحملی کولووخت نه دی باید لومړی کویت خوشی کړی بیا په اسرائیلو دحملی کولو تیاری ونیسی ، ددی لیدنو په ترځ کی یوه عراقی لوړرتبه صاحب منصب هم موږ ته وویل: دعراق (۷۰) فیصده خلك غواړی چی په مناسب وخت کی پر «اسرائیلو»حمله وشی

قاضی حسین احمد په پای کی زیاته کړه : اسلامی غورځنګونه پدی خبره متفق دی چی پدغه مسله کی مداخله دمنلو وړنه ده په دی خاطر سعودی عربستان د امریکایی پوځونوموجودیت ډیر خطرناك دی عربستان کوم عام هیواد نه دی هلته زموږ کعبه ده اودهغی ساتنه پر ټولو مسلمانانو فرض ده په دی خاطر موږ زیات پردی مسلی ټینګار وکړ چی هر څومره زرکیږی باید له دی سیمی څخه امریکا یی پوځونه ووځی

دکلاسنوست ...

د افغانستان ددرد ناکی مسئلی په باب دروس په مقابل کی خول نرم سیاست غوره کړی دی. خو که چیری د غرب داشیوه او تګ لاره نوره هم دوام وکړی زیات ترخه او نه جبران کیدونکی حوادث به رامنځ ته کړي .

افغانان به پرخدای باندی په اتکاکولو سره دخپلی خوښی اسلامی دولت خامخا پخپله جوړوی خو خپل دوستان او دښمنان به په دی دوینو د طوفانونو په بهیر کی دیواویل څخه جلا اوښه وپیژنی .

په نتیجه کی باید وویل شی چه روسی استعمار گران خپل کرغیړنی څیریی د وخت او شرایطو سره سمی بدلوي امادهغوی ماهیت همغسي په خپل ځای ثابت پاته کیږی او که چیری د گرباچف نوی تګ لاره خپل بریالتوب ته ورسیږی ، بشریت ته به د تباهی او اسارت خطر نورهم زیات شی. نو د نړی ټول مسلمانان او واقعبین خلك او د افغانستان په اسلام او وطن مین ننګیالي او باتوران به دروسانو په هیڅ چل او فریب باندی تیرنه وزی او د خپل اسلام او وطن د خپلواکی دلاسه ته راوړلو اوساتلو په خاطر به شروع شوی جهاد جاری او د اسلامیت او افغانیت بیرغ به داسلام او افغانستان د آزادی مجاهدینو په وینو رنګ شوی خاوره باندی د تل لپاره رپانده وساتی .

سرطان سرح ...

پروردگار ش ،فرمانبردار ی افریدگارش واذعان به قوانین خداوندش است وراست فوموده است خداکه :

«فمن اتبع هدای فلا یضل ولا یشقی »

«پس کسیکه پیروی کندهدایت مرا ، پس نه گمراه شود ونه رنج کشد » سوره طه /۱۲۳

ابدي ژوندي

شهيدمحمد قاسم

دحق دلاري قرباني محمد قاسم دحسن خان زوي دلغمان ولايت دقرغه يي ولسوالي دباغ په کلي کي زيږيدلي اوپه قوم اسماعيل خيل ؤ.

نوموړي خپلي ديني زده کړې سرته نه وي رسولي ،چي په افغانستان کي کمونستان قدرت ته ورسيدل ، نوسمدستي يي خپلي زده کړي نيمګړي پريښودي او ددهريانو په مقابل کي يي په وسله وال جهاد پيل

په وسله وال جهاد پيل کړي او دجهاد په دوران کي يي دخوست په سيمه کي په ډيرو عملياتوکي برخه اخيستي چي په دغو عملياتوکي يي ملحددښمن ته زيات ځاني اومالي تاوانونه اړولي دي بالاخره دغه نوميالي مجاهد په ۸/۹/٦٤ نيټه دباك علاقداري داناركلي پوسته باندي دحملي په وخت دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

انالله وانااليه راجعون

شهيد عرب ګل

دحق دلاري قرباني عرب ګل دحاجي شربت خان زوي په ۱۳٤٥ هـ ش کال دپکتياولايت دباك علاقداري په چناركلي كي زيږيدلي ؤ .

نوموړي په ۱۳۵۸هـ ش کال دخپلي کورنۍ سره دپاکستان اسلامي خاوري ته هجرت کړي او په ۱۳٦۳هـ ش کال يي د مولوي ميردادترقوماندي لاندي وکړ

۸/۵/۱۳٦۸ نيټه دسلمان فارسي (رض) دغند

عملياتوکي برخه واخيسته ، بالاخره دغه زړه ور مجاهد په ۱۲/۷/۱۳٦۹ نيټه دپکتيا ولايت ددرمنکي په سيمه کي ددښمن دتوپ په مرمۍ ولګيد او دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

انالله وانا اليه راجعون

دشهید سورگل لند ژوند لیک

سورگل دبیرک زوی دوردگو ولایت دچك ولسوالی دخوات دگلدانو دکلی اوسیدونکی ؤ .

نوموړی په ۱۳۴۹هـ ش کال دی فانی نړۍ ته سترګې غړولې ،تراووم ټولګی پورې یې امبو خاک په ښوونځۍ کې زده کړه وکړه . په ۱۳۶۲ هـ ش کا ل کې یې دروسانو اودهغوی دمزدورانو پر ضد وسله وال جهاد پیل کړ .په ۶۸/۷/۲۶نیټه دسلمان فارسی(رض) دغنډ دمجاهدینو په ډله کی شامل شو

په ۱۳۶۹/۳/۸ نیټه د(۲۰) کالو په عمر برې ته نژدې دشلکا دپوستی نه په دفاع کی دزیږکی مرمۍ په وسیله دشهادت لوړمقام ته ورسید . «انا لله وانا الیه راجعون »

شهیدعبدالله خان

شهید عبدالله خان دطوطی زوی ؤ چی دوردگو ولایت دچك ولسوالۍ دعلي شاه دفرید دکلي اوسیدونکی ؤ .

نوموړی په ۱۳۴۴هـ ش کال کی زیږیدلی ؤ ، په ۱۳۶۱هـ ش کال کې یې دالحاد اوفساد پرضد وسله وال جهاد کی عملاً برخه واخیستله.

دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۶۸/۸/۳نیټه دسلمان فارسی (رض)دغنډ دمجاهدینو په ډله کې شامل شو.

بالاخره ۱۳۶۸/۱۰/۲۲نیټه د(۲۵) کالو په عمر دډرملکی په سیمه کی له دښمن سره په یوه مخامخ جګړه کی دشهادت لوړمقام ته ورسید. «انالله وانا الیه راجعون»



شهید سردارخان

سردارخان دامیرمحمد زوی دکندوزولایت دامام صاحب دولسوالۍ دشیرخان بندردکلی اوسیدونکی په قوم احمدزی ؤ.

نوموړی په ۱۳۶۴هـ ش کال دملحدینوپرضدوسله وال جهاد پیل کړ. دجهادپه جریان کې یې ډیروجهادي عملیاتو کې برخه واخیسته اوهرځل یې ددین اووطن دښمنانو ته مالی اوځانی تلفات ورواړول .

په ۱۳۶۸/۱۰/۱۴ نیټه دسلمان فارسی (رض) دغنډ دمجاهدینو په ډله کې شامل شو او په ۱۳۶۸/۱۰/۲۵نیټه په تورغر کی ددښمن دهاوان په مرمۍ دلګیدو له امله دشهادت لوړمقام ته ورسید . «انا لله وانا الیه راجعون »

شهید زربت خان

شهید زربت شاه دوزیرشاه زوی دپکتیا ولایت دځاځی میدان ولسوالی دتغری دکلی اوسیدونکی په قوم ځاځی ؤ

نوموړی په ۱۳۶۱ هـ ش کال کی دکفر اوالحاد پرضد وسله وال جهاد پیل کړی ؤ.

په ۱۳۶۹/۱/۵ نیټه دسلمان فارسی (رض) دغنډ دمیړنو مجاهدینوپه ډله کی شامل شو . په ۱۳۶۹/۳/۵نیټه دگورگوری ، شلکا اوچنار په سیمه دمجاهدینو دعملیاتو اوفتحی نه وروسته ددښمن .دابوس توپ دگولی په ذریعه دشهادت لوړمقام ته ورسید .
«انا لله وانا الیه راجعون»



شهید حکم خان

حکم خان دعباس خان زوی دوردگو دولایت دچك ولسوالی داله خیلو دکلی اوسیدونکی په قوم وردگ ؤ .

نوموړی په۱۳۶۱هـ ش کال کی دملحدینو پرضد وسله وال جهاد پیل کړ .

دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۶۸/۶/۲۹ نیټه دسلمان فارسی (رض) دغنډدمجاهدینو په ډله کی شامل شو ،پوره شپږ میاشتی یی دبیلا بیلو عملیاتو په ترڅ کی دښمن ته دسر اومال درانه تلفات ورواړول .

بالاخره د(۲۲) کلونوپه عمر په ۱۳۶۹/۲/۲۱ نیټه یی ددښمن دبم په ذریعه شهادت په برخه شو .

«انا لله واناالیه راجعون »



شهید دولی خان

شهید ولی خان دجانمیرزوی دپکتیا ولایت دځاځی میدان ولسوالی دبك دکلی اوسیدونکی په قوم بکرخیل ؤ .

نوموړی په ۱۳۶۱هـ ش کال دالحاد اوفساد پرضد وسله وال جهاد پیل کړی

په ۱۳۶۸/۸/۸نیټه دسلمان فارسی (رض) دغنډ دمجاهدینو په ډله کی شامل شو(۷)میاشتی یی ددغه غنډ له زړوروممجاهدینو سره یوځای پردښمن مرگونی گوزارونه وکړل .

بالاخره په ۱۳۶۹/۳/۵نیټه دبری په سیمه کی ددښمن دابوس توپ دگولی په ذریعه دشهادت لوړمقام ته ورسید . «انا لله وانا الیه راجعون»

شهید مظفر

شهید مظفر خان

دمربت خان زوی دپکتیا ولایت دخوست دلوبی ولسوالی دسرلندی دکلی اوسیدونکی په قوم صبری ؤ.

نوموړی په ۱۳٦٤هـ ش کال دروسانو اودهغوی دمزدورانو (خلقیانو اوپرچمیانو) پر ضد وسله وال جهاد پیل کړی ؤ.

په ۱۳٦۷/۵/۱۳نیته یی ځان دسلمان فارسی (رض) دغنډ په مجاهدینو کی شامل کړ (۱۳)میاشتنی یی ددغه غنډ له نورو زړورو مجاهدینو سره یوځای ددښمن په سر مرګونی ګوزارونه وکړل. بالاخره په ۱۳٦۸/۹/۱۹نیته د(۲٦) کلونو په عمر دبری په سیمه کی دهاوان دګولی په ذریعه دشهادت لوړمقام ته ورسید. «انا لله وانا الیه راجعون»

شهید محمد عطأ

شهید محمد عطأ

دمحمد اسلم زوی دبغلان ولایت ددوشی دولسوالی دلرخاو دکلی اوسیدونکی په قوم تاجك ؤ.

نوموړی په ۱۳٦۵ هـ ش کال دوسله وال جهادسنګر نه دنګلی دغه نومیالی مجاهدپه ۱۳٦۸/٦/۲۵ نیته دسلمان فارسی (رض) دغنډ دمجاهدینو په ډله کی شامل شوی ، تقریباً شپږ میاشتی یی دغنډ له نورومجاهدینو سره یوځای په جهادی عملیاتوکی ګډون کړی اوهرځل یی پوره میړانه ښودلی ده .

بالاخره په ۱۳٦۹/۱/۹ نیته د«تورغر»په سیمه کی ددښمن دتوپ دګولی په ذریعه شهید شو .

«انا لله وانا الیه راجعون»

شهید عمراخان

شهید عمراخان

دعصمت الله خان زوی دوردګو ولایت دچك ولسوالی دګوده دکرملی دکلی اوسیدونکی په قوم نبوزی ؤ .

نوموړی په ۱۳٦۵ هـ ش کال کی ددین اووطن ددښمنانو پر ضد وسله وال جهادپیل کړ.

په ۱۳٦۸هـ ش کال کی دسلمان فارسی (رض) دغنډ دمجاهدینو په ډله کی شامل شو څومیاشتی یی له نورو مجاهدینو سره یوځای پر ملحدینو مرګونی ګوزارونه وکړل. بالاخره دغه نومیالی مجاهدپه ۱۳٦۸/۷/۵نیته د(۲۰) کالو په عمر ددرملکی په عملیاتو کی ترفتحی وروسته دشهادت لوړمقام ته ورسید . «انا لله وانا الیه راجعون»

نومیالی قوماندان قاری لعل محمد شهید شو

منبع الجهادخبریال :

په ډیری خواشینۍ سره مو خبر واخیست چې دالحاج مولانا جلال الدین حقانی دجبهاتو یو نومیالی قوماندان قاري لعل محمد په شهادت ورسید . (انا لله وانا الیه راجعون)

دشهید قوماندان لنډ پیژندلیک :

دحقی لاری دنومیالیومجاهدینو په ډله کی چی خاص دخدای (ج) درضا اواعلای کلمة الله په خاطر یی دالحاد اوفساد پر ضد وسله واله جهاد پیل کړی ؤ،یو هم قاری لعل محمد دوزیرستان دوانه سیمی اوسیدونکی ؤ .

نوموړی داکوړه ختك په حقانیه مدرسه کی خپله زده کړه سرته رسولی وه، دپوره اسلامی پوهی اوبصیرت خاوند ؤ .



کله چی په افغانستان کی دکفر اوالحاد پر ضد وسله وال جهاد پیل اواسلامی هیواد پاکستان ته دمهاجرینو بهیر رامات شو قاری لعل محمد نه یوازی داچی دخپلو مهاجرو افغانانو ورونوسره دهرډول مرستی اوملاتړ لپاره چمتو شو دخپلی اسلامی اوایمانی جذبی له مخی یی دکفر اوالحاد پر ضد عملاً په وسله وال جهاد کی برخه هم واخیسته .

دوسله وال جهاد په جریان کی یی دپکتیکا او پکتیا ولایتونو په ډیر و جهادی عملیاتو کی ګډون کړی او دده پوهی ، تدبیر اومشوروپه اساس دمجاهدینو ډیر بریالیتوبونه په برخه شوی دی .

نوموړی خپل ژوند دجهادمجاهدینو اوولس دخلکو خیرښیګنی لپاره وقف کړی ؤ .

بالاخره دغه نومیالی مجاهدپه ۱۳۶۹/۸/۲۶ نیټه دشنبی په ورځ په خپله سیمه وانه کی شهید شو .

موږپه داسی حال کې چی دنوموړی شهادت دجهاد ومجاهدینو لپاره یوه ستره ضایع بولو ، شهید ته دلوی خدای (ج)په دربارکی دمغفرت، کورنۍ ، خپلوانو اوخواخوږیو ته یی دجمیل صبر غوښتنه کوو اوځان ورسره په دې ستر غم کی شریك ګڼو .

بسم الله الرحمن الرحیم

ارشادِ نبویؐ

ترجمه: از ابن عمر رضی الله عنهما روایت است که :

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود : مسلمان برادر مسلمان است بر او ظلم نمیکند او را به دشمنش تسلیم نمیدهد . کسی که درصدد بر آوردن نیاز مندی و حاجت برادرش باشد خداوند (ج) ، در بر آوردن حاجتش یاریش می نماید . وکسی که مشکل مسلمانی را حل کند ، خداوند (ج) در برابر آن مشکلی از مشکلات روز قیامت او را می گشاید وکسی که عیب مسلمانی را بپوشاند خداوند (ج) ، در روز قیامت عیب او را می پوشاند .

"بخاری، ومسلم"

د عبدالله بن مبارک (رض) د حربي پوهنتون محصلين د پوځي تمرينانو په حال کې